# د طورو د يو عالم دين عنايات

# يو څو خاطرې



**اسرار د طورو**




## چاپ کتابونه

| | | |
|---|---|---|
| ۱. | امام اعظم (نثر) | ۱۹٦۵ء |
| ۲. | دَ حرمينو سفر (نثر) | ۱۹۸۸ء |
| ۳. | دَ قرآن پاک دَ آيتونو شمېر (نثر) | ۲۰۰٦ء |
| ۴. | ادبي هڅې. يو ژوندے تصوير (نثر) | ۲۰۰٦ء |
| ۵. | دَ کابل سفر (نثر) | |
| ٦. | زما کتاب (دَ ماشومانو دَ پاره نظمونه) | ۱۹۸۸ء |
| ۷. | لاله زار دَ پرهرونو (منظوم کلام) | ۲۰۱۳ء |
| ۸. | اسرار سره دَ ضياء لطفي مرکه (ژوند ليکنه) | ۲۰۱۵ء |
| ۹. | ختم المرسلين (نعتيه کلام) | ۲۰۱٦ء |
| ۱۰. | نوراني نغمې (منظوم کلام) | ۲۰۲۰ء |



مولانا عنایت الله د طورو





مولانا عنایت الله د طورو 1910 -1995

## د طورو د یو عالم دین عنایات
## یو څو

# خاطرې

## اسرار د طورو

**بخارا ثاني علمي ادبي مرکز، طورو- مردان**


بسم الله الرحمن الرحیم

ټول حقونه محفوظ دي

د کتاب نوم: یو څو خاطرې

لیکونکے: اسرار د طورو (0333-9858025)

isrardatoru@gmail.com

ترتیب او انتخاب: سید افضل شاه او سید راشد علی

اهتمام: شاه سعود طورو

کمپوزر: سلېمان کامل

د چاپ کال: اکتوبر2020ء

شمېر: 1000

خورونکي: بخارا ثاني علمي ادبي مرکز،طورو- مردان

ویب پاڼه: www.writersclubpk.com

درکونه: شاه سعود طورو، ګلي نمبر1 ، باغ کالوني
چاټو چوک۔مردان

مکتبه احرار، چارسده روډ ،
شکیل کمانی میکرمردان
0321-9872067

د چاپ ځائے: عامر پرنټ اېنډ پبلشرز، پېښور

# تړون

د هغه سپېڅلو په نامه
د چا د مينې انوار
چې تر اوسه زما په ذهن کښې محفوظ دي
او ما ته په نېغه لار تلل اسانوي

## ترتيب


1. د طورو بخارا ثاني تاريخ ساز شخصيت ـ عبدالسبحان سبحان
2. د خاطرو خاطره ــ سيد افضل شاه 14
3. داغ هائے سينه 17


## خاطرې


تا وګټله او ما بائيله 34
ستاسو د بچو خير 37
د ختم نبوت مسئله 39
د مېلمه قدر 43
د مقروض جنازه کول 45
مطل او غنی 46
لوستل او عمل 48
مشر د قوم خدمت ګار وی 49
د خدائے او رسول احکام 51
درسِ قران 54
زمونږ د قوم څه کردار دے 57
د سامری ذکر 59
د استاذې بي بي ياد 62
د قرآن کريم ګراني نکتې 64
خوږه ګيله 69
د يادونو ډيوې 71

| | |
|---|---|
| د حضرت موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام قیصه | 76 |
| د سیرة النبی ﷺ بیان | 80 |
| حضرت حسین احمد مدنی رحمه الله امتحان واخست | 87 |
| اړے ګړے دے | 90 |
| یو معتدل انسان | 92 |
| مولانا صاحب او موکولیکا بېنرجي | 94 |
| طورو کلے د خانه جنګئ نه بچ شو | 96 |
| د مولانا نوم | 98 |
| د بخښنې اخلاق | 102 |
| د استاد مینه او توجه | 110 |
| په بابړه ګولئ نه ورومو | 113 |
| د طورو د میا په یاد کښې | 116 |
| زنانه ستا سو د حیا جامه ده | 119 |
| ته نظریه پاکستان نه منې | 123 |
| فقیر ایپي او جرنیل عبدالرحمان بیتهنی | 128 |
| د میرټه جلسے ته تګ | 131 |
| بخاري شریف | 137 |
| د باچاخان رحمه الله یاد | 145 |
| صلح مصالحت | 148 |
| مسلمانان په خپلو کښې ورونه دي | 154 |
| "داجي ..... په جېل کښې" | 162 |
| د جیل نه خطونه | 181 |




## د طورو بخارا ثاني تاریخ ساز شخصیت
## مولانا محمد عنایت الله صاحب دام ظله

تاریخ ګواه دے چې د دنیا په کومه خطه یا سیمه کښې چې کله هم په اسلام او مسلمانانو د ازمېښت وخت راغلے دے نو علمائے حق په سرونو کفنونه تړلي دي او په خپل مجاهدانه عملي کردار ئې د اسلام عزت او لاج ساتلے دے او د کفر د تیارو نه او د فکر د موج دار سمندر نه ئې د ملت اسلامي ډوبه کشتئ ساحل ته رسولې ده۔

علمائے حق صرف د ګفتار یا د قلم غازیان نه بلکې په سخت وخت کښې توره په لاس د جهاد بالسیف فریضه هم ادا کړې ده او د شهید او غازي په حېثیت ئې په خپلو وینو تاریخ لیکلے دے۔

د 1857ء د جنګ ازادئ تاریخ هره پاڼه د علمائے حق په وینو سره ده او خپل ځانونه مالونه او بچي ئې د اسلام د سرلوړئ د پاره قربان کړي دي۔ د پاك و هند په تاریخ کښې د داسې علما برحق نومونه سرفهرست دي چې د وطن د ازادئ او د اسلام د سرلوړئ په خاطر په تخته دار ختلي دي جلاوطنئ، جیلونه، زندانونو ئې حوصلې نهٔ دي کمزورې کړے۔ د تورو اوبو یعنې کالا پانی د جزیرې انډومان چپه چپه د هغې صبر او استقامت، شجاعت جذبه اسلامي، جذبه ازادي ګواهي ورکوي۔

د کالا پاني پل پل د مولانا محمودالحسنؒ شيخ الهند نه واخلې مولانا حسين احمد مدنيؒ، مولانا عزيرګل کاکاخېلؒ، باني دېوبند مولانا قاسمؒ نانوتوي، مولانا رشيد احمد ګنګوهي، سيد انور شاه کاشميري، مولانا مملوك عليؒ، مولانا ثناالله ؒ پاني پتي، مولانا اشرف عليؒ تهانوي، مولانا شبير احمد عثمانيؒ او نور بې شمېره علمائے حق چې ټولو د مولانا امداد الله مهاجر مکي نه بېعت کړے وۀ د تاريخ هغه ازمريان دي چې په کارنامو ئې فرنګے هم ګواه دے۔ دې سره سره مولانا محمد علي جوهر، مولانا شوکت علي هم د تاريخ ځلنده ستوري دي۔ په دې د مردان د طورو د علمائے حق کردار هم لکه د نمر ځرګند دے چې په تاريخي لحاظ ورته بخارا ثاني وئيلے کېږي۔

خو دا د تاريخ الميه ده چې د علمائے حق د مقدسې طبقې سره په هر دور د دنياوي لالچ په خاطر علمائے سؤ ټوله هم موجود وي۔ تاريخ د دې خبرې ګواه دے چې علمائے حق د تاج برطانيه خلاف د اسلام د سربلندۍ او د وطن د ازادۍ د پاره خپل سرونه په تلو کښې اېښي دي بلکې د دار په تخته هم د الله اکبر نعرې ئې وهلي دي خو د دې برعکس علمائے سؤ د زرو او جواهرو د پاره د اقتدار او دولت په خاطر د مذهبي احکاماتو او د شرعي قوانينو داسې تعبيرونه راوېستلي دي چې حاکم وقت ته ئې ظِل الله او ظلِ سبحاني القابات ورکړي دي۔ د فرنګي حکومت او دور ته ئې دورِ رحمت وئيلي دي۔ د سيد غوث سيد عبدالغفور باچاؒ د



جنګِ امبېله نه راواخله جهاد ملاکنډ چې د هډې بابا نجم الدينؒ په قيادت او د ترنګزو باباجيؒ په سپه سالارۍ کښې چې ټولو پښتنو په کښې قربانۍ ورکړي دي، چې په کښې د اسرار صاحب يو نېکه مولانا محمد اسرائيل هم شامل وۀ او د هډې بابا خليفه وۀ ، د عمرا خان جندول، د غازي امان الله خان د ازادۍ جنګونو ته علمائے سؤ فساد وئيلي دي۔ د غازي امان الله خان په مقابله کښې د انګرېزانو اېجنټ شوکمار ډاکو بچه سقه ته ئې د خادم دين رسول اللهﷺ القابات ورکړي دي خو علمائے حق د مسلمانانو رهنمائي کړې ده او نېغه لار صراط مستقيم باندې د تګ لار ښودنه ئې کړې ده۔

حاجي ترنګزو باباجيؒ د سورکاوۍ رستم د جهاد نه واخله په اوويشت جهادونو کښې د پښتنو غازيانو د بدروحنين د معرکو ياد تازه کړے دے۔ د انګرېزانو د ګائيډ رسالې ئې تباه کړې دي۔ هر يو جهاد ئې فرنګي له غاښ مات کړي دي۔ د فرنګي حکومت چې نمر په کښې نۀ ډوبېدۀ، هغوي سره جهازونه، ټېنکونه، توپې، رسالې او په نوې اسلحه مسلح وو، بل طرف ته د حاجي ترنګزو باباؒ غازيانو سره پټاخ دار ټوپکې وې خو جذبه ايماني دومره وه چې هر ځل د فرنګي حکومت ماتې خوړلې ده او د صلح درخواست ئې کړے دے۔ د باباجي ملګري ساده باده پښتانۀ په ايمان مضبوط علمائے حق وو او بل طرف ته د فرنګي برېسي مراعت يافته نوابان جاګيردار وو او علمائے سؤ ئې هم ملګري وو۔ علمائے سؤ د انګرېز خلاف د جهاد متعلق دا

فتوىٰ ورکړې وه چې د اسلام بادشاه یا خلیفه څو پورې فتوىٰ د جهاد نهٔ وي کړې نو دا فساد دے نو دا کار هم باباجیرح علمائے حق ته سپارلے وهٔ چې حضرت مولانا محمود الحسن ؒ او مولانا عبېدالله سندهي ؒ ئې مشري کوله او دغه تحریك ته رېشمي رومال تحریك وئیلے شي۔

په ابتدا کښې هم حاجي صاحب د ترنګزو باباجي ؒ په ورکوټوالي کښې د قران تعلیم د مولوي حمیدالدین نه حاصل کړے دے او د هغه وخت مشهور عالم دین مولانا ابوبکر اخونزاده ؒ نه ئې بنیادي اسلامي تعلیم حاصل کړے دے او هم د اخونزاده صاحب ؒ نه ئې د قران عظیم د تعلیم تفسیر سره د فارسۍ عربۍ بنیادي کتابونه لوستي دي۔ د هغې نه پس د تاکال دارالعلوم ته علم حاصلېدو له تلے دے او شپږ کاله ئې هلته سبق زده کړے دے۔

کله چې په 15 محرم 1283ھ کښې د دېوبند بنیاد کښېښودے شهٔ نو په ټول پاك و هند کښې د هغې اسلامي دارلعلوم شهرت وشهٔ نو د ټولو مسلمانانو طالب علمانو شوق وهٔ چې دېوبند ته لاړ شي۔ په دغو کښې د طورو علماء هم وو۔ شېخ الهند مولانا محمود الحسن ؒ هلته نوے نوے مدرس لګېدلے وهٔ نو حاجي صاحب ترنګزي هم دېوبند ته لاړ چونکې حاجي صاحب ؒ د پښتنو طالبعلمانو سره هلته پښتو وې۔ عمر کښې هم د شېخ الهند نه لږ سبوا وهٔ۔ اهلِ رسول ﷺ وهٔ نو ټولو طلباء به ورته پیر بادشاه وئیل او شېخ الهند هم د حاجي صاحب د



شخصیت اوچتو اخلاقو او کردار نه متاثره وهٔ ډېر عزت به ئې ورله کولو۔ په دې دوران کښې د علمائے هند یوه قافله د حجِ بېت الله د تللو اراده او نیت کړے وهٔ نو حاجي صاحب ؒ هم فېصله وکړه چې دې قافله کښې د حج سعادت حاصل کړي۔ اول خو د حاجي صاحب د اجمیر شریف د تللو نیت وهٔ خو چې د حج پروګرام او نیت ئې وشهٔ نو واپس ترنګزو ته راغے، زادِ راه ئې ځان سره واخستهٔ دوباره دېوبند ته ئې تشریف یوړهٔ او وړوکي اختر یعني د شوال په میاشت کښې 1294ء کښې د بزرګواران دېوبند په قافله کښې حج له روان شهٔ۔ د قافلې سالاران مشران مولانا قاسم نانوتوي ؒ او مولانا رشید احمد ګنګوهي ؒ وو۔ د حاجي صاحب عمر دغه وخت 32 کاله وهٔ۔ شېخ الهند د ټولو علمائے کرامو سره د حاجي صاحب ؒ تعارف او پېژندګلو وکړه۔ دا قافله چې کله مکې معظمې ته ورسېده نو اهلِ قافله د حاجي امداد الله مهاجر مکي ؒ دیدار له لاړل، حاضر شو او د هغهٔ په لاس حاجي صاحب ؒ او ټولو علمائے حق د جهاد بیعت وکړهٔ۔

زهٔ خپل مقصد ته واپس راځم چې په دې جنګ ازادۍ کښې د طورو یو ځانګړے کردار د حاجي صاحب ترنګزو شجره نسب (قلمي نسخه) مولانا عبدالرشید بن مولانا عتیق الله هم د طور وهٔ چې په 1379ء ئې تالیف کړې ده او بل مولانا ایوب خان د طورو د ترنګزو د حاجي صاحب ؒ خاص مددګار وهٔ، لوئے عالم وهٔ او په لکړو کښې مجاهدینو سره دېره وهٔ۔ تاریخي لحاظ سره هم د طورو نوم ځلنده باب دے۔ تاریخ حافظ رحمت خاني

روهیلکنډ کښې ئې مولانا محمد علي جوهر او مولانا شوکت علي د طورو د شامت پور ثابت کړي دي.

د دغه طورو کلي سره تعلق لرونکي یو لوئے شخصیت پلار په نیکهٔ د دین او اصلاحِ ملت او تبلیغ دین او مسلمانانو ته د نېغې لار ښودنه کړې ده چې په هغې کښې مولانا عنایت الله د خپلو اسلافو او بزرګانو په نقش قدم قدم اېښے دے او د حق و صداقت او ازادۍ د پاره ئې د زندانونو سختۍ په ډال سینه برداشت کړي دي . په جهاد بالسیف کښې د حاجي صاحب ترنګزو ؒ سره د هغهٔ په قیادت کښې غزاګانې او جهادونو کښې برخه اخستې ده نو بل طرف ته په خدائي خدمتګار تحریک کښې د حضرت باچا خان ؒ د صف اول په ملګریو کښې وهٔ .
مولانا عنایت الله ؒ د طورو په هغه عالمانو کښې وهٔ چا چې د ملك و ملت د خدمت د پاره د شیخ الهند مولانا حسېن احمد مدني ؒ، سید انور شاه کاشمیري ؒ،مولانا قاسم نانوتويرح، مولانا رشید احمد ګنګوهي ؒ او د مولانا شبیر احمد عثماني ؒ غوندې علمائے حق په قدمونو قدم اېښے وهٔ. په دې عالمانو کښې مولانا مفتي محمود ؒ، مولانا عنایت الله ؒ د طورو او مولانا سید ګل بادشاه ؒ، مولانا میاګل جان ؒ، مولوي شاه منصور بابا ؒ د رڅړو صاحب حق صاحب غوندې اکابرین شامل وو .

مولانا عنایت الله ؒ د طورو او د بره ذکر شوو علمائے حق چې د ډېرو نومونه چې ما درج نهٔ کړے شو خپله مثال په خپله دي. ځان ځان له یو یو مکتب یو یو پوهنتون دے.



داسې سترو هستو او د دستار علمائے حق پسې اوس سترګې لیدو له ترسېږي خو دا هستۍ په زړونو کښې شته په زمکه نشته. البته افکار ئې ژوندي دي. کردار ئې د تاریخ حصه ده خو د بعضې خوش قسمته علمائے حق اولاد د هغوي په پل پل اېښے دے. د هغوي د علم هغه مشال تتېدو ته نهٔ پرېږدي په هغو خوش قسمتو کښې چې نن زمونږ موضوع بحث دے مولانا عنایت الله ؒ خدائے بخښلي دوه زامن اسرار د طورو صاحب او شفق صاحب د هغوي کردار خپل کړے دے او د علم ادب تبلیغ د پاره ئې ځانونه وقف کړي دي چې نن پرې نهٔ صرف طورو مردان بلکې ټول پښتانهٔ د هغوي کار او زیار نه مطمئن دي او د هغوي د عمر او ښهٔ صحت دعاګانې د الله نه غواړي. د یو دانشور قول دے چې بعضې خلق الله پاك د مور نه عظیم پېدا کړي وي، بعضې په خپل خدمت، جدوجهد باندې عظمت موندلو کښې کامیاب شي او په بعضو باندې هسې عظمت وتپلے شي لکه د موجوده وخت د سیاست دانو . نو مولوي عنایت الله طورو الله پاك عظیم پېدا کړے وهٔ او بیا د علم حاصلولو نه پس په عملي ژوند کښې د جبر او غلامۍ زنځیرونو شلولو د پاره په خپله په زندانونو کښې زنځیرونه لاسو پښو ته ورله واچولي شو خو د دغې مردِ مجاهد عالم برحق ضمیر نهٔ دولت نهٔ لالچ ته سر ښکته کړهٔ نهٔ د وهلو ټکولو جېلونو سختو د هغوي اعصاب کمزوري کړے شو بلکې هغه فولادي شخصیت لکه د کږه مار د غر په خپل اصولو قائم پاتې شهٔ او دا هر څهٔ ئې د الله پاك د خوشنودۍ حاصلولو د پاره کول.

مولانا عنايت الله د طورو د يو ذات نه د يو داستان د يو تاريخ د يو زمانې دنوم وهٔ چې د اردو هغه مثال دے:

*جسے سنا گیا دیکھا نہیں دہرایا گیا لیکن اب پڑھایا جائے گا کہ وہ خاک میں مل کر کیمیا بن گیا*

هغه اوس صرف عالم نه علم جوړ شوے دے چې حاصلولو له درسګاه ئې جوړول غواړي ـ کتابونه پرې ليکل غواړي ځکه چې د مولانا عنايت الله نه ضلع مردان محرومېدل او د پښتونخوا محرومېدلو مونږ د ډېر څهٔ نه محروم کړو ـ اوس زمونږ ملي او مذهبي فريضه ده چې د هغوي افکار خپل کړو، د هغوي تصانيف نهٔ صرف سينو پورې ولګوو بلکې سينې پرې روښانه کړو او دعا د الله نه هر وخت غواړو چې لويه خدايه ژوند کښې چې کوم تکليفونه صعبتونه ستا د رضا د پاره په ځان تېر کړي دي د هغې په توسل اولاد ئې، خاندان ئې په هغه صلاحيتونو مالا مال کړې او مونږ هم خريداران يوسف عَلَيْهِ السَّلَام کښې شمار کړې چې ستا او ستا د محبوب ﷺ يو عاشق باندې مو څو کرښې ليکل وکړل، په خپل دربار کښې قبول کړې او مونږ له اجر د دارينو راکړې، آمين

عبدالسبحان سبحان

کړه مار مئېنه، پار هوتي مردان

23م جون 2020ء



# د خاطرو خاطره

د هر انسان په ژوند کښې ډېر يادونه وي، خوارهٔ تراخهٔ ، د خپلو پردو، دوستانو، دوشمنانو، څهٔ کښې سبق وي، څهٔ کښې عبرت او څهٔ کښې تجربه وي ـ يادونه د ژوند لار سموي تګ اسانوي ـ يادونه کهٔ خوارهٔ وي کهٔ تراخهٔ وي حوصله پېدا کوي، لويه سرمايه ده ـ د صلاحيت خاوندان ئې محفوظ کړي ـ راروان نسل ته ئې وسپاري او هغوي ترې د حال او مستقبل د پاره رڼا اخلي ـ

محترم اسرار د طورو هم هغه باصلاحيته شاعرانو اديبانو کښې يو دے چې د خپل مرحوم و مغفور عالم فاضل خدائي خدمت ګار شفيق او مهربان پلار مولانا محمد عنايت الله يادونه ئې راټول کړل او په ساده روانه او اسانه ژبه کښې ئې د خپل اولس د پاره محفوظ کړل چې مونږه ته ترې د هغوي د علميت، انسان دوستۍ، راستۍ، فهم او فراست او سياسي بصيرت اندازه په اسانه لګي چې هغه څومره لوے عالم او لوے انسان وهٔ ـ

دا يادونه اوس يادګار شو ـ دا يادونه د يو عام کس ياداشتونه نهٔ دي ـ په دې مختصر مګر جامع ليکونو کښې ډېر څهٔ شته خو د انا چشمې د سترګو نه کوزول پکار دي او په دې کتاب نظر انداز کول نهٔ دي پکار چې دا خو د فلانکي ذاتي خبرې دي ـ دې کښې د چا څهٔ دلچسپي ده ځکه چې دا ذاتي

خبرې نهٔ دي۔ دا د قران او حدیث خبرې دي۔ د پښتون اولس د معاشي او سیاسي کړمو خبرې دي۔ دا د هغه انسان خبرې دي چې زړهٔ به ئې هر وخت د خپل اولس د خېر ښېګړې، خوشحالۍ او سوکالۍ د پاره بې قراره وهٔ۔

یو مضمون په کښې ''داغ هائے سینه'' د عنوان لاندې په اردو ژبه کښې لیکلے شوے دے۔ دا غالباً چرته چاپ شوے هم دے۔ په دې مضمون کښې د مولانا صاحب د پلار نیکهٔ د ذکر سره سره د دوي د ژوند، د پېدائش نه تر وفات پورې حال احوال بیان شوے دے او دا چې علم ئې کوم کوم ځائے کښې حاصل کړے وهٔ او په دې دوران کښې کومو کومو مشکلاتو سره مخ شوے او د کومو کومو علماو په صحبت کښې پاتې شوے وهٔ۔ د دې سره سره د مولانا صاحب سیاسي ژوند، د خدائي خدمتګار تحریك سره تعلق، د انګرېز خلاف د ازادۍ په تحریك کښې هلې ځلې هم په مختصر خو جامع انداز کښې بیان شوي دي۔

دا خاطرې واړهٔ واړهٔ مضامین دي چې اسرار صاحب په کښې څهٔ د خپلې حافظې په زور لیکلي دي۔ څهٔ په کښې د مولانا صاحب د ډائرو نه نقل کړي شوي دي۔ په دې کښې دیني مسائل هم راوړے شوي دي چې مولانا صاحب د قران پاك په درس کښې په جلسو کښې په غم ښادۍ کښې د عوامو په ژبه عوامو ته په دلچسپ انداز کښې ګرانې نکتې حل کولې چې بېخي نالوستي خلقو به ترې هم فېض حاصلولو۔ د مولانا صاحب د علم او شفقت عالمان او عامیان یو شان معترف وو۔



د دې لیکونو نه مونږه ته معلومه شوه چې مولانا صاحب د اولس په غم څومره غمژن وهٔ چې تر اما کما به صلح او مصلحت د پاره خلقو پسې ګرځېدهٔ او د خلقو دشمنۍ به ئې په دوستۍ بدلولې۔ مولانا صاحب د باچا خان نه ډېر متاثر وهٔ۔ د هغوي د قافلې کلك ملګرے او رېښتنے خدائي خدمتګار وهٔ۔ د خپل سیاسي ژوند واقعات ئې په خپلو ډائرو کښې لیکلي دي۔ وخت په وخت ئې د قېد و بند صعبتونه هم برداشت کړي دي۔

د باچا خان د عدم تشدد د فلسفې مبلغ وهٔ او دا به ئې وئیل چې د صبر او ښکلي اخلاقو دا فلسفه اسلامي او قراني ده۔ اګر چې په دې لیکونو کښې تکرار هم شته۔ څهٔ خبرې او څهٔ واقعات تکرار شوي دي خو د اسرار صاحب انداز بیان دومره خوږ او زړهٔ راښکونکے دے چې دا تکرار هم لوستونکي نهٔ ستومانه کوي۔

د مور پلار سره مینه او عقیدت یو فطري عمل دے خو مور پلار په ښهٔ الفاظو یادول او د هغوي د پاره دعا کول یو لوے سعادت دے او د دې سعادت حق اسرار صاحب په احسنه طریقه ادا کوي۔ الله تعالٰی دې ورله اجر ورکړي او د مولانا صاحب درجات دې نور هم اوچت کړي۔ اٰمین۔

سید افضل شاه

قصرِ سادات هوتی مردان

22فروري 2020ء

# داغ ہائے سینہ

مولانا عنایت اللہ طوروی رحمۃ اللہ علیہ

گاہے گاہے بازخواں ایں قصہ پارینہ
تازہ خواہی داشتن گر داغ ہائے سینہ

## طورو:

ہوتی مردان کے نواح میں طورو ایک مشہور قصبہ ہے، جسے اپنے نامور علمائے کرام کی وجہ سے ''بخارا ثانی'' کا نام دیا گیا ہے۔ اس خوش نصیب قصبہ میں قبیلہ یوسف زئی کے بزرگ خوانین کے علاوہ آمو خیل، زید خیل، صدیق خیل، موسیٰ خیل، کمہار، ماندروی، صاحبزادگان اور حسنی سادات کے گھرانے آباد ہیں۔ ان خاندانوں کے اپنے محلے اور حجرے ہیں اور قدیم عرصہ سے دوسرے پختونوں کی طرح عمومی طور پر زراعت سے تعلق رکھتے ہیں۔

## حسنی سادات:

طورو کے عبدالعزیزی حسنی سادات میں گیارہویں صدی ہجری میں ایک صاحب گزرے ہیں جنہیں اہل علم شیخ نور محمد المعروف بہ اخوند یونس گیلانی کے نام سے جانتے ہیں اور جو اپنے علاقے میں خاوؤ بابا رحمۃ اللہ علیہ کے لقب سے یاد کئے جاتے ہیں۔ ان کا مزار طورو سے تین میل کے فاصلے پر مغرب کی طرف موضع خاوؤ میں موجود ہے۔ آپ ایک بڑے صاحب طریقت بزرگ اور مجاہد تھے، جنہوں نے گردوپیش کے علاقے میں نہ صرف علم و عرفان کی روشنی پھیلائی بلکہ دیر کے کوہستانوں میں اسلام کی اشاعت کے لیے جہاد بھی کئے۔ آپ کی اولاد



میں نسل در نسل بڑے علماء و ادیب اور حفاظ پیدا ہوئے جو پختونخوا کے علاوہ بلاد ہند و اقطار، افغانستان وغیرہ میں علوم اسلامیہ کی تعلیم و تدریس کا فریضہ انجام دیتے رہے۔

انیسویں اور بیسویں صدی عیسوی میں خاوؤ بابا کے خاندان میں حضرت مولانا سید حفیظ اللہ صاحب نور اللہ مرقدہ کے پانچ بیٹوں، حضرت العلامہ سید محمد اسرائیل شہید، حضرت مولانا سید محمد اسحاق صاحب، حضرت مولانا سید محمد اسماعیل صاحب، حضرت العلامہ سید محمد عبدالجمیل صاحب اور حضرت مولانا حافظ عبدالجلیل رحمۃ اللہ تعالیٰ اجمعین نے علوم دین کے تمام شعبوں میں بڑا نام پیدا کیا۔

## حضرت علامہ عبدالجمیل صاحب:

ان نامور بھائیوں میں حضرت العلامہ حافظ عبدالجمیل صاحب نے بیسوں علمائے کرام سے علوم اسلامیہ کا اکتساب کیا اور صوبہ سرحد و بلاد ہند کے بزرگان سے فیض حاصل کیا اور آخرکار حضرت العلامہ محمد لطف اللہ علی گڑھ کی درسگاہ میں پہنچے، جہاں کئی سال تک مقیم رہے۔ علی گڑھ (بھارت) کے اس جلیل القدر عالم سے علوم و فنون کا درس لیتے رہے اور پھر ان ہی کے مشورے سے رام پور اور مدرسہ لطیفیہ دیلور مدراس میں صدر معلم کے عہدے پر فائز رہ کر خدمات انجام دیتے رہے۔ آپ نے مختلف اوقات میں ہندوستان کے مختلف دینی مراکز میں کام کیا۔ مدرسہ فتح پور دہلی میں صدر مدرس تھے تو ہندوستان کے مشہور عالم اور نابغۂ روزگار علامہ سید انور شاہ کاشمیری رحمۃ اللہ علیہ آپ کے شاگرد رہے اور جب محدث کاشمیری دارالعلوم دیوبند میں استاد تھے تو مولانا عبدالجمیل صاحب کے بھتیجوں حضرت مولانا لطف الرحمٰن صاحب اور مولانا

حافظ سید آمین الحق صاحب کے ساتھ محبت سے پیش آتے اور بقول مولانا آمین الحق صاحب فرماتے کہ "میرے استاد کی اولاد ہے"۔

## حضرت مولانا محمد عنایت اللہ:

حضرت مولانا محمد عبدالجمیل صاحب کے تین بیٹے تھے، مولانا محمد لطف اللہ فاضل دیوبند، مولانا محمد عنایت اللہ فاضل دیوبند اور حافظ محمد امانت اللہ رحمۃ اللہ تعالیٰ اجمعین۔ والد محترم مولانا محمد عنایت اللہ 1910ء میں بہ مقام طورو پیدا ہوئے، ناظرہ قرآن پڑھنے کے بعد والد کی غیر حاضری میں انہیں والدہ محترمہ نے اسکول میں داخل کرایا۔ طورو کے پرائمری سکول میں صاحبزادہ فضل الرحمٰن محترم عبدالطیف صاحب منی خیل اور مولانا محمد جی استاد صاحب شہید (مولانا فضل معبود صاحب) کے والد محترم آپ کے مشفق اساتذہ تھے۔ ان ایام میں آپ کے والد ہندوستان میں تھے۔ جماعت چہارم پاس کرنے کے بعد والدہ صاحبہ نے آپ کو حکیم احمد نور صاحب المعروف بہ طبیب ملا صاحب کے مدرسہ سراج الاسلام ہوتی (مردان) میں داخل کرایا۔ حکیم صاحب آپ کو "صرف" پڑھانے لگے۔ ان دنوں مدرسہ سراج الاسلام میں طورو کے حافظ سید احمد شاہ صاحب مرحوم قرآن پڑھانے پر مامور تھے۔ اس اثنا میں آپ کے والد صاحب ہندوستان سے واپس آئے تو گھر پر اپنے بیٹے کو پڑھانے لگے۔ لڑکپن میں بچے کھیل کود کی طرف راغب ہوتے ہیں۔ اس لیے ایک دن والد صاحب مولانا محمد عنایت اللہ کو اپنے بڑے بھائی مولانا محمد لطف اللہ نے سزا دی اور بابا جی نے بھی جھڑکا۔



## تعلیمی:

ناراض ہو کر والد صاحب نے اپنے گھر سے بیس روپے لیے اور قطبی اور کافیہ ساتھ لے کر دارالعلوم دیوبند کا ارادہ کر کے بلا اجازت چلے گئے۔ نوشہرہ پہنچے تو ریلوے اسٹیشن پر ایک بزرگ بصورت خضر ملے۔ انہوں نے بچے کو ہدایت کی کہ دارالعلوم دیوبند میں ان دنوں داخلے نہیں ملتے۔ نیز تم چھوٹے ہو اور دیوبند بہت دور ہے۔ جب کہ غرغشتو میں بڑے بڑے فاضل علماء موجود ہیں۔ پہلے وہاں جا کر پڑھو، پھر کوئی اور پروگرام بناؤ۔ انہوں نے موصوف کو غور غشتی کا راستہ بتایا۔ اٹک تک ان کی رہبری کی۔

## حضرت مولانا قطب الدین صاحب، غور غشتی کے درس میں:

آپ غور غشتی میں حضرت مولانا قطب الدین صاحب کے درس میں شامل ہوگئے۔ وہاں آپ کے والد صاحب کے ایک شاگرد مولوی عبداللہ (بنوں ملا) موجود تھے۔ انہوں نے والد صاحب مرحوم کا استاد گرامی سے تعارف کرایا اور طورو خط بھیج دیا کہ عنایت اللہ غور غشتی پہنچ آیا ہے اور میبذی اور ملاحسن کا درس شروع کیا ہے، مولانا قطب الدین مرحوم بقول والد صاحب عمر میں علامہ عبدالجمیل صاحب سے چھوٹے تھے اور حضرت مولانا لطف اللہ بن اسد اللہ علی گڑھ کے شاگرد رہ چکے تھے۔ اس لیے علامہ کے ساتھ ان کے تعلقات برادرانہ تھے۔

## امتحان اور انعام:

قیام غور غشتی میں والد صاحب کے نام باباجی کا خط آیا، لکھا تھا، پڑھنے کے لیے گئے ہو تو خوش ہوں، واپسی پر امتحان لوں گا۔ پاس ہو گئے تو وہ بیس روپے بھی معاف ہیں اور پانچ روپے ماہوار بھی دیا کروں گا۔ ناکام ہونے کی صورت میں ساری رقم لوٹانا ہو گی۔

غور غشتی میں نو ماہ گزار کر موصوف واپس آئے تو حسب وعدہ باباجی نے آپ کا امتحان لیا۔ پاس ہو گئے اور انعام کے مستحق قرار دیئے گئے۔ اس دوران ریاست سوات کے والی میاں عبدالودود صاحب نے آپ کے والد صاحب کو سوات آنے کی دعوت دی۔ علامہ نے دعوت قبول فرمائی اور بیٹے سے کہا کہ اب واپس غور غشتی جانے کی بجائے میرے ساتھ سوات جاؤ گے۔

## حضرت مولانا قطب الدین صاحب سے شاگرد کی عقیدت:

والد گرامی کو اپنے استاد قطب الدین صاحب سے بڑی عقیدت تھی۔ استاد محترم بھی نو مہینے کے اس شاگرد کو کبھی نہیں بھولے۔ دونوں میں ہمیشہ ایک ربط و تعلق تھا اور روحانی طور پر مولانا قطب الدین صاحب ان پر نظر رحمت و شفقت رکھتے تھے، آپ فرمایا کرتے تھے ''غور غشتی میں رہ کر میں مطالعہ کی طرف راغب ہوا اور پڑھنے کا ذوق و شوق پیدا ہو گیا''۔

سوات میں علامہ عبدالجمیل صاحب ولی عہد عبدالحق جہانزیب کے اتالیق تھے، گو ریاست ان کی عزت کرتی تھی اور عوام الناس آپ کے علم اور شاہی گھرانے سے وابستگی کی وجہ سے آپ کی قدر کرتے تھے۔ لیکن علامہ صاحب عالم، فاضل اور حساس آدمی تھے۔ جب کہ حکمران ریاست سوات ایک عام شخص تھا۔ اس لیے ان کی محفل میں علامہ کو سکون نہیں ملا۔



آٹھ سال تک آپ سوات میں رہے۔ کبھی طورو آجاتے۔ میرے والد صاحب نے وہاں باباجی سے تقریباً تمام مروجہ درسی کتب پڑھیں۔ بعض کتابیں آپ نے اپنے چچا مولانا سید محمد اسماعیل صاحب اور اپنے چچازاد بھائی حضرت مولانا لطف الرحمٰن صاحب سے پڑھیں۔

## حضرت مدنی رحمۃ اللہ علیہ نے آپ کو خصوصی سند عطا فرمائی:

والد گرامی نے حضرت مولانا حسین احمد مدنی کے نام ایک خط لکھا اور عرض کی ''میں نے جملہ درسی کتابیں اور احادیث نبوی ﷺ اپنے والد محترم حضرت العلامہ عبدالجمیل صاحب سے درساً پڑھی ہیں، بعض کتابیں مولانا محمد اسماعیل صاحب اور بعض مولانا لطف الرحمٰن فاضل دیوبند سے سیکھ لی ہیں لیکن میرا ارادہ ہے کہ دارالعلوم دیوبند آکر کچھ عرصہ گزاروں اور ان اسباق کو خوب ازبر کر لوں''۔

انہوں نے ان کی درخواست کو شرف قبولیت بخش کر دیوبند آنے کی اجازت دے دی۔ 1942ء میں حافظ محمد ادریس کے مشورہ سے آپ دیوبند چلے گئے۔ حضرت مولانا مدنی سے ملاقات ہوئی۔ انہوں نے موصوف کو چند دن اپنے پاس ٹھہرایا۔ دیوبند کے علماء علامہ عبدالجمیل سے واقف تھے۔ اس لیے حضرت مدنی نے میرے والد صاحب سے فرمایا ''جب آپ حضرت مولانا عبدالجمیل سے پڑھ چکے ہیں تو دوبارہ پڑھنے کی کیا ضرورت ہے''۔ انہوں نے والد صاحب کا برسرعام امتحان لینے کا عندیہ ظاہر کیا اور ایک دن سینکڑوں طلباء اور بعض اساتذہ کرام کی موجودگی میں حضرت مولانا عنایت اللہ سے مختلف کتب میں امتحان لیا اور ہر کتاب میں امیدوار کو طاق پایا۔ حضرت مولانا مدنی صاحب بہت خوش ہوئے۔ انہیں ڈھیر ساری دعائیں

دیں اور حضرت علامہ عبدالجمیل صاحب کے علمی مقام کی تعریف فرمائی۔ اس کے بعد انہوں نے اپنے ہاتھ سے دارالعلوم دیوبند کی اعزازی سند عطا فرمائی۔

## مجاہدین چمرکنڈ اور وزیرستان کے ساتھ رابطے:

والد صاحب نے جمیعت العلماء ہند، صوبہ سرحد کا رکن ہونے اور بعد میں خدائی خدمت گار تحریک سے تعلق رکھنے کی وجہ سے دن رات آزادی کے لیے جدوجہد کی، مجاہدین بونیر اور علاقہ مہمند کی انگریز دشمن قوتوں کے علاوہ آپ نے فقیر اپی کے ساتھ وزیرستان میں خفیہ رابطہ رکھا۔ یہ اس زمانے میں ایک خطرناک کام تھا۔ لیکن جدوجہد آزادی کے پروانے سب کچھ کر گزرنے پر تلے ہوئے تھے۔ آپ نے ہمیشہ رازدارانہ باتوں کو راز میں رکھا اور قائدینِ تحریک نے آپ کو جو بھی کام سونپا، آپ نے خلوص اور وفاداری کے ساتھ اسے انجام دینے کی کوشش کی۔

## درس وتدریس:

والد محترم سیاسی تحریکوں سے وابستگی کے باوجود درس وتدریس اور مطالعہ کتب سے بے نیاز نہ تھے۔ طورو میں علمائے دین کی ایک خاصی تعداد موجود تھی۔ والد محترم کے چچا مولانا سید اسماعیل صاحب، مولانا لطف الرحمٰن صاحب اور علامہ عبدالجمیل صاحب اپنے حجرے اور اپنے محلے کی مسجد میں طلباء کو مختلف علوم وفنون کا درس دیا کرتے تھے۔ ایک حلقۂ درس والد صاحب نے بھی قائم کیا۔



## جمیعت الابرار طورو:

ایک دن نامور شاعر اور استاد صاحبزادہ علی حیدر خاکسار کسی کام کے لیے علامہ عبدالجمیل صاحب کے حجرے میں آئے اور مختلف ٹولیوں میں بٹے ہوئے طلباء کو دیکھا جو مذکورہ صدر علماء کے ارد گرد پڑھ رہے تھے۔ انہوں نے تجویز پیش کی کہ کیوں نہ اس درس کو ایک منظم دارالعلوم کی شکل دی جائے۔ چنانچہ انہوں نے صاحبزادہ فضل الرحمٰن صاحب کا تعاون حاصل کیا اور محلہ خان خیلان طورو کے سربرآوردہ بزرگوں نے اس امر کی حمایت کی کہ مسجد خانخیلاں میں جمیعت الابرار کے نام سے ایک دینی مدرسہ قائم کیا جائے۔ ان بزرگوں میں خان درویش خان، خان اعظم خان، خان اسلم خان، خان ملکی خان اور خان تاج الملوک خان کے علاوہ بھی بعض لوگ پیش پیش تھے۔ مولانا عنایت اللہ مدرسہ کے مدرس اور ناظم تعلیمات مقرر کئے گئے۔ جب کہ 20 علماء کرام نے مدرسہ میں درس وتدریس کی حامی بھری۔ ان علمائے کرام میں علامہ عبدالجمیل صاحب، مولانا سید عبدالحنان صاحب، مولانا عبدالقدوس صاحب وغیرہ اپنی مثال آپ تھے۔ یہ مدرسہ تقریباً چھ سال تک قائم رہا اور دور دور سے تشنہ گان دین یہاں آکر علم کی پیاس بجھاتے رہے۔

## قوم وملت کا خادم:

والد صاحب نے ایک موقع پر فرمایا ''میں نے درس وتدریس اور سماجی فلاح وبہبود کے کام اپنے اوپر فرض کئے ہیں''۔ انہوں نے یہ فریضہ بڑی فراخ دلی اور محبت کے ساتھ ادا کیا۔ کبھی ان کاموں سے آپ تھکے نہیں۔ موت سے چند دن قبل باوجود نہایت نقاہت اور علالت کے، آپ باپیادہ چل کر طورو کے محلہ آموخیل کے ایک مصالحتی جرگہ میں شریک ہوئے اور

رحلت سے دو دن پہلے میری موجودگی میں ایک صاحب نے آکر آپ سے ایک خواب کی تعبیر پوچھ لی۔ آپ نے اس خواب کی تعبیر بتاتے ہوئے زیارۃ القبور اور توحید کے مسئلے پر دھیمی اور کمزور آواز میں مختصر الفاظ میں روشنی ڈالی اور قبر پرستی اور مشرکانہ حرکات کے انجام بد سے بچنے کی تلقین کی۔

## اپنے حجرے اور مسجد صدیق خیل میں:

مدرسہ جمعیت الابرار طورو، اراکین مدرسہ کے سیاسی اختلافات کی بناپر ختم ہوا تھا۔ نواب صاحب طورو کی خواہش تھی کہ گاؤں کا "مشر" ہونے کے ناطے یہ مدرسہ ان کی مسجد میں قائم ہونا چاہیئے تھا اور اراکین مدرسہ کا خیال تھا کہ اگر مسجد سے باہر دارالعلوم کے لیے مخصوص اراضی ملے تو مدرسہ منتقل کر دیں گے۔ پھر اراکین مدرسہ اور مدرسین میں سے اکثریت جمعیت العلماء ہند صوبہ سرحد اور خدائی خدمت گار تحریک سے وابستہ تھے۔ جب کہ خان درویش خان نے مسلم لیگ میں شمولیت اختیار کی۔ آپ ایک قابل شخص اور سماجی کارکن تھے۔ علی گڑھ کے فاضل اور بڑے ادیب تھے۔ قائد اعظم محمد علی جناح تک ان کی قابلیت کی شہرت پہنچی تھی اور انہوں نے تقسیم سے قبل خان درویش خان کو اپنے قیمتی وقت میں سے چند منٹ ملاقات کے لیے دیے تھے۔ ان کے علاوہ محترم نوابزادہ عزیزاللہ خان صاحب بھی مسلم لیگ میں شامل ہوگئے تھے۔ بہرکیف، سیاسی سرگرمیوں کی وجہ سے مدرسے کی تنظیم کی طرف بھرپور توجہ نہ دے سکے۔ مدرسہ نہ رہا۔ لیکن فرصت کی گھڑیوں میں مولانا صاحب نے اپنے حجرے میں درس وتدریس کا مشغلہ جاری رکھا۔



## والد صاحب جیل میں:

اللہ تعالیٰ کے رحم و کرم اور بزرگوں کی قربانیوں کی بدولت ملک آزاد ہوا اور پاکستان بنا تو حزب اختلاف سے تعلق رکھنے والے سیاسی اراکین کو ہری پور کی سنٹرل جیل میں محبوس کر دیا گیا۔ میں ان دنوں تیسری جماعت کا طالب علم تھا۔ کبھی کبھی بڑی بہن والدہ نذیر الحق مجھے پشتو زبان میں خط املا کراتی اور میں اپنے والد صاحب کو خط بھیج دیتا۔ ان کی طرف سے جواب بھی آتا۔ والد صاحب نہایت صابر، خوش اخلاق اور غریب طبع آدمی تھے۔ جیل میں رہ کر آپ نے ہمیشہ جیل کے قوانین کا پاس رکھا اور جیل کے آفسروں کا جو بھی رویہ تھا، اسے برداشت کیا۔ ہری پور سنٹرل جیل میں آپ نے کوئی ڈیڑھ سال کا عرصہ گزارا اور وہاں قرآن کی تفسیر و تشریح پر مبنی درس دیا کرتے تھے۔ سیاسی قیدیوں میں کئی خوش نصیبوں نے آپ سے قرآن سیکھا اور یہ لوگ زندگی بھر آپ کے معتقد رہے۔ آپ کے قیدی تلامذہ میں احمد کاکا، محمد اسرار خان چارسدہ، سرفراز خان، قدرت شاہ کاکا وغیرہ شامل تھے۔

## جامعہ اسلامیہ اکوڑہ خٹک:

والد صاحب جب جیل سے آئے تو آپ کی صحت بہت خراب تھی۔ ان کی غیر حاضری میں ہم سب بہن بھائی بہت اداس اور بیمار رہا کرتے تھے۔ غربت وافلاس نے بھی ہمارا پیچھا کیا۔ والد صاحب کی غیر حاضری میں میرے ماموں مولانا لطف الرحمٰن صاحب، چچا مولانا لطف اللہ صاحب اور حافظ محمد ادریس مرحوم و مغفور نے مجھے اپنے بچے کی طرح پیار دیا اور سید محمد باچا صاحب نے مجھے قرآن کریم پڑھانے اور نماز سکھانے کا بیڑا اٹھایا۔ اس اثنا میں جامعہ اسلامیہ اکوڑہ خٹک کے جمعیت الطلباء نے والد صاحب کو سالانہ اجتماع میں تقریر کرنے کے لیے

بلایا۔آپ نے جاکر وہاں تقریر کی اور دارالعلوم میں دارالافتاء قائم کرنے کی تجویز پیش کی، جسے مولانا غلام غوث ہزاروی نے بہت پسند کیا اور اس کی تائید کی۔ اگلے سال شیخ الجامعہ حضرت بادشاہ گل صاحب مرحوم ومغفور کی طرف سے قاضی عبدالرقیب صاحب آف پیر سباق، والد صاحب کے پاس جامعہ میں درس وتدریس وغیرہ کی خدمت انجام دینے کا پیغام لے آئے، مولانا لطف الرحمٰن صاحب کے مشورہ سے آپ وہاں چلے گئے۔ 1952ء سے 1954ء تک جامعہ اسلامیہ میں آپ نے باقاعدہ درس دیا۔ ناظم تعلیمات کی حیثیت سے کام کیا اور مفتی کا فریضہ بھی ادا کرتے رہے۔اس کے علاوہ آپ نے خلوص اور خدمت سے دارالعلوم کو بہت فائدہ پہنچایا۔ ان ایام میں جامعہ اسلامیہ اکوڑہ خٹک عروج پر تھا۔ بڑے بڑے علماء کرام دارالعلوم کی درسگاہوں میں موجود تھے۔ حضرت مولانا فضل الرحمٰن صاحب پشاوری، حضرت مولانا عبدالرحمٰن صاحب ساکن علاقہ پنج، حضرت مولانا امیر خان صاحب آدم زئی شاہ منصور کے ایک بڑے عالم عبدالرزاق صاحب بونیر کے ایک نہایت سادہ مگر عربی ادب میں طاق عالم جنہیں امنور مولوی صاحب کے نام سے یاد کیا جاتا تھا، مولانا عبدالشکور صاحب مانسہرہ، قاضی عبدالرقیب صاحب، مولانا سید احمد علی شاہ صاحب اور خود شیخ الجامعہ حضرت بادشاہ گل صاحب جیسے بڑے بڑے علماء ، فضلا اور اصحاب عرفان درس دیا کرتے تھے۔ حاجی راحت گل صاحب جامعہ اسلامیہ میں نشرواشاعت کے ناظم تھے۔ میرے والد صاحب کے ان تمام علماء وفضلا سے دوستانہ تعلقات تھے اور ان سب کی قدر کرتے تھے۔ میں اور میرا چچازاد بھائی جماعت ششم وچہارم کے طالب علم تھے اور جامعہ اسلامیہ اکوڑہ خٹک میں والد صاحب کے پاس رہتے تھے۔ والد صاحب دارالعلوم سے واجبی وظیفہ تقریباً 60 روپے ماہوار لیا کرتے تھے۔ جبکہ آپ کے مشورے سے



منتظمین نے دوسرے علماء کے لیے 100 روپے اور 300 روپے تک تنخواہیں مقرر کی تھیں۔ والدہ صاحبہ کی سخت علالت کی وجہ سے آپ جامعہ اسلامیہ سے واپس آئے۔

## مدرسہ اسلامیہ عربیہ ہوتی مردان:

ہوتی، مردان کے مدرسہ اسلامیہ اور اس کے بعد دارالعلوم عربیہ خاکسار منزل، ہوتی مردان میں والد صاحب نے درس وتدریس کا اہتمام وانصرام کی خدمت انجام دی، اس کے علاوہ آپ مسجد خاکسار منزل ہوتی مردان میں جمعہ کا خطبہ دیتے رہے۔ محترم حاجی عبدالحکیم صاحب کے ساتھ آپ کے دیرینہ تعلقات تھے۔ لیکن جب والد صاحب کو گھٹنوں میں درد کی شکایت ہونے لگی اور طورو سے ٹانگہ میں سوار ہوکر خاکسار منزل تک آنے جانے میں دِقت محسوس کرنے لگے تو آپ نے خاکسار منزل آنا چھوڑ دیا۔ حاجی صاحب موٹر کا انتظام کرسکتے تھے لیکن والد صاحب اس قسم کے تکلفات کے روادار نہ تھے۔ نیز اب باغ مسجد میں وسعت پیدا ہوگئی تھی اور اہل محلہ وہاں جاکر جمعہ پڑھ سکتے تھے۔

## پشتو زبان وادب سے تعلق:

پشتو زبان وادب سے آپ کا رشتہ قدرتی امر تھا۔ عربی اور فارسی میں آپ اظہار خیال کرسکتے تھے۔ اردو پر چنداں عبور نہ تھا۔ قومی اور ملی خدمت کی تڑپ نے پشتو زبان وادب سے محبت پیدا کردی تھی۔ آپ ایک اچھے اور منجھے ہوئے خطیب تھے۔ کسی بھی دینی، تاریخی اور سیاسی موضوع پر فی البدیہہ، سلیس، عام فہم اور رواں پشتو میں تقریر کرسکتے تھے۔ عربی اور فارسی کے بھاری بھرکم الفاظ وتراکیب کے استعمال سے احتراز کرتے تھے۔ دراصل آپ عوام کو سمجھانا اور تعلیم دینا چاہتے تھے۔آپ کا مقصد اصلاح احوال تھا۔ عوام پر اپنا علمی رعب جمانا آپ کا

مقصد نہ تھا۔ اس لیے آسان زبان میں بات کرتے تھے۔آپ نے مجلہ ''پختون'' کے لیے مضامین لکھے۔ پشتو اکیڈیمی پشاور کے بعض رسائل و جرائد میں آپ کے مضامین شائع ہوتے۔ آپ نے خوشحال خان خٹک، عبدالرحمٰن بابا، حافظ الپوری، حمزہ شینواری، اجمل خٹک اور جدید پشتو ادب کا سرسری مطالعہ کیا تھا اور شعر و ادب سے وابستہ حضرات کی قدر کیا کرتے تھے۔آپ نے اخوند درویزہ اور پیر روخان کی کتابیں پڑھیں تھیں۔ حافظ محمد ادریس مرحوم اور مولانا حبیب الرحمٰن کے علاوہ آپ نے دار منگی کی پشتو تفسیر کا مطالعہ کیا تھا۔ حالانکہ امام رازی کی تفسیر کبیر، تفسیر خازن، تفسیر ابن کثیر، بیضاوی، جلالین، تفسیر حقانی اور تفہیم القرآن کے بہ غور مطالعہ کے دور سے تو آپ بہت پہلے گزر چکے تھے اور آپ نے کئی مرتبہ قرآن کریم کی تفسیر کا مسلسل درس بھی دیا تھا۔ لیکن جب پشتو زبان میں کوئی اچھی کتاب آپ کو ملتی تو اسے ضرور پڑھتے۔

والد محترم کے اخلاق و کردار پر بحث کرنے کے لیے ہزاروں لوگ موجود ہیں۔آپ عوام کے خادم اور مسلمانوں کے بہی خواہ، مصلح اور باکردار آدمی تھے۔ میں ایک بیٹے کی حیثیت سے آپ کی بعض عادات سے بہت متاثر تھا۔آپ صبر و استقامت کے پہاڑ تھے۔ مصائب اور تکالیف برداشت کرنے میں بے مثال تھے۔آپ کی گفتگو نہایت دل آویز تھی۔ ناشائشتہ الفاظ تو آپ نے کبھی غصہ کی حالت میں بھی استعمال نہیں کیئے تھے۔ کسی کی غیبت نہیں کرتے تھے۔ اختلافی دینی مسائل شستہ الفاظ میں بیان کرتے تھے اور کسی شخص یا عالم کی ذات پر کبھی غلط الفاظ میں تبصرہ نہیں کرتے تھے۔آپ اس بات کے حق میں نہ تھے کہ سیاسی سٹیج پر فقہی مسائل چھیڑ کر عام آدمی کو علماء کے خلاف ابھارا جائے۔ علمی اختلاف کو بغض اور حسد کی آگ کی لو سے بچانا پسند کرتے تھے۔ غریب اور معاشرے میں کم تر نظر آنے والے لوگوں سے آپ پیار و محبت



کرتے تھے۔ دیوانے اور نشوں کی بھٹی میں جلے ہوئے لوگوں کی اپنی بساط کے مطابق مالی مدد کیا کرتے تھے۔ مہمان نواز تھے۔آپ کبھی ''جنریشن گیپ'' کے شکار نہیں ہوئے۔ بوڑھے سے لے کر چھوٹے بچوں تک کئی لوگ آپ کے دوست ہوا کرتے تھے۔ نواب آف طور و حمید اللہ خاں صاحب (مرحوم) بہت بڑے اور صاحب اقتدار شخص تھے، عمر میں آپ سے بہت بڑے تھے بلکہ آپ ان کے بیٹوں سے بھی چھوٹے تھے لیکن بقول والد صاحب نواب مرحوم بستر مرگ پر پڑے تھے اور باباجی کو کہا کہ ''عنایت اللہ جوں ہی دہلی سے آجائے، اسے میرے پاس بھیج دو''۔

والد صاحب ان دنوں دہلی گئے ہوئے تھے۔ گھر آئے تو باباجی نے نواب صاحب مرحوم کا پیغام دیا۔آپ فوراً وہاں گئے۔ عصر کا وقت تھا، نواب صاحب مرحوم نے آپ سے سفر کا حال پوچھ لیا اور پھر فرمایا، تم میرے بھتیجے ہو، سیاست میں تم نے میری مخالفت کی ہے لیکن میں تم سے ناراض نہیں ہوں، مجھے معاف کرو''۔ والد صاحب نے عرض کی ''آپ ہمارے بزرگ ہیں، قابل احترام ہیں، میں نے اگر کبھی گستاخی کی ہو تو اس کی معافی چاہتا ہوں''۔ نواب صاحب نے فرمایا ''میں نے معاف کر دیا ہے، آپ مجھے معاف کر دیں''۔ والد صاحب نے عرض کیا ''آپ یہی چاہتے ہیں تو میں کہہ دیتا ہوں کہ میں نے آپ کو معاف کر دیا ہے۔ اللہ تعالیٰ آپ کو معاف فرمائے''۔ میرے والد صاحب کی خوش اخلاقی اور اچھے رویے کا ردِ عمل تھا کہ نواب صاحب جیسے بڑے شخص نے بستر مرگ پر آپ سے یوں گفتگو کرنا ضروری سمجھا۔

ہم آپ کے دو بیٹے ہیں، میں اور مشتاق الرحمٰن (مرشفق) ہمارے والد صاحب نے کبھی ہم پر کوئی مالی یا اور قسم کا بوجھ نہیں ڈالا۔ ہمیں ہر طرح سے آزاد چھوڑا اور ہماری دینی اور اخلاقی اور مالی مدد کرتے رہے۔اپنے بڑے اور چھوٹے بھائی کے علاوہ اپنے تمام رشتہ داروں کے

ساتھ آپ مشفقانہ سلوک کرتے تھے۔ بعض رشتہ داروں نے انہیں دکھ دیا تو بھی انہوں نے معاف کر دیا۔

عوام الناس گواہ ہیں کہ مرحوم نے کئی باہم متحارب خاندانوں کی دشمنیوں کو دوستی میں تبدیل کرادیا اور انہیں از سرِ نو آرام و سکون کی زندگی کا موقع فراہم کیا۔ آپ اپنے گاؤں میں سیاسی مخالفین ضرور رکھتے تھے۔ لیکن میں جانتا ہوں کہ اپنے مخصوص نظریات پر ڈٹے رہنے کے باوجود آپ تمام سیاسی ورکروں اور ہر پارٹی کے لیڈر کو عزت کی نگاہ سے دیکھتے تھے۔ آپ سیاسی مخالفت کو جمہوریت کا حصہ سمجھتے تھے۔ البتہ ضمیر فروشی کے خلاف تھے۔ آپ کی رائے یہ تھی کہ ووٹ خریدنے والے اور بیچنے والے قوم کی خدمت نہیں کر سکتے۔ اسلامی نظام کے لیے کام کرنے والوں کی عزت و حمایت کرنے میں آپ مستعد تھے۔ اپنی پارٹی کے لوگوں کو بھی اسلام کی راہ سکھاتے تھے۔

## وفات حسرت آیات:

والد گرامی ایک مدت سے گھٹنوں میں درد کی شکایت محسوس کرتے تھے۔ آپ کے پاؤں سوج گئے۔ ہری پور جیل سے آپ جگر میں تکلیف کی بیماری لائے تھے۔ اس کے علاوہ بھی آپ کو کچھ عوارض درپیش تھے۔ لیکن صبر واستقامت کے پیکر دوادارو کرتے رہے۔ محترم ڈاکٹر محمد یوسف پر آپ کو بڑا اعتماد تھا اور آپ کے مشورے کے بغیر کسی چھوٹے بڑے حکیم ڈاکٹر کے پاس جانا پسند نہیں کرتے تھے۔ آپ نے والد صاحب کی اتنی خدمت کی ہے کہ اجر اللہ ہی دے سکتا ہے۔ ہوتی مردان کے ایک بڑے ڈاکٹر صاحب نے گھٹنوں کی تکلیف کے لیے زیادہ عرصہ تک دوائی دی۔ ہم نے ان کے کلینک کے کئی چکر لگائے۔ آخر کار انہوں نے اپنی ناکامی کا اعتراف



کیا۔ چند دنوں بعد دوائیوں نے منفی اثر دکھایا۔ آپ جلدی بیماری سے دوچار ہوئے۔ انگلیاں پھٹنے لگیں۔ پاؤں پھول گئے۔ ماہر امراض جلد کی خدمات حاصل کی گئیں۔ کئی ہفتوں کے بعد کچھ افاقہ ہوا۔ چند مہینوں میں قدرے آرام ہونے لگا۔ لیکن کمزوری بڑھتی گئی اور ضعف میں اضافہ ہونے لگا۔ پھر بھی آپ تقریباً ہر کام خود کیا کرتے تھے۔ دن میں ایک مرتبہ واحد گل کاکا کی دکان پر حاضری دیا کرتے تھے۔ وہاں گھنٹہ دو گھنٹہ بیٹھ کر دوستوں سے گفتگو کرتے۔ گھر کے لیے سودا سلف خرید لیتے تھے۔ نماز اشارے سے پڑھتے تھے۔ کتاب کا مطالعہ ضرور کیا کرتے تھے۔ روزانہ اخبار پڑھ لیا کرتے تھے۔ ملاقاتیوں اور پوچھنے والوں کو دینی مسائل بھی سمجھاتے تھے۔ وفات سے تین دن پہلے آپ کو بخار کی شکایت ہونے لگی اور آخر کار بروزِ اتوار بوقت 7 بج کر 25 منٹ، 25 جون 1995ء کو خالق حقیقی سے جا ملے۔ وفات کے وقت آپ کی عمر 85 سال تھی اور نزع کی حالت میں ہم سے گفتگو جاری تھی اور اللہ تعالیٰ سے مغفرت کے طلب گار تھے۔

انا للہ وانا الیہ راجعون

شہر میں اک چراغ تھا نہ رہا
اک روشن دماغ تھا نہ رہا

## تا وګټله او ما بائیله

د طورو يو مشر او عمر رسيده ماهرِ تعليم خان صاحب د اكرام الله خان په حجره كښې يوې تعزيتي غونډه كښې خطاب كولو۔ دا خان بابا د علي ګړهـ د محمدن كالج فاضل وۀ۔ د ايم اے بي ټي سندونه او د يو دور د تدريس او تنظيم تجربه ئې لرله۔ د اكوړي اجمل خټك سره ئې احسان كړے وۀ ۔ هغه ئې په خپله قيصۍ كښې ذكر كړے دے۔

دۀ به عموماً قوله لونګۍ په سروله۔ ښكلې ډيره ئې وه ۔ مندرے غونډې مونډې قابل سړے وۀ ۔ په دغه خطاب كښې ئې د سورة النمل آيت اتيايم تلاوت كړے وۀ ۔ په دې آيت كښې الله پاك حضرت محمد ﷺ ته فرمايي چې: ''تۀ مړو ته اورؤنه نۀ شې كولے او نۀ كوڼ اواز اوري، كله چې هغوي په شا وتښتي''۔

خان بابا د دې آيت نه دا مفهوم واخست چې په قبرونو كښې مړي اوريدل نۀ كوي ۔ قبرونو له تلل او د مرګ نه پس د كراماتو قيصۍ يو فضول عمل دے ۔ د خان صاحب د خطاب په اخري مرحلو كښې مولانا محمد عنايت الله صاحب راغے، چې تقرير ختم شۀ نو د خان خپلو اسلم خان بابا په زوره ووئيل دغه دے مولانا صاحب راغے۔ هغه به د دې خبرې وضاحت وكړي۔ خطاب كوونكي وفرمائيل:

# خاطرې

''ما خو د قرآن آیت وئیلے دے ۔ مولانا صاحب به دې کښې څۀ وايي''۔

مولانا صاحب حسبِ رواج دعا وکړه او خاموش شۀ۔ ملکي صاحب (عبدالغفور خان بابا) مولانا صاحب ته ووې تاسو خو د خان د خطاب اخري حصه واورېده، ستاسو څۀ خيال دے؟ مولانا صاحب په عمر د خطاب کوونکي خان صاحب د اولاد برابر وه، هغه د خپل عادت مطابق مُسکے شۀ او وې وئيل:

''د خان بابا خيال دے چې ګني رسول الله ﷺ په هديرو کښې ګرځيدۀ او مړو ته ئې تقريرونه کول نو الله پاك ورته وايي "انك لا تسمع الموتٰى" ....خان بابا فوراً ووئيل بس مولانا صاحب تا وګټله او ما بائيله''۔ او بيا ئې دعا وکړه او لاړۀ۔

اسلم خان بابا ووې ''مولانا صاحب مونږ خو هېڅ پوهـ نۀ شو ۔ دا تا څۀ ووې او دا خان څۀ ووې ؟ مولانا صاحب وفرمائيل ''خان بابا هوښيار سړے دے، ما ورته ووې چې دا آيت د زيارة القبور مسئله نۀ بيانوي ۔ دا خو د هغه ضديانو مخالفت کوونکيو ذکر کوي چې ځانونه ئې د رسول الله ﷺ وړنا ته کاڼۀ کړي وو چې دوي سره د عقله حق ته ړاندۀ کاڼۀ دي نو خان بابا پوهـ شۀ او دعا ئې وکړه، لاړۀ۔ دا خان بابا د طورو ظفر احمد خان (علېګ) وۀ۔

په محکمه تعليم کښې د وېش نه مخکښې استاد او افسر پاتې شوے وۀ۔



په اخر کښې زۀ اسرار د طورو د کفايت المفتي د جلد 10 مخ 524 نه د حضرت مفتي کفايت الله د عبارت پښتو ترجمه ليکم، وايي'' د مسلمانانو د قبرونو حفاظت او احترام لازم دے ۔ په قبرونو کښېناستل ګناه ده ۔ د مومنانو ارواح ته د مشرکانو په صحبت اذيت رسي''۔ سنن ابي داود کتاب الجنائز کښې دي ''د ابوهرېره رضي الله عنه په روايت رسول الله ﷺ فرمائيلي دي، مفهوم ئې دا دے: چې تاسو نه يو تن په سکروټه کښېني نو جامې او څرمن ئې سوزي،

"خَيْرٌ لَّهُ اَنْ يَّجْلِسَ عَلَى الْقَبْرِ" نو دا سوزېدل ورله د دې نه غوره دي چې دے په قبر کښېني''۔

❀❀❀

# ستاسو د بچو خیر

د طورو حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب (1910ء 1995ء) د حضرت مولانا سید محمد عبدالجمیل صاحب مینځنے زوے وۀ. دیني علم ئې حاصل کړے وۀ او خپل ژوند ئې د دین او قوم خدمت ته وقف کړے وۀ. خدائي خدمت ګار وۀ. ګزران ئې د پلار د زمکې په حاصل وۀ. هغوي ما (اسرار د طورو) ته وئیلي وو چې زما د قوم افراد په خانداني دشمنیو یو بل وژني نو ما له خوب نۀ راځي. زۀ غریب فقیر یم. مات ګوډ یم خو د الله نه ویرېږم چې دا ناپوهه خلق د جهنم په اور کښې ځائے جوړوي نو زۀ کۀ د دوي د اصلاح کوشش ونۀ کړم نو الله به رانه ناراض شي.

دوي به ځان ته ، اولاد ته کمه توجه کوله او د اماکما د خلقو په کوڅو کښې به تغړېدۀ او روغې به ئې کولې. ډېرې اوړې ئې د ټوپکونو او نورو اسلحو نه سپکې کړې وې. په طورو کښې یو خاندان کښې په هغه دغه مسئله د مرګ ژوبلې حد ته ورسېده، دشمني جوړه شوه. یو نفر د خپل ذاتي بغض او حسد په وجه د بل په لانجه کښې ورګډ شۀ او یو ښکلے خوش باش ځوان ئې مړ کړۀ. مولانا صاحب په فریقینو خفه وۀ. په سیاسي لحاظ د مولانا صاحب پارټۍ سره دغه خلق مخالف وو. د دوي



ډله پره خپل ''خان'' سره وه. د هغۀ چې به کومه پارټي وه هغه به د دوي هم وه. خلق د ګټې کور پېژني. مولانا صاحب د مقتول د یکي یو ورور په غم او الم هم خفه وۀ او د قاتل د اولاد فکر ورسره هم وۀ چې بې ګناه بې خطا ئې سرونو ته خطره وه نو جدوجهد ئې شروع کړۀ او د یو اوږد زیار نه پس الله کامیاب کړۀ، فریقین رضا شول، جرګې یو ځائے کړل. په دغه کښې یو تن خپله چاړۀ په خپل ګوګل کښې لیده ، ویرې اخستے وۀ نو مولانا صاحب پسې راغے هغه د خپلو ملاقاتیانو په ټولي کښې ناست وۀ. دا سړے ورته وایي چې کۀ د روغې نه پس څۀ وشو نو زۀ به تا ولم. حاضر ملګري برند شو خو مولانا صاحب هغوي ته اشاره وکړه چې روغه وشوه کۀ تا سره فکر وي متعلقه خلقو سره رابطه وکړه زما ویشتل اسان دي؛ ماسخوتن دا سړے دروازې له راغے د مولانا صاحب نۀ ئې معافي وغوښته. هغۀ ورته ووې خفه کېږه مه زۀ ستاسو د بچو خېر لټوم. د چا نه ګیله نۀ کوم. د الله د رضا د پاره ستاسو خدمت کوم''.

# د ختم نبوت مسئله

مولانا صاحب محمد عنایت الله صاحب سره به واحد ګل چمیار لکه د کونټې ګرځېدهٔ. د ختم نبوت په مسئله د حضرت مولانا سید یوسف بنوريؒ په مشرۍ کښې د ذوالفقار علي بهټو په دورِ اقتدار کښې په دې وطن کښې یو زبردست تحریک شروع شهٔ. د ډېرو قربانو نه پس قومي اسمبلۍ په متفقه فیصله، قادیانان او مرزایان د اسلام نه خارج کړل. مولانا محمد عنایت الله به شپه او ورځ په طورو او ګېر چاپېره علاقه کښې د کلیو په جوماتونو کښې د ختم نبوت په مسئله تقریرونه کول. پولیس به د مولانا د ګرفتارۍ د پاره د چاپې وهلو پروګرام جوړولو. پروګرام به په یوه ذریعه ډاکټر یوسف د پولیس نه معلوم کړهٔ. مولانا صاحب به ئې پوهه نهٔ کړهٔ او په بل طرف به ئې د جرګې مرکې په کار کښې ولېږلو. مثلاً یو ماښام چې هغوي کور ته راواپس شو نو د بلې په پُل ورته واحد ګل کاکا ولاړ وهٔ، وئیل ئې د مازیګر نه ستاسو انتظار کوم. صوابۍ کښې کار دے ستاسو په تعاون به کېږي او بیا مولانا صاحب درې ورځې کلي کښې نهٔ وهٔ. د حکومت پالیسي د هنګامي پکړ دکړ وه. مولانا صاحب به د قران او حدیث نه عوامو ته د ختم نبوت مسئله بیانوله. د سورة الاحزاب ایت د بخاري شریف روایت او د حدیث شریف "لو لا موضع اللبنة" نه به ئې استدلال د ختم نبوت کولو. وئیل به ئې چې



قران دین ته اکمل او اتمم وایي نو د بل نبي ضرورت پاتې نهٔ شهٔ. د اوبو په ډك جام کښې نورې اوبهٔ نهٔ ځائېږي. بل دا چې قران حدیث او تاریخ د حضرت محمد ﷺ یو نوم احمد ښایي. نو والدین زوي له غلام احمد نوم کېږدي. نو د احمد غلام خو باید غلام وي. نهٔ چې نبي یا احمد.

د مولانا صاحب لهجه نرمه او ژبه عام فهم وه. هغوي د خپل دین د بنیادي عقیدو، توحید، رسالت او اخرت او په غېبو د ایمان راوړو مسئله په ساده روانه دوانه پښتو کښې بیانوله او ښځې نالوستي دوستان او معتقدین به ئې پوهول. په جومات کښې د اذان اصل ځائے ما ته د زېد خېلو په جومات کښې ډاکټر فقیر محمد بابو صاحب وښودلو. وئیل ئې دا مونږ د مولانا صاحب په مسئله ټاکلے دے. د زیارة القبور مسئله به ئې په داسې حکمت بیان کړه چې د شرك د ملا تیر به ئې مات کړهٔ خو جګړه به نهٔ شوه جوړه. په شاه منصور کښې هغوي د وسیلې په عنوان داسې بې ازاره بیان وکړهٔ. د نېك عمله وسیله د نېکانو خلقو د تعلیم او توجه وسیله خو یقیناً فائده لري. مولانا صاحب د الله په لور نزدیکت او قرب ته وسیله وفرمائیل او د حضرت ابن عباسؓ او د نورو پخوانو عالمانو حواله ئې ورکړه. هغوي وفرمائیل چې تقویٰ د ښو کارونو کول او د بدو کارونو نه اجتناب ته وایي. کوم مسلمان چې د الله د عذاب نه ویرېږي او د ګناهونو نه ځان ساتي، د الله اطاعت کوي، د الله حکم مني، دا متقي دے. وسیله د الله تعالیٰ قرب او رضا حاصلولو ذرائع دي. د کلمه طیبه هر قائل چې څومره په خلوص د الله تعالیٰ عبادت

کوي او د الله د مخلوق سره مینه کوي د انسان خدمت کوي، په ځان مال، اولاد د الله په لار کښې جهاد کوي نو دا سړے یا ښځه وسیله مومي ، مولانا زیاته کړه چې وسیله په جنت کښې د نېکانو خلقو یو خاص مقام دے، هلته به خوږ نبی ﷺ سره د نېکانو پاکانو مسلمانانو ملاقات کېږي . مولانا صاحب د دین مبلغ، د دیني علومو مدرس، د پښتنو د ازادۍ، خودمختارۍ او ترقۍ د پاره، خارجي او داخلي دښمنانو سره د باچا خان د عدم تشدد په لار، یو مستعد مبارز وۀ . هغه د خپل قامي ګوند په صفونو کښې د روس، چین یا د یو بل غېر اسلامي سیاسي فلسفې د راننوتو په حق کښې نۀ وۀ . کومو خلقو چې د ماوزے تنګ تصویرونه په سینو لګولي وو هغوي ته ئې دوستانه مشوره ورکړه چې دغه هیرو زمونږ د پښتون قام لیډر نۀ دے . مونږ مسلمانان یُو، کۀ د چا بل یو لیډر او بله فلسفه خوښه وي هغه دې ځان له خپله پارټي جوړه کړي . مولانا صاحب وئیل، مونږ خپل پښتون اولس غېر اسلامي نظریاتو ته خوشے کول ښۀ نۀ ګڼو . زما د یو سوال په جواب کښې هغۀ ووئیل زمونږ پښتون لیډر مونځ ګزار مسلمان دے ان چې تهجد هم کوي او حج ئې هم کړے دے . هغه ځان ته خدائي خدمت ګار وایي .

مولانا صاحب د یوې ژبې سړے وۀ . د پارټۍ بدلولو شوق ئې نۀ وۀ . په کلي کښې ئې د غریبانانو خلقو سره خاص تعلق وۀ . خانانو او نوابانو سره ئې هم راشه درشه وو او د هرې پارټۍ د مشرانو کشرانو په غم ښادۍ کښې شریک وۀ . چا سره ئې بغض نۀ کوۀ .



د جمهوریت د بحالۍ د پاره هغۀ بېګم نسیم ولي خان سره پوره پوره تعاون کړے وۀ . د طورو یو خان پرې اعتراض وکړۀ چې بېګم سره تاسو ولې مرسته کوئ، مولانا صاحب ورته ووئیل چې غلطي مې وکړه او نور وخت په خاموشۍ تېر شۀ .

مولانا صاحب دغه خان صاحب سره بحث کول مناسب نۀ ګڼل او کله چې د دغه خان صاحب زوي ته مشکلات جوړ شو نو حضرت مولانا محمد عنایت الله ورته خپل خدمات وړاندې کړل . د یوې دښمنۍ د عذاب نه ئې بچ کړۀ مولانا صاحب خپل علم او خپل وجاهت د خپل اولس نه ځار کړي وو . د مولانا صاحب عنایات ډېرو خلقو ته یاد دي . د خان دغه زوے د مولانا صاحب ممنون وۀ . په دې خبره ما ته د سواړیانو د حاجي شېر عالم خان بابا تبصره یاده شوه . هغۀ وئیل ما به کله کله مولانا صاحب جرګې له بوتلو، هغوي به په استقامت مونډې خبره کوله او په نرمه لهجه به ئې بنده پوهولو . هغۀ وخندل وې زۀ د هغۀ انجن وم .

❁❁❁

# د مېلمه قدر

ما ورته وئيل زهٔ ووتې چا له ورکړم، وئيل ئې چا له چې دې زړهٔ غواړي ـ ما وې تاسو چې په چا خوشحالېږئ هغه راته وښايئ، وئيل ئي ستا چې څوك خوښ وي په هغهٔ خوشحاله يم ـ

ما ورته وې زهٔ شعر وئيل پرېږدم، وئيل ئې الله يو صلاحيت درکړے دے ـ د دې صحيح استعمال پکار دے ـ

ما ورته وئيل د جمعې په ورځ د لوند خوړ يو مېلمه عالم اختلافي خبره وکړه، تاسو مېلمه ته خاموشي اختيار کړه ـ مولانا محمد عنايت الله صاحب ووئيل، مېلمه وهٔ ، مشر وهٔ ـ ما ته په يوه موقع خپل والد صاحب مولانا حافظ عبدالجميل صاحب وئيلي وو؛ زويه ! مناظرې مهٔ کوه ـ د مشرانو عالمانو قدر کوه ـ عوامو ته حق خبره کوه ـ نو ما د مېلمه د تلو نه پس خپلو خلقو ته د مسئلې مدلل وضاحت وکړهٔ ـ خلق مطمئن شو ـ

هم دغه د جمعې د نمانځهٔ نه پس د اخري دوه رکعتو سنت مونځ په حقله وضاحت ما په دير ثمر باغ کښې د دوه درې عالمانو په محفل کښې وکړهٔ ـ هغوي هم دغه مسئله باندې ګفتګو کوله چې د فقهې په يو کتاب کښې په حاشيه کښې د امام ابو يوسف رحمه الله په نزد منقول دي چې احتياطاً ئې کول بهتر



دي نو کتاب ئې راوړهٔ ـ هغوي حواله ولوسته او خوشحاله شو ـ ما ورته عرض وکړهٔ د عالمانو په صحبت کښې د ناستې په وجه نالوستي هم يوه نيمه مسئله زده کړي ـ

دا د عالمانو عنايات دي ـ تشکر ئې لازم دے ـ زهٔ ستاسو په شان عالم نهٔ يم ، دا مسئله مې اورېدلې وه ـ ياداشت کښې مې وه، يوه خاطره ده ـ پکار راغله ـ

په ''الاختيار شرح المختار، جلد اول صفحه 54 مطبوعه مطبع حجازي (مصر) قاهره'' حاشيه کښې دي ـ

وَقِيلَ بَعْدَهَا سِتًّا بِتَسْلِيمَتَيْنِ مروىّ عن على رضي الله تعالىٰ عنه و هو مذهب أبي يوسف رحمة الله عليه

❁❁❁

# د مقروض جنازه کول

د طورو يو زورور خان د مولانا محمد عنايت الله صاحب په معمول اعتراض وکړۀ چې رسول الله ﷺ به د مړي د جنازې نه مخکښې تپوس وکړۀ چې د چا قرض خو پرې نشته ـ خان صاحب زياته کړه چې قرض به ادا شۀ نو هله به ئې جنازه کوله ـ تاسو خو دا تپوس نۀ کوئ۔

مولانا صاحب ورته ووئيل حضرت پاك ﷺ پېغمبر او بادشاه وۀ ـ کۀ د مرده وارثان به د قرض د ادا کولو قابل نۀ وو نو رحمة اللعالمين ﷺ به د بيت المال نه ادا کولے شۀ ـ مونږ دا اختيار نۀ لرو او د مسلمان جنازه په ژوندو مسلمانانو فرض کفايه ده نو د خدمت په طور ئې کوو ـ د الله تعالٰی د حکم د اطاعت کوشش کوو ـ مولانا صاحب زياته کړه چې نبی عليه السلام فرمائيلي دي چې د قدرت باوجود قرض نۀ ادا کول ظلم دے ـ په بخاري شريف، ترمذي شريف او په مشکواة شريف کښې دا روايات شته (باب مطل الغنی ظلم) اول اول به رسول الله ﷺ د مقروض جنازه نۀ کوله ـ بيا به ئې کوله ـ په عمدة القاري کښې دي چې ابن بطال وايي "لانه صلی الله عليه واله وسلم کان لا يصلی عليه قبل فتح الفتوحات۔ فلما فتح الله منها ما فتح صار صل الله عليه واله وسلم يصلی عليه" نو دا فعل ئې د اولني فعل د پاره ناسخ شۀ۔ خان صاحب غلے شۀ خو د مولانا صاحب د عناياتو تشکر به مونږ د واقعاتو راويان د مفادِ عامه د پاره وکړو ـ الله دې تلليو عالمانو له جنتونه ورکړي ـ اٰمينَ

✿✿✿



# مطل او غنی

د طورو شاه پسند خان صاحب د خدائي خدمت گار تحريك سره وۀ خو بيا د حضرت مولانا سيد ابوالاعلٰی مودودي صاحب د ليکونو او کتابونو د مطالعې او د طورو د حضرت سيد گل بادشاه صاحب سره د خاموش جماعتي خبرې په سبب د جماعت اسلامي حامي شۀ ـ دا خان بابا د طورو د عبدالرحيم خان نزدې خپلوان وۀ ـ عبدالرحيم په رحيم خان ياد وۀ ـ باچا خان په خپل کتاب "زما ژوند او جدوجهد" کښې په 518 وغېره د عبدالرحيم خان ذکر کړے دے او په مخ 526 ئې د مولانا گل باچا صاحب ذکر کړے دے چې د قلي خان او باچا گل د ترنگزو د حاجي صاحب د خليفه په حقله ئې باچا خان ته څۀ وئيلي وو ـ ما دا حوالې ځکه تازه کړې چې د طورو د شاه پسند خان بابا اهميت څرگند شي ـ خبر د موسٰی خېلو يار محمد کرنېل خدائي خدمت گار د مولانا عنايت الله نه د ډاکټر يوسف په دکان کښې تپوس وکړۀ چې د قرض او جنازې مسئله دې خان ته کوله نو اول په ساده ټکيو کښې لگيا وے، بيا دې گران ټکي ووې۔ دا "متل او غنی څوك وو"۔

مولانا صاحب مسکے شۀ ـ زۀ تېروتم د عربۍ ټکي مې ووئيل ـ خان صاحب کتابونه گوري پوهېږي ـ دا متل نۀ دے "مطل" دے ـ ط سره ليکلے شي ـ معنٰی ئې لم لبټ او ټال مټول کېږي او غنی شتنۀ من سړي ته وايي، نو چې په چا قرض وي مال

ورسره وي، مري خو قرض خواه ته خپل حق نۀ ورکوي نو دا ظلم دے ۔ پاتې شوه د هغۀ جنازه نو عالمانو ليکلي دي چې اول اول به رسول الله ﷺ د مديون يا مقروض جنازه نۀ کوله ، بيا به ئې کوله۔

❀❀❀



## لوستل او عمل

د صدي خېلو طورو په سريخ جومات کښې به مولانا محمد عنايت الله صاحب د قرآن پاك په روانه اسانه پښتو کښې د مازيګر د مانځۀ نه پس د ماښام د بانګه پورې د قران پاك ترجمه او تفسير عوامو ته بيانولو ۔ ګڼ خلق به سبق له راتلل ۔ خدائي خدمت ګار د قامي خدمت په بدل کښې اجرت نۀ غواړي ۔ د صدي خېلو د زمرود کاکا د چايو يو وړوکے دکان وۀ ۔ په څلور انې به ئې يو ډېر وړوکے چائنك چايۍ خرڅولې ۔ د يوې روپۍ به څلور چائنکه کېدل ۔ په درس کښې به هلکان زلمي او بوډاګان شاملېدل ۔ بشير باچا صاحب به ډېر په شوق راتلو ۔ دلاور خان حاجي صاحب به هم وۀ او عبدالواحد امازے ماما خدائي خدمت ګار به هم وۀ ۔ امازي ماما به هره ورځ دا چائنکې راغوښتې ۔ مولانا صاحب سره به خوا کښې ناست وۀ ۔ پيالۍ به ئې ډکه کړه ۔ مولانا صاحب ته به ئې نزدې کړه ۔ دلاور خان حاجي صاحب به قهرېدلے وۀ چې ازمازے چايۍ نۀ ورکوي په درس کښې رخنه اچوي ۔ يوه ورځې امازے ماما د سبق نه غېر حاضر وۀ چې درس ختم شۀ نو د ميا ببړۍ زردوالله د مولانا صاحب تفسير حقاني او تفهيم القران راواخستل او مولانا صاحب پسې راروان شۀ چې د جومات نه راووتل نو امازے ماما د يو څو زلميو سره لګيا وۀ نالۍ ئې صفا کوله ۔ دلاور خان حاجي صاحب پرې ټك وکړۀ؛ سبق دې پرېښودۀ او دا ګنده کار کوې؟ زردوالله ووئيل؛ امازي ماما ما ته وکتل وئيل ئې مولانا صاحب دې ووايي دا زۀ بدکار کوم؟ مولانا صاحب مسکے شۀ ۔ وئيل ئې مونږ لوستل وکړل، تا عمل وکړۀ ۔

❀❀❀

# مشر د قوم خدمت ګار وی

د طورو د يو معزز خاندان يو شريف ځوان شېر زمان خان يوه ورځې په حجره کښې مولانا محمد عنايت الله صاحب ته ووئيل؛ د پاکستان وزيراعظم ذوالفقار علي بهټو په تقرير کښې وئيلي دي چې باچا خان بادشاهي غواړي ـ دغه ورځو کښې په دې صوبه کښې حضرت مولانا مفتي محمود صاحب وزيراعلیٰ وهٔ او باچا خان د افغانستان نه راغلے وهٔ ـ باچا خان د پېښور په جناح پارك کښې لکونو خلقو ته خطاب کښې ووئيل؛ زهٔ بهټو ته وايم چې تهٔ وايې زهٔ نوے پاکستان جوړوم، نو اګر چې د جناح صاحب پاکستان تاسو وران کړهٔ خو کهٔ تهٔ واقعي نوے پاکستان جوړوئ نو کهٔ څوك درسره وي کهٔ نه زهٔ دې مل يم ـ ما سره کښېنه خبرې به وکړو ـ بل دا ئې ووئيل چې دې ګېرچاپېره ملکونو کښې Peace Movement چلول غواړي؟ بهټو صاحب د دې دا جواب وکړهٔ چې ما له سياست راځي ـ د چا تعاون ته حاجت نهٔ لرم او باچا خان بادشاهي غواړي او کنفډرېشن جوړول ئې مقصد دے ـ

مولانا صاحب شېرزمان خان ته ووئيل باچا خان د پښتنو اتحاد او ترقي غواړي ـ د دې د پاره د امن ضرورت دے نو د امن د تحريك خبره کوي ـ هغهٔ په خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد کښې په مخ 527 او 528 ليکي؛ دا تاسو چې زما د بادشاهۍ چغې وهئ نو چې دا تحريك مونږ شروع کړے دے، دا خو د باچايۍ د پاره نهٔ دے چې زهٔ باچا شم او کهٔ تاسو ما باچا کړئ نو اول خو په اسلام کښې باچائي شته نه او بله دا چې ستاسو به خاورې په سر شي او



زما به مزې وي نو تاسو پوهه شئ چې نهٔ ما او نهٔ بل باچا کړئ ـ مونږ باچايان جوړول نهٔ غواړو ـ باچايانو ته مو ضرورت نشته ـ زمونږ به يو مشر وي او د قوم په رايې او مرضا او مشوره به وي او هغه سړے به وي چې د قوم خدمت ګار وي ـ د خان، غريب او ميا ملا فرق به نهٔ وي ـ بلکې هغه سړے به وي چې هغه نېك او ايماندار وي او د قوم او ملك خېر خواه وي ـ تکليفونه او قربانۍ او ډېر خدمت ئې د قام او ملك کړے وي او چې د دې مشرۍ اهميت او پوهه هم په کښې وي ـ زمونږ حکومت به د جماعت تابع وي ـ جماعت به د حکومت تابع نهٔ وي ـ بادشاهي خراب شے دے او د قوم او ملك په کښې ډېر نقصان دے ـ مولانا صاحب به د باچا خان دغه کتاب کلي کښې ځان سره ګرځولو ـ هغوي شېرزمان خان ته بلکې ټولې حجرې ته دا اقتباس واورولو ـ

دا نظريه د افغانستان د هغه وخت د شاهي حکومت په حق کښې نهٔ وه ګڼي د وېش په موقع به شاه ظاهر شاه د انګرېزانو نه د پښتنو حق په سمه طريقه غوښتے وهٔ خو شاهان جمهوري او شورائي طرز حکومت ته نهٔ وي تيار ـ د باچا خان نظر دا وهٔ چې دا ملك د ټولو پښتنو دے، هغه مساوات غوښتهٔ ، دا ئې ارمان وهٔ چې ټول پښتانهٔ اسوده او خوشحال شي ـ

مولانا صاحب د قوم اتفاق او پرمخ تګ يو بل سره تړلي مقاصد ګڼل ـ دا ئې عقيده وه چې قراني تعليمات په عملي ژوند کښې پکارول د فلاح او کاميابۍ وسيله ده ـ هغوي باچا خان د يو صحيح باعمله مسلمان پښتون په حېثيت پېژندهٔ او لکه د يو عام خدمت ګار ئې ورسره کار کولو ـ

❀❀❀

# د خدائے او رسول احکام

د طورو محله صدي خېل کښې د مولانا محمد عنايت الله صاحب نه د طالبانو يو ټولے چاپېر وۀ. هغوي د خېل په مسجد کښې طالبانو ته درس ورکولو. ځينې طالبان د افغانستان وو. په دغه ورځ په نمانځۀ کښې د سورة الفاتحه د تلاوت بحث وۀ. مولانا صاحب وفرمائيل؛ په الصحيحين کښې حديث شريف دے چې ان النبى قال لا صلاة لمن له يقرا بفاتحة الكتاب، د دې حديث په بنياد درې امامان وايي د مونځ په ټولو رکعتونو کښې قراة د سورة الفاتحه فرض دے، کۀ عمداً ئې مونځ ګزار ترك کړي نو مونځ ئې ونۀ شۀ. زمونږ احناف وايي قراة د سورة الفاتحه فرض نۀ دے، په مانځۀ کښې. کۀ ترك ئې کړے نو مونځ نۀ فاسد ېږي. ځکه چې په مانځۀ کښې فرض مطلق قراة دے، نه چې قراة د سورة الفاتحه. دا تخصيص په قران کريم کښې نشته. هتله؛ فاقرء واماتيسر من القران، راغلے دے او په يو حديث شريف کښې دي په الصحيحين، کښې دي؛ اذاقمت الى الصلاة فاسبغ الوضوء، ثم استقبل القبله، ثم اقرأ ماتيسر من القران، او بل روايت کښې دي چې لاصلاة الابقراة والقراة فرض فى ركعتين من الصلاة المفروضة و يجب ان تكون فى الركعتين الاوليين كما تجب قراة الفاتحه فيهما بخصوصها...الخ مولانا صاحب وفرمائيل چې حديث شريف کښې د وضو، قبلې ته مخ کولو او بيا د قران د تلاوت امر دے، بل حديث کښې په فرض



څلور رکعتي مونځ کښې په اولنو دوه رکعتونو کښې د قراة الفاتحه نه پس د قران د لوستلو وجوب ذکر دے کۀ په اولنو کښې ونۀ وايې نو وروستنو کښې دې ووايي او کۀ سهواً هډو قراة ونۀ وئيلو نو سجده سهوه به وکړي او کۀ سجده سهوه ئې ونۀ کړه نو بيا به د مانځۀ اعاده وکړي.

دا بحث جاري وۀ چې يو تانېدار او دوه سپاهيان جومات ته راغلل، د راتلو سره تانېدار وايي؛ مولانا ستا نه ډېر تنګ شو—— ولې صېب ما تاسو ته څۀ وئيلي دي —— تۀ ځائے په ځائے تقريرونه کوې؛ —— صاحبه! کلے دے، د پښتو وطن دے غم ښادۍ له ځو، د کور حجرې يا جومات خلق راته ووايي، خبرې وکړه نو د خدائے رسول احکام بيان کړم —— نه، تۀ به نۀ د خدائے احکام بيانوې او نۀ د رسول —— يو طالب عمر خطاب او بل طالب ابراهيم ورته برند شو —— دا تۀ څۀ وايې؟؟ مولانا صاحب طالبانو ته ووئيل تاسو په قرار شئ، او تانېدار ته ئې ووې؛ دا تا څۀ ووئيل؟ تانېدار غوږونو له ګوتې وروړې —— مولانا صېب څۀ وکړو نوکران يو، د بره نه ټيليفونونه راځي، وار پار ئې راله خطا کړے دے.

خان خپله نوکري کوه، زۀ به د خدائے او رسول احکام مسلمانانو ته بيانوم، دا زما کار دے. کۀ حکومت خفه وي نو ما به عدالت ته وغواړي يا به مې قېد کړي. تۀ بې غمه اوسه. زما دا بيان دې کپتان ته ورسوه او کۀ د ګوړې چاۓ څښې نو کښېنه. خفه کېږه مه.

پولیسان لاړل ـ طالبانو وې دا لاڅنګه حکومت دے؟
مولانا صاحب ورته ووئیل؛ دا زمونږ ملك دے، انګرېزان تلي دي ، مسلمانان حاکمان دي ـ د خپلې کرسۍ حفاظت کوي ـ مونږ ورته بوبلا ښکارو ـ دوي به ورو ورو سم شي ـ اوس به چوتي کړو کۀ ژوند وۀ سبا له به نوے سبق وایو ـ

❁❁❁



## درسِ قران

په محله صدي خېلو طورو کښې د درس قران په اغاز کښې حضرت مولانا محمد عنایت الله یو مختصر تقریر کښې وفرمائیل؛ زما ورونړو! د بنی ادم ژوند ډېر لږ دے ـ د ژوند ضرورتونه ډېر دي، څومره څومره چې بنی ادم د ژوند سهولتونه پېدا کوي، دومره دومره مشکلات ډېرېږي ـ د خاشوپاشو جونګړې سنګین عمارتونه شو، خو انسان ئې د دنیا په کار کښې بوخت کړۀ ـ د ورځې بلها مصروفیات، بنده دومره ستړے کړي چې بیا د شپې عبادت نۀ شي کولے ـ نو ما دا فکر وکړۀ چې د مازیګر او ماښام په مینځ کښې دا لږ وخت به تاسو ته د قران پاك ترجمه او تفسیر په پښتو ژبه بیانوم او ان شاء الله د والناس پورې به دا سفر کوو ـ

زۀ یو کمزورے بنده یم، قران د الله پاك کتاب دے ـ په عربۍ کښې دے ـ زمونږ ژبه پښتو ده ـ دا کتاب یوه معجزه ده ـ پاك پېغمبر ﷺ به اصحابو ؓ ته قران رسولو چې هغوي به کوم ځائے نۀ پوهېدل نو رسول ﷺ به ورته وضاحت کولو ـ اصحابو کښې څلور یاران حضرت ابوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غنی، حضرت علی او حضرت عبدالله بن مسعود ، حضرت عبدالله ابن عباس، حضرت ابي بن کعب، حضرت زېد ابن ثابت، حضرت ابو موسیٰ اشعري او حضرت عبدالله بن زبېر رضي الله تعالیٰ علیهم اجمعین د قران عالمان وو او الله تعالیٰ

ورله پوهه ورکړې وه. ما د خپل پلار، تره او د تره د زوي نه او د ځينې نورو استاذانو نه سبقونه وئيلي دي. د تفسير ځينې عربي، فارسي، اردو او پښتو تفسيرونه راسره دي، ګورم ئې او قران ترې نه زده کوم. زهٔ اوس هم مطالعه کوم، تاريخ او فقه لولم. نو تاسو ته به د عالمانو د علم په رڼا کښې د قران ترجمه او تفسير کوم. اجرت نهٔ غواړم. توجه غواړم. تاسو زما نه تپوسونه کولے شئ. زهٔ به د خپل علم په قدر جواب درکوم.

درس جاري وهٔ. زهٔ به په درس کښې کښېناستم خو ناغې به مې هم کولې او مرعوب وم. د سورة البقره يو ايت کښې د ماه رمضان ذکر وهٔ. مولانا صاحب وفرمائيل دې مياشت کښې قران نازل شوے دے. هغوي زياته کړه چې تورات، انجيل او نور الهامي کتابونه هم په ماه رمضان کښې نازل شوي دي. قران په لېلة القدر کښې د بېت العزة نه د دنيا اسمان ته په يو ځل نازل شهٔ . بيا په خواوشا درويشت کاله کښې د ضرورت مطابق نازلېدهٔ. هغوي وفرمائيل د رمضان مياشت او په ماه رمضان کښې لېلة القدر د برکت دي (هغوي وفرمائيل د رمضان مياشت او په ماه رمضان کښې لېلة القدر د برکت دي). هغوي وضاحت وکړهٔ چې رمضان کښې په هر مقيم او روغ جوړ بالغ عاقل مسلمان سړي او ښځه روژه نيول فرض دي. مقيم هغه دے چې په کلي کور کښې وي، په وړاندېني ايت کښې دا رعايت وهٔ چې يو روغ جوړ سړي ته کهٔ روژه نيول ګران وي نو مسکين له دې طعام ورکړي خو د "شهرِ رمضان الذی" ايت دا رعايت منسوخ کړهٔ. روغ رمټ سړے يا ښځه به لازماً روژه نيسي. مريض او مسافر ته رخصت



دے چې جوړ شي او مسافر په کور شي نو بيا به خوړلے شوې روژې ونيسي. معاف نهٔ دي. البته بوډاګان مسلمانان چې روژه نهٔ شي نيولے نو هغه به د يوې روژې په بدل کښې يو مسکين له طعام ورکوي او په دې بوډا قضا نشته. دا شيخِ فاني دے.

مولانا صاحب وفرمائيل مسافرو ته اختيار دے کهٔ په سفر کښې روژه نيسي او کهٔ نهٔ نيسي ، چې په کلي کور شي نو قضا به راجارباسي او قضا جارباسل په يو نېب لازم نهٔ دي. يوه نن ونيسه بله په بله هفته کښې، اساني اختيار کړه. سختي نا. ځينې خبرې زما يادې نهٔ دي خو هغوي به د ايت په ضمن کښې فقهي مسائل په تفصيل بيانول او جتې شاګرد به ئې عالم شهٔ. ما د لال ګل نه د ميراث يوه مسئله اورېدلې ده، واحد ګل کاکا د جنازې يوه مسئله بيان کړه او د خلقو مشکل ئې حل کړهٔ. د عالمانو عنايات د الله پاک احسانات او نعمتونه دي. الله پاک دې د حضرت مولانا صاحب درجات بلند کړي. اٰمين

✿✿✿

# زمونږ د قوم څه کردار دے

د طورو د صدي خپلو په سریخ جومات کښې د عصر د مانځهٔ نه پس حضرت مولانا محمد عنایت الله د قران پاك درس ورکولو ـ د معمول مطابق یو شریكِ درس صاحب تلاوت کولو ـ د شپږمې پارې ایت ئې لوستلو؛ قَالَ فَاِنَّهَا.......... په دې ایت کښې وقف جائز په لفظ سنة دے ـ قاري په علیهم وقف وکړهٔ ـ ایت په لفظ الفسقین اختتام ته ورسېدهٔ ـ دلته رکوع هم پوره شوه ـ مولانا صاحب وفرمائیل ''فلاني صاحبه'' تهٔ خو حافظ یې ـ وقف دې په غلط ځائے وکړهٔ ـ مولانا صاحب ووئې چې حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه او نورو اصحابو رضوان الله علیهم به د قران د حلال او حرام د زده کولو سره سره د رسول الله ﷺ نه اوقاف هم زده کول ـ تاسو هم خپل استاد ته قران واوروئ او د ودرېدو یعنې اوقافو مقامونه بیا زده کړه ـ په ادل بدل وقف معنٰی بدلېږي ـ

بنی اسرائیل یو خاص قوم وهٔ ـ دولس سردارانو ئې مشري کوله ـ الله ورسره معاهده کړې وه ـ لوظ ئې ترې نه اخستے وهٔ کهٔ تاسو مونځ قائم کړهٔ، زکواة مو ادا کولو او د الله په رسولانو مو ایمان راوړهٔ او هغوي له مو تقویت ورکولو او الله تعالٰی له مو قرض حسنه ورکوله نو الله به درسره وي او ستاسو بدۍ به لرې



کړي او جنت ته به مو داخل کړي خو دغه قوم لوظ مات کړهٔ، په کتاب کښې به ئې تحریف کوهٔ ـ دا نافرمانه قوم د الله د غضب نخښنه شهٔ، په کور کښې د یو بل دښمنان شو، بیا بیا ورته هدایت او معافي کېده خو دوي نېغې لار ته نهٔ راتلل ـ عیسایانو حضرت عیسٰی ابن مریم ته الله ووې ـ کافران شو او یهودیانو ځان ته د الله زامن ووې ـ رسول الله ﷺ ورته الله راولېږهٔ او چې د دې نه پخوا چې حضرت موسٰی علیه السلام ورته ووې چې ارض مقدس ته داخل شئ نو دوي ووئیل نا هلته سرکش خلق دي، تهٔ او ستا رب دواړه لاړ شئ جنګ ورسره وکړئ ـ مونږ به دلته ناست یُو ـ هغه د ولی خان خبره ''تورې دې لالا وهي نمړۍ دې همزولا وهي''نو حضرت موسٰی علیه السلام الله پاك ته سوال وکړهٔ چې زما خو په ځان او په ورور وس دے، د دې فاسق قوم نه مو بچ کړې نو الله ورته ووې چې "فَاِنَّهَا مُحَرَّمَةٌ عَلَیْهِمْ اَرْبَعِیْنَ سَنَةً" دغه زمکه (وادئ تیه) په دوي ځلوېښت کاله حرام شوه ـ یَتِیْهُوْنَ فِی الْاَرْضِ؛ دوي به په یو محدود ځائے کښې سرګردان وو نو په دې فاسق قوم افسوس مهٔ کوه ـ کهٔ چرې مونږ په ''علیهم'' وقف وکړهٔ او اربعین سنة دغه نور عبارت سره وتړو نو بیا به ئې معنٰی بدله شي چې داسې به شي ''دغه زمکه په دوي تل عمري حرامه ده او دوي ځلوېښت کاله په زمکه کښې سروهلي بروهلي تېربدل'' ـ

مولانا صاحب واضحه کړه چې هر قران مطبوع کښې رموزِ اوقاف لیکلي دي ـ دغه وګورئ او د استاذ نه هم اوقاف زده کړئ ـ اوقاف معنې بدلوي ـ دا رکوع به سبا له بیا وایو او ځان به

پوهوو چې زمونږ د قوم څۀ کردار دے اٰیا دوي د الله تعالیٰ او د حضرت محمد رسول الله ﷺ او د خپلو قومي مشرانو حکم مني او کۀ د سرکش طاقتونو د مقابلې نه ویرېږي ۔ په ناسته نعمتونه غواړي او اٰیا مونږ د خپلو نافرمانو سزا ته ټینګ یُو ۔

❁❁❁



# د سامري ذکر

د طورو د صدي خېلو په سریخ جومات کښې حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب د قران کریم ترجمه جاري ساتلې وه ۔ لفظي ترجمې سره سره به د تفسیر او تشریح فرض هم ادا کېدل، ځینې شاګردانو به سوالونه تپوسونه هم کول ۔ اکثر به بشیر باچا د تلاوت اغاز کولو ۔ ما یوه شپه په خوب کښې بشیر باچا په جنت کښې لیدلے وۀ ۔ صادق زرګر به هم تلاوت کولو هغه حافظ وۀ ۔ د حضرت موسیٰ علیه السلام په قیصې کښې د طور په مقام د اور د لیدو او د اهل و عیال د پاره د اور نه اقتباس د راوړو د پاره حضرت موسیٰ علیه السلام لاړۀ ۔ مولانا صاحب دا قیصې د قران کریم د مختلفو سورتونو د ایتونو په ضمن کښې کړې وه ۔ د فرعون حال ئې وئیلے وۀ چې هغه به د بنی اسرائیلو نارینه بچي وژل ۔ هغوي فرمائیلي وو چې د دېرشو نه په زیاتو سورتونو کښې د حضرت موسیٰ علیه السلام ذکر دے ۔ دوي په مصر کښې پېدا شۀ او بیا الله په عجیبه طریقه د فرعون دربار ته ورسوۀ ۔ هلته لوے شۀ ، ځوان شۀ، اتفاقاً ترې نه یو قبطي قتل شۀ ۔ مدین ته لاړۀ ۔ د شعیب علیه السلام سره ئې د کار او نکاح په معامله لوظ وشۀ ۔ کلونو پس د حضرت شعیب علیه السلام لور سره ئې نکاح وشوه ۔ هغوي ووئیل طور په وادي سینا کښې غر دے ، په سینا کښې د تیه په نوم صحرا هم ده ۔ مولانا صاحب ته شاګردان همه تن ګوش وو ۔ د اور مقام ته

چې نزدې شۀ نو د غېبو اواز ورته وشۀ ، پېزار وباسه، تۀ په مقدسه وادۍ کښې يې ـ دا د حضرت عيسیٰ عليه السلام نۀ څۀ د پاسه دولس سوه کاله مخکښې واقعه ده ـ دغلته د حضرت موسیٰ عليه السلام سره د الله پاك د شان مطابق ملاقات وشۀ ـ په دغه ورځ د سورة طٰهٰ د دربمې رکوع ايتونه زيرِ بحث وو ـ حضرت مولانا صاحب په تېره هفته کښې د حضرت موسیٰ عليه السلام د ژوند واقعات تر ډېره حده بيان کړي وو ـ د هغوي د فرعون په دربار کښې د قوم د ازادۍ مطالبه او د رب تعالی د حاکميت او الوهيت دعوه په تفصيل بيان کړې وه ـ د قام د ازادۍ د تحريك په ضرورت او حقانيت ئې تبصره کړې وه ـ په دې ايتونو کښې دا قيصې جاري وه، قوم ئې رابهر کړے وۀ او د فرعون د فوځونو د تعاقب او غرقېدو تذکره وه ـ الله پاك بنی اسرائيلو ته خپل احسانونه ياد کړي دي ـ مولانا صاحب وفرمائيل چې د حضرت موسیٰ عليه السلام په غېر حاضرۍ کښې سامري د قام خلق ګمراه کړل ـ عزيز الحق او رضوان الله ما ته وکتل او په سترګو سترګو کښې ئې صادق صاحب په مخه اخستے وۀ ـ دواړو په خاموشۍ خندل ـ ما هم خندا ضبط کړې وه ـ صادق صاحب غصه وۀ ـ بد بد ئې کتل ـ مولانا صاحب په ټوله دائره يو نظر واچوۀ خو پوهـ نۀ شه چې څۀ چل دے ـ صادق صاحب ته مولانا صاحب ووئيل مخکښې ايت وايه ـ هغۀ تلاوت وکړۀ "قال فانا قد فتنا قومك من بعدك واضلهم السامري" مولانا صاحب وفرمائيل چې د الله پاك ازمېښتونه جاري وي، سامري د شرك په طرف خلق بد راه کړل ـ



سبق چې ختم شۀ صادق صاحب په خاموشۍ ووتلو ـ دا دوستانه ګپ شپ وۀ ـ څۀ وخت پس صادق صاحب د کاروبار د پاره د طورو نه هوتي ته کډه يوړه ـ په ميرافضل خان بازار کښې ئې د زرګرۍ دکان وۀ ـ الله پاك دې مونږ ټولو له سره د خپل استاذ او مشرانو کشرانو ښکلے ژوند په دنيا او اخرت کښې راکړي، اٰمين ـ

❀❀❀

# د استاذې بي بي یاد

د طورو یو عالم دین مولانا محمد عنایت الله صاحب په یوه ډائرئ کښې لیکلي دي چې زۀ د عمر دې حد ته ورسېدم چې د قران پاك د زده کولو وخت ګڼلے شۀ نو والدین صاحبینو یوې لویې استاذې ته حواله کړم ، دا استاذه زما د والد صاحب د ترۀ جناب حافظ سعدالله باباجي لور وه، دائمي مریضه وه . په دې وجه وادۀ شوې نۀ وه او په استاذې بي بي مشهوره وه . د دې استاذې بي بي سره د ماشومانو جینکو او هلکانو لوے درس جاري وۀ . د سعدالله باباجي مرحوم لوے کور وۀ . د دې کور جنوب طرف ته د باباجي مرحوم د شاګردانو او دوستانو د ملاقات د پاره د مسجد په شکل کښې باپرده ځائے وۀ او کوهے په کښې هم وۀ . اوس په کښې د ښاغلي ډاکټر محمد یوسف بېټك دے او ورسره ئې کور دے چې یو دهوبي په کښې اوسي . باباجي په دې کور کښې ډېر توتان کرلي وو . په دغه وخت کښې یوه غټه بېره هم په کښې وه . د کور د صحن په وسط کښې د خاورو یوه ډېره وه چې پښتانۀ ورته دونکاچه وایي . وارۀ ماشومان به په دې دونکاچه ناست وو او سبقونه به ئې وئیل''.

د مولانا صاحب دا تحریر ماته د سلو کالو وړاندې د طورو د یوې کورنۍ مدرسې نقشه ښايي او دا راته واضحه کوي چې مولانا صاحب د بچو د تعلیم او تدریس فریضه ادا کوي او د قران پاك تعلیم و ترویج ته خپل خدمات او خپل کور بخښي . ډاکټر یوسف صاحب د حافظ محمد ادریس صاحب ورور وۀ . د مولانا محمد اسرائیل نمسے وۀ . (زۀ اسرار د طورو د حضرت مولانا صاحب د یاد لیك نه استفاده هم کوم او خپل یادونه هم راسپړم.



دا کور او دې سره ملحقه څو کورونه د مولانا محمد عنایت الله صاحب د مشرانو وو . څۀ هغوي د کورنۍ زنانو ته ورکړل او څۀ کورونه ئې وارثانو خرڅ کړل او څۀ په ګونګه کاته کښې خلقو قبضه کړل . د مولانا صاحب مشران د بغداد نه افغانستان ته او د افغانستان نه خواوشا پینځۀ سوه کاله اګاهو د یوسفزیو سیمې ته د اسلام د تبلیغ ، تدریس او جهاد په غرض راغلي وو او تر ننه ئې د کورنۍ بچې په اماکما خوارۀ دي او محنت مزدوري کوي او د علم او ادب خدمت هم کوي . مولانا محمد عنایت الله صاحب د استاذې بي بي په دونکاچه په 1914-1915ء کښې د قران شریف د زده کړې نه د علم سفر اغاز کړۀ او د دارالعلوم دېوبند د نامتو عالم مولانا حسېن احمد مدني رحمة الله علیه نه ئې خصوصي سند حاصل کړۀ او د جون 1995ء پورې ئې خپل خدمات قوم او دین ته وقف کړل. اوس هم د هغۀ شاګردان او بچې په څۀنا څۀ شکل کښې د ملك، قوم او دین خدمت کوي.

د استاذانو د احترام دا حال وۀ چې د مولانا صاحب والد محترم مولانا حافظ سید محمد عبدالجمیل صاحب رحمه الله د مدرسه فتح پور سېکري هندوستان د صدر مدرس په عهده خدمت کولو چې خط ئې راغے چې عنایت الله سکول کښې داخل کړئ. دا هم دغه د 16-1915ء ورځې وې، نو مور ئې استاذې بي بي سره مشوره وکړه او هلك ئې په سکول کښې داخل کړۀ. مولانا صاحب لیکي ''زما والدې محترمې د استاذې بي بي په اجازت او مشوره دا بندوبست وکړۀ'' . الله دې د ټولو مشرانو مرتبې اوچتې کړي.

✿✿✿

# د قرآن کريم ګراني نکتې

يوه ورځ د محکمه تعليم يو عالم فاضل افسر سيد عبدالرازق باچا صاحب د مولانا صاحب په حجره کښې د مولانا صاحب نه تپوس وکړهٔ چې قران کښې د سليمان عليه السلام په حقله د "علیٰ کرسيه جسداً" نه څهٔ مراد دے؟ او دا جسد څهٔ شے وهٔ؟ دغه وخت ظهورالحق لاله او عزيز الرحمان باچا هم وو، زهٔ عبدالعليم باچا سره په بېنچ ناست وم، مولانا عبدالعزيز مظاهري په تخت پوش تشريف فرما وهٔ۔ د چايو دور جاري وهٔ۔

مولانا صاحب وفرمائيل، دا واقعه په سورة ''ص'' کښې مذکور ده۔ په قران کريم کښې د حضرت سلېمان عليه السلام ذکر په نورو سورتونو کښې هم راغلے دے۔ حضرت سلېمان عليه السلام هم پېغمبر وهٔ، هم بادشاه وهٔ۔قران د حضرت داود عليه السلام او حضرت سلېمان عليه السلام د علم بيان کوي۔ حضرت سلېمان عليه السلام د حضرت داود عليه السلام وارث وهٔ۔د منطق الطير علم ئې لرلو او دې روحاني مرتبې سره سره د تاج او تخت مالک وهٔ۔د جن و انس فوجونه ئې لرل۔ الوتونکي مارغان ئې مطيع وو ۔ سره د دې دنياوي طاقت د الله تعالیٰ ممنون او مشکور وهٔ۔هغه د خپل پلار حضرت داود عليه السلام او د خپل ځان په مقام او د الله په نعمتونو قائل وهٔ۔دا تفصيل ما ځکه بيان کړهٔ چې د يو پېغمبر په شان کښې به په کمال ادب خبره کوو۔ قران ورته نعم العبد او اواب وايي۔يعنې بهترين بنده او الله ته زيات رجوع کوونکے وهٔ۔ هغوي يوه ورځ د خپل اسونو معائينه



کوله، دا اصيل، خشته، جنګي اسونه ئې خوښ وو او د الله ياد ورته راتلو چې داسې مخلوق پېدا کوي۔ابن کثير ليکي، حکم ئې وکړهٔ چې دا اسونه خوشي کړئ۔هغوي تېز لاړل، پټ شو او چې واپس راوستے شو نو په څټ او پتونانو ئې ورله لاسونه راکښل۔دا د انسان د فطري محبت اظهار وهٔ۔

جسد جسم ته وايي ، تفسيرونو کښې ډېرې قيصې دي۔ روايات هم دي خو داسې ښکاري چې اسرائيليات په کتابونو کښې راننوتي دي۔

حضرت امام رازي رحمه الله په تفسير کبير کښې ليکي چې حېران يم دا حکايتونه خلقو څنګه قبول کړل "کيف قبلوا هذا الوجوه استخفية" دا رکيک بيانونه خلقو څنګه ومنل۔د لفظ فطفق معنیٰ د قران د نورو مقاماتو نه اخلو۔"وطفقا يخصفان عليهما من ورق الجنة" په سورة کښې راځي۔دلته په ځان د پاڼو لګول معنیٰ ورکوي نو خامخا په توره اسونه وهل څهٔ جواز لري۔اسونو څهٔ ګناه کړې وه۔ د يو لوے پېغمبر او عظيم بادشاه عمل هم ممتاز او قابل ناز وي ۔دا جسد يا جوسه څهٔ وه ؟ ما په قران کښې څهٔ اشاره نهٔ ده موندې نو زهٔ فی الحال خاموشي غوره ګنم''۔

مولانا صاحب ووئيل زهٔ په علم کښې د طورو د هم عصر عالمانو نه کم يم۔تاسو هغوي هم وپوښتئ۔

ظهور الحق صاحب ووئيل حافظ ادريس صاحب د طفق معنیٰ ''ټپول'' ليکي او د جسد معنیٰ ئې ''درنګه'' ليکلې ده ۔

هغوي د توارت بالحجاب نه په تفسير کښې د مفسرينو رايې "اسونه د نظرنه پټېدل، هم ليکلي دي۔تاسو هم دا معنٰی ذکر کړه۔

ما په ويره ويره ووئيل ما سره د عربو چاپ د انګرېزۍ په ژبه يو تفسير دے The Holy Quran, English Translation of the meanings and commentry، کۀ اجازت وي د هغې نه به دا مقام تاسو ته واوروم۔ هغوي ووئيل ښه به وي ، زۀ لاړم قران مې راواخست، ما قران پرانست، سورة نمبر38 پاره 23 کښې مې ايت نمبر 34 تلاوت کړۀ ۔ د تعوذ او تسميه نه پس "ولقد فتنا سليمٰن والقينا علٰى كرسيه جسدا ثم اناب"

And we did try Solomon. We placed on his throne a body but he did turn (to us in true devotion)

مونږ په سليمان امتحان وکړ، د هغۀ په تخت مو يو جسم کښېښود ولې هغه رجوع وکړه (ما ته په رېښتوني عقيده رجوع) په تفسير کښې ليکي:

What was the trial of Solomon? All the power wealth and glory, which were given to him were a spiritual trail to him. they might have turned another man’s head but he was staunch and true and while he enjoyed and used all the power he had over the jims, mens and the forces of nature, he kept the mind steady to the service of Allah (Cf. VIII 28) where “your possessions and your porgeny” are declared to e “but a trial” (4189) The body on the throne has been variously interpreted. The interpretation that appeals more is the following.

Sulaiman was at his utmost height of power and golry. Allah ta’ala tested him with a severe illness during which he was no more than a life less body on the throne. He came to realize how weak and powerless he



was in the eyes of Allah. In this state of weakness and misery he turned to Allah with humility and humbleness.

دا عبارت د انګرېزۍ ترجمه او تفسير په مدينه منوره کښې د شاه فهد د قران پاك کمپلېکس نه په 1410ھ کښې شائع شوے دے۔

مولانا عبدالعزيز مظاهري د مولانا عنايت الله صاحب په استفسار ووئيل د انګرېزۍ د دې عبارت خلاصه دا ده:

قوت،مال دولت او شان شوکت فتنه ده،حضرت سلېمانعَلَيْهِ السَّلَام په دې امتحان کښې وۀ۔ بل دا چې د هغوي اسونو سره د جهاد په کار کښې د اعانت او د الله د يو خشته مخلوق په سبب محبت وۀ او کله چې حضرت سلېمان عليه السلام په عروج کښې وۀ، نو دومره ناروغه شۀ چې بې دمه په تخت پرېوت خو دا بې مثاله پېغمبر او طاقتور بادشاه په عاجزۍ او اخلاص په هر حال کښې الله ته رجوع کوله۔لوئي او کبر د هغۀ خواله نۀ راتلل۔

مولانا صاحب وفرمائيل، دا تفسير د عقل مندۍ دليل دے۔ هغوي زياته کړه چې امام المراغي د دې ايتونو تفسير کوي او مفتي محمد شفيع صاحب په معارف القران جلد اووم، صفحه513 د حضرت عبدالله بن عباس روايت نقل کړے دے، په دې کښې د تَوَارتْ الحجاب معنٰی د اسونو د نظر نه غائبېدو ذکر دے۔دا په درېو پښو ودرېدونکي تېز جنګي اسونه وو چې واپس راوستي شول نو په مينه ئې مسح کړل ۔ د مسح معنٰی په توره پرېکول نۀ کوي۔حافظ ابن جرير طبريرَحِمَهُ الله او امام رازيرَحِمَهُ الله د دې

روایت تائید کوي ـ د رُدّوها ضمیر نمر ته نه دغه اسونو ته دے ـ
مفتي محمد شفیع صاحب دا معنٰی لیکي ـ مولانا محمد عنایت
الله صاحب وایي ''دغه شان په تخت د جسد په مسئله حضرت
مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمه الله د حافظ ابن کثیر رحمه الله د
رجحان ذکر په جلد اووم صفحه 515 لیکي چې ''قران کریم کومه
خبره مجمله پرېښې وي د هغې په تفصیلاتو کښې تلل ضرورت نۀ
لري''. بس دا کافي ده چې یو جسم په تخت د حضرت سلېمان علیه السلام
راپرېوت، دا نیمګړے مولود وۀ او کۀ د حضرت سلېمان علیه السلام د بې
هوشۍ په حال کښې وجود ـ

نو زۀ تاسو له حتمي جواب نۀ شم درکولے ـ تاسو ټول
پوهه خلق یئ او د پېغمبرانو د شان او عظمت نه واقف یئ ـ دا د
عالمانو عنایات زمونږ راهنمائي کوي ـ
الله دې زمونږ ایمان محفوظ کړي، اٰمین

❀❀❀



# خوږه ګیله

مولانا محمد عنایت الله صاحب په یوه ډائرۍ کښې لیکي:
په دویم ځل مې قران پاك د طوطۍ استاذې نه ووې ـ دا بي بي
زمونږ ګاونډ کښې وه ـ دا زمونږ د خاندان نازبینه بي بي وه ـ

د ځلورم جماعته پورې ئې صاحب زاده فضل الرحمان،
محمد جي شهید او عبدالطیف د مني خپلو استاذان وو ـ سربلند
خان د طورو یو ښکلے هلك د مولانا صاحب هم جماعت وۀ ـ یوه
ورځ د څۀ غفلت په وجه عبدالطیف استاذ د سربلند غوږ په ګوتو
کښې ونیوۀ او چې راېې کښۀ نو کچه غوږ ئې وشلېدۀ ـ په وینو
سور شۀ نو کور ته ئې ولېږلو ـ

مور به ئې یقیناً خفه شوې وي ـ خانه وه ـ بي بي وه ـ ډله
پره ئې وه خو پښتنه باداره وه ـ یوسفزۍ وه ـ اعلی اخلاق په کښې
وو ـ هغې د کور د یو نوکر په لاس استاذ له حلوه راولېږله ـ مذمت
ئې نۀ کوۀ ـ خوږه ګیله ئې وکړه ـ دا قیصه ما 65 کاله اګاهو د
مولانا صاحب نه په دې خپلو غوږو اورېدلې وه ـ مشهوره وه
''لښته ده د توت لطیف استاذ مضبوط''.

مولانا صاحب وې زۀ په خپلو غوږونو مئین وم نو سبق به
مې خامخا څۀ نا څۀ یادولو نو استاذانو به رانه غوږونه نۀ نیول ـ
په نورو وجوهاتو یا د بل چا په تېلو کښې به کله کله وسوزېدم ـ
مولانا صاحب ما ته او تاسو ته د استاد د احترام په دغه طریقه

هدایت کولو ۔ دا عنایات د هېرولو نهٔ دي ۔ الله دې ورله ابدي خوشحالۍ ورکړي۔ اٰمین

یوه خبره واضحه کول ضروري دي چې بچو له داسې ناترسه سزا ورکول هرګز مناسب نهٔ دي ۔ بچي شفقت غواړي ۔ پهلوان استاذ له د صبر شربت څښل پکار دي ګني شاګردان به ئې تشدد ته اماده شي۔

❀❀❀



## د یادونو ډیوې

''سبا له څلور روپۍ ځان سره راوړه، زهٔ به څلورم پاس هلکان مردان ته بوځم چې په پېنځم کښې ئې داخل کړم''۔دا ما ته محمد جي استاذ صاحب ووې۔ هغوي ووئیل، ستا والد صاحب د مدراس نه خط رالېږلے دے چې عنایت الله کهٔ پاس شوے وي هم ئې فېل کړه چې د سکول نه بهر شي نو اواره به ګرځي۔ زهٔ به وړاندې کال له کلي ته درځم ۔ بیا به ئې په کور کښې د سبق بندوبست وکړم؛ ولې زهٔ خپلې مور د دیني سبق د پاره مشر ترهٔ مولوي محمد اسحاق سره په مشوره د حافظ احمد شاه په سرپرستۍ کښې هوتي ته ولېږلم ۔ د باجوړو په جومات کښې د جناب حکیم احمد نور صاحب په مدرسه سراج الاسلام کښې حافظ احمد شاه صاحب مدرس وهٔ، محترم احمد نور صاحب په طبیب مُلا مشهور وهٔ۔ حکیم صاحب راته د ''صرف'' کتاب شروع کړهٔ ۔ حافظ احمد شاه صاحب هم زما استاذ وهٔ ۔ کله چې والد صاحب د هندوستان نه راغے نو بیا مې هغهٔ سره سبق شروع کړهٔ۔ دغه وخت هم مولانا صاحب وړوکے وهٔ۔ لیکې ''په سبق مې ډېره توجه نهٔ وه''۔ یوه ورځ مشر ورور مولوي لطف اله ووهلم ۔ والد صاحب ورته هم قهر شهٔ۔ د مور د جام نه ئې شل کالدارې روپۍ واخستې ۔ قطبي او کافیه دوه کتابونه او جامې ئې واخستې، دارالعلوم دېوبند ته روان شهٔ۔ د روپو پټول ئې په خپله لیکلي دي ۔ د نوښار د رېل سټېشن کښې چا خضر صورته مشر ورته ووئیل دېوبند کښې داخلې شوي دي، د شوال میاشت تېره شوې

ده، تهٔ غورغشتو ته لاړ شه او بابو ته ئې اواز وکړهٔ، دهٔ له د اټك ټهنډابیر ټکټ ورکړه ۔ دغه سړي ورته ووې چې هلته ټانګې ولاړې وي نو په ټانګه کښې ګوندل ته لاړ شه ۔ په ګوندل کښې مسجد کښې شپه وکړه، بیا په ټانګه کښې حضرو ته لاړ شه ۔ د حضرو نه درې میله لار غورغشو ته تلې ده ۔ هلته سبق وایه ۔ مولانا صاحب لیکي ''دولس بجې ریل د پېښور نه راغے ۔ په ریل کښې سور شوم ۔ دغه سړے راغلو او بیا ئې ما ته ووې چې دې ډبه کښې ناست یه ۔ ریل چې خېراباد ته ورسېدهٔ هغه سړے بیا راغے چې ګوره دغه د اټك او ټهنډابهیر سټېشن دے ۔ زهٔ د ټهنډابهیر نه په ټانګه کښې ګوندل ته ورسېدم ۔ په ګوندل کښې د دوشنبې په ورځ د څاروو لویه مېله وي ، دا د اتوار ورځ وه ۔ د ماښام ډېر هجوم وهٔ ۔ په یو دکان کښې مې ډوډۍ وخوړه ۔ د کلي په مینځ کښې یو اوچت مسجد دے، هغې مسجد ته لاړم ۔ د خفتن د مانځهٔ نه وړاندې پېش امام راغے ما ته وایي چې مخکښې به مونځ وکړې، ما ورته ووئیل چې هو ۔ نو هغه ما ته وایي زما د پټې د اوبو وار دے، تهٔ د امامتۍ نمونځ ورکړه ۔ ما ورته ووئیل چې ډېره ښه ده ۔ امام صاحب لاړهٔ ۔ لږ غوندې ساعت پس ئې ډوډۍ راوړه ۔ ما ورته ووئیل چې ما روټۍ خوړلې ده ۔ هغهٔ ووئیل خېر دے لږه به وخورې ۔ ترکاري مزېداره وه، روټۍ مې وخوړه ۔ د نمازخفتن نمونځ مې ورکړهٔ ۔ امام صاحب کټ او درې بالښتونه راکړل ۔ شپه مې وکړه ۔ سحر پېش امام صاحب چایٔ هم راکړې''۔ بیا مولانا صاحب حضرو ته لاړ ۔ د یو پیرِ طریقت میا صاحب مرحوم مسجد او مزار ته لاړم ۔ یوې کمرې ته مخامخ په



کټونو کښې په یو کټ کښې ښکلے سړے ناست وهٔ ۔ مولانا صاحب ورته حاضر شهٔ ۔ د سلام او مصافحې نه پس ترې نه هغه ښکلي سړي د کلي تپوس وکړهٔ ۔ مولانا صاحب لیکلي دي ''ما ورته ووئیل د طورو نه راغلم، فوراً ئې راته زما د والد صاحب نوم واخستلو ۔ ما ورته ووئیل زما والد صاحب دے ۔ بیا ئې تپوس وکړهٔ ۔ په څهٔ اراده راغلے یې ۔ ما ورته ووئیل غورغشتو ته د سبق په اراده راغلے یم ۔ دا وجیه انسان د میا صاحب مرحوم زوے او سجاده نشین وهٔ ۔ مولانا صاحب لیکي ''ښکلې چایٔ او پراټې ئې راوړې''۔ سجاده نشین صاحب ورسره یو سړے کړهٔ ۔ د غورغشتو لار ئې ورته سمه کړه ۔ کچه لاره وه ۔ پیاده لاړه ۔ په دغه وخت کښې حضرت مولانا قطب الدین صاحب رحمه الله د غورغشتو جامع عالم وهٔ او حضرت مولانا نصیر الدین صاحب هم وهٔ ۔ هغوي به د احادیثو درس ورکول ۔ دغلته دوه طالبان بنو ملا او وزیر ملا د مولانا صاحب شاګردان موجود وو ۔ دوي په طورو کښې پاتې وو او په غورغشتو کښې د مولانا قطب الدین صاحب شاګردان وو ۔ ګل کاکا د حضرت مولانا قطب الدین صاحب ترهٔ وهٔ ۔ په مسجد کښې دېره وهٔ ۔ ضعیف العمر وهٔ ۔ مولانا صاحب هغوي سره هم ملاقات وکړهٔ ۔ د بنو ملا نوم عبدالله خان وهٔ ۔ هغهٔ فوراً د مولانا صاحب والد محترم مولانا عبدالجمیل صاحب ته خط ولیکلو چې عنایت الله په خېر او عافیت راغلے دے او زمونږ سره دے ۔

دوي د مولانا قطب الدین صاحب درس له ځان سره بوتلو او هغوي سره ئې پېژندګلو وشوه ۔ مولانا صاحب لیکي؛ حضرت

مولانا قطب الدين صاحب په عمر کښې زما د والد صاحب نه کشر وۀ. دوي په علي ګړه کښې د حضرت علامه لطف الله صاحب رحمه الله شاګرد وۀ نو د مولانا صاحب د والد مولانا حافظ عبدالجميل صاحب د مدرسې ملګرے وۀ. د يو استاذ شاګردان لکه د ورونو وي. مولانا صاحب د حضرت مولانا قطب الدين صاحب نه کتابونه ميبذي او ملاحسن شروع کړل. مولانا صاحب ئې د روحاني توجه هم قائل وۀ. نهۀ مياشتې ئې هلته تېرې کړې. سبق سره ئې شوق زيات شۀ. دا کال مولانا صاحب (26-1925) ليکي. کېدے شي دا کال صحيح نۀ وي ځکه چې مولانا صاحب ليکي ''روژې په ما فرض نۀ وې. د پينځلسو شپاړسو کالو به نۀ وۀ. کم عمر به وۀ. پلار ورته غورغشتو ته خط ليکلے وۀ چې سبق د پاره تلے يې نو زۀ خوشحاله يم، امتحان به درنه اخلم کۀ چرې پاس شوې نو هغه شل روپۍ هم ستا شوې او پينځۀ روپۍ مياشت به هم درلېږم او کۀ فېل شوې نو دا ټول رقم به واپس غواړم.

مولانا صاحب ليکي ''زما سره به فکر وۀ، ميبذي د حکمت طبعي د فن کتاب دے او ګران کتاب دے. ملاحسن د سلم العلوم شرح ده، دا هم کافي ګران دے. دا د علمِ منطق کتاب دے. حضرت قطب الدين رحمه الله به کشران طالب علمان نۀ لولول خو د مولانا محمد عنايت الله د والد محترم لحاظ او د مولانا صاحب قسمت دا کار اسان کړۀ. مولانا صاحب به درس واخست او بيا به ئې هم په کتاب کښې، هم په تصور کښې ضبطولو. په تدريس کښې خپل شوق او د ترغيب و ترهيب ګوره اوکروړه طالب علم مستعد کړي نو دا زلمے په امتحان کښې پاس شۀ او د



انعام مستحق شۀ. په دې قيصې کښې د نوښار په سټېشن کښې د خضرِ راه التفات د ګوندل د پېښ امام ميزباني د حضرو د سجاده نشين محبت په غورغشتو کښې د عبدالله خان او وزير ملا موجودګي او بيا د حضرت مولانا قطب الدين رحمه الله په درس کښې د زلموټي هلك د حکمت طبعي او منطق ګران کتابونه لوستل د روحاني دنيا د سپلانو د پاره محض اتفاقات نۀ دي. سره د انساني کمزوريو او مالي او معاشرتي عسرتونو د مولانا محمد عنايت الله صاحب شخصيت کښې خاص و عام محبوبيت محسوسولو. علي حېدر جوشي ورته نهر عالم وې، اجمل خټك ورته د قام او ملت خادم وې، ښېګم نسيم ولي خان ته خپل ترۀ ښکارېدۀ، عبدالسبحان خان ورته د دستار سړے وې. مولانا عبدالحق صاحب د اکوړي به ئې ډېر عزت کولو. حافظ محمد ادريس ورسره مينه کوله، حافظ محمد امانت الله ته د اکابر علماو يادګار ښکارېدۀ، نوابزاده غفور خان ئې د استغنٰی او خوش بيانۍ تعريف کولو. پروفېسر تنظيم الحق حليمي له چې پروفېسر تقويم الحق صاحب د حافظ محمد ادريس، د مولانا عبدالحیٔ او د مولانا محمد عنايت الله صاحب ليکلے خطبې د جمعې د مانځۀ د پاره امريکې ته ولېږلې نو هغوي د مولانا صاحب خطبه خوښه کړه. حليمي صاحب زما استاذ وۀ. د يادونو ډيوې تل عمري رڼا وېشي. د عالمانو صاحبانو عنايات د جنت د ګلدستو خوشبويۍ دي. الله پاك دې ټولو نېکانو حق پرستو عالمانو له درجات بلند کړي. اٰمين

❁❁❁

## د حضرت موسیٰ علیه السلام او خضر علیه السلام قیصه

د قران كريم د ترجمې په دوران كښې د پينځلسمې پارې په سورة الكهف كښې الله تعالىٰ عجيبه واقعات بيان كړي دي۔ د غار د خاوندانو د اوږد خوب او بيا د خوبه راپاڅېدل د دې نه علاوه د حضرت موسیٰ علیه السلام قيصه ده۔

وَاذ قَالَ موسٰی لِفَتٰه لا اَبْرَحُ حتّٰی ابلغ مجمع البحرين او امضى حقباً o
(ايت نمبر 60)

ياد كړه چې حضرت موسیٰ علیه السلام خپل زلمي ته ووې چې زهٔ به تر هغې ځم تر څو چې دوبندو ته نهٔ يم رسېدلے۔ يا كهٔ په كلونو كلونو به ځم۔

مولانا صاحب د حضرت موسیٰ علیه السلام په ګڼو سورتونو كښې ذكر كړے وهٔ او فرمائيلي ئې وو چې د دې جليل القدر پېغمبر ذكر په ډېرو سورتونو كښې تېر شهٔ۔ بيا به هم راځي۔ دلته د حضرت موسیٰ علیه السلام او حضرت خضر علیه السلام قيصه ده۔ مجمع البحرين د دوه دريابونو يو بل سره د غاړې وتو مقام دے۔ هلته يو بنده دے چې هغهٔ سره داسې علم دے چې هغه علم حضرت موسیٰ علیه السلام سره نهٔ وهٔ۔

د الله وېش دے۔ رنګ په رنګ مخلوق لري۔ هر چا له شعور پوهه علم زور او عجيبه صلاحيتونه وركوي۔ د افغانستان د حزب اسلامي رهنما مولوي محمد يونس خالص د تقسيم هند نه مخكښې د طورو په مدرسه جمعية الابرار كښې د مولانا صاحب شاګرد پاتې شوے وهٔ۔ د هغهٔ ورارهٔ مولانا يعقوب شرافت په خپل



كتاب كښې (غالباً د هغهٔ منظوم كلام وهٔ) خپله پېژندګلو كښې ليكلي دي چې په وړومبي ځل په ما د شپې د زړهٔ درد حمله وكړه۔ دا درد په ظاهره ډېر سخت وي، وايي سحر لړم وچيچلم نو د زړهٔ درد مې ښهٔ شهٔ۔ په دې راز به ډاكټران پوهېږي۔ عجيبه كارونه كېږي۔

په بخاري شريف جلد دوهم، كتاب التفسير سورة الكهف كښې مولانا صاحب حواله وركړه چې دا مقام په حاشيه د بخاري كښې هغه مكان ښايي چې حضرت موسیٰ علیه السلام پرې دغه سړي سره ملاقي شي او د مهي د وركېدو نخښه ئې هم وركړې وه ۔ يعنې ځان سره مهے (كب) واخله چې درنه ورك شي دغه ځائے به دغه صاحب علم وي ۔ د بخاري دا حاشيه حضرت احمد علي سهارنپوري ليكلې ده ۔ هغه مجمع البحرين د فارس او روم كومه علاقه ليكي ۔ يو بل عالم د بحر الابيض او بحر الارزق سنګم يادوي، چې دا خرطوم دے ۔ مجمع البحرين به هله د خرطوم په مقام د ابيض او ارزق دريابونو د يو ځائے كېدو مقام وي چې دا خبره يقين ته ورسي چې د حضرت موسیٰ علیه السلام سفر د سوډان په طرف وهٔ ۔ مفسرينو د حضرت موسیٰ علیه السلام د زلمي خادم نوم يوشع بن نون ليكلے دے ۔ دا نوم په بخاري شريف كښې د ابي بن كعب په روايت نبی علیه السلام فرمائيلے وهٔ ۔ د حضرت موسیٰ علیه السلام علم د الهادي شريعت وهٔ ۔ هغه د توحيد بنيادي عقيده لرله ۔ دا پېغام ئې فرعون او د هغهٔ قوم ته هم وركولو او خپل قوم ته ئې هم وركولو ۔ په دې قوم د الله تعالىٰ خصوصي احسانات وو خو دوي په هر دور كښې غلطۍ كړې وې۔

حضرت موسیٰ علیه السلام او د هغهٔ ورور حضرت هارون علیه السلام د الله تعالیٰ په امر او اعانت د فرعون د ظلم او غلامۍ نه ازاد کړل. فرعون سره د لښکرو ډوب شهٔ. دوي روغ رمټ د دریاب نه ووتل. اوبهٔ او من و سلویٰ ورله الله په معجزانه طریقه ورکړل خو سره د دې دوي بغاوت کولو ته مستعد وو. حضرت موسیٰ علیه السلام ته الله پاك توراة ورکړے وهٔ او په خبرو ئې ممتاز کړے وهٔ. وكلم الله موسىٰ تكليما (سورة النساء ايت 164) بیا ورته الله پاك یو بل علم د خضر علیه السلام په ذریعه ښودلو. دغه علم د شریعت د علم نه بل شان وهٔ. هغه سړي یو ماشوم قتل کړهٔ نو حضرت موسیٰ علیه السلام پرې معترض وهٔ. هغه عالم بنده ورته ووئیل تهٔ ما سره زما د کارونو په وجه د صبر طاقت نهٔ لرې. اوس کهٔ چرې مونږ خضر علیه السلام بنی ادم ګڼو نو د قران او حدیث په رو هغه به فاني وي او د شریعت خلاف یو عمل به نهٔ شي زغملے او کولے ځکه چې الله تعالیٰ "کل من علیها فان" فرمائیلي دي. ژوندے خو تل تر تله الله دے. بل د بخاري شریف حدیث دے، مفهوم ئې دا دے چې یو ځل نبی علیه السلام وفرمائیل چې د نن نه سل کاله پس به هر هغه جاندار فنا شي کوم چې نن ژوندي دي او قران پاك واضحه کړې ده چې کل من علیها فان و یبقیٰ وجهه ربك ذوالجلال والاکرام نو کهٔ حضرت خضر علیه السلام بنی ادم دے نو هغه به تل ژوندے نهٔ وهٔ.

مولانا صاحب وفرمائیل چې په توراة کښې د حضرت موسیٰ علیه السلام د دې سفر ذکر نشته. دا ثبوت دے چې اصل توراة محفوظ نهٔ دے پاتې شوے. مولانا صاحب د پورته ذکر شوي ایت (واذ قال موسیٰ ......) نه دا استدلال وکړهٔ چې کله یو ځوان



د یو صحیح مقصد د پاره وځي نو بیا به په شا کېږي نه، سفر او کوشش به جاري ساتي. یا به مقصد حاصل کړي یا به مړ شي.

د مولانا صاحب یاداشت ډېر ښهٔ وهٔ. مطالعه به ئې کوله، شپې به ئې رڼولې او سیاسي سماجي خدمات به ئې هم کول. د هغوي عنایات بسیار دي. الله تعالیٰ دې روح په راحتونو او نعمتونو ونمانځي او په ال اولاد او قام دې لوے رب د احسانونو د ګلونو بارانونه وکړي. امین

❁ ❁ ❁

## د سيرة النبیﷺ بيان

د ګورنمنټ هائي سکول شمشاد اباد هېډ ماسټر صادق مسيح صاحب وۀ. دا صاحب د خپلې ګرجې په مذهبي مشرانو کښې د عزت خاوند وۀ. د طورو د زېد خېلو يو سمارټ زلمے په دې سکول کښې استاذ وۀ. د دې استاذ نوم محمد اقبال وۀ. اقبال يو متحرك انسان وۀ. د نوابانو خانانو عالمانو اديبانو او عامو خلقو د محفلونو په ادابو پوهه وۀ او هر چا سره به ئې تعلق ساتلو. هېډماسټر صاحب هغۀ ته دا فريضه حواله کړه چې د ربيع الاول مياشت ده، د حضرت محمد رسول اللهﷺ په ياد کښې په سکول کښې د سيرة النبی په عنوان يو تقريب کوو. محمد اقبال د سکول يو خدائي خدمت ګار استاذ ته درخواست وکړۀ چې تاسو د سکول هلکانو له تقريرونه وليکئ، د قطب ګړ قاري صاحب د قرات او نعتونو د پاره به طالب علمان تيار کړي او مشر مېلمه به د طورو مولانا محمد عنايت الله صاحب وي. هغوي به په سيرة تقرير وکړي.

هلکانو له تقريرونه د لائبرېرۍ د کتابونو په مدد تيار شو. دا کار دغه خدائی خدمت ګار استاد په يکي سر وکړۀ. د شپږم نه تر لسم جماعت د هلکانو لس سبکشنه وو، لس هلکانو له واړۀ واړۀ تقريرونه تيار شو. د پاك نبیﷺ د ژوند او سيرة مبارك حالات په ترتيب د وړوکوالي نه تر وفات د عمر په لحاظ په ترتيب هلکانو ته حواله شو. هغوي تقريرونه ياد کړل. محمد يونس استاذ او محمد زاهد استاذ ورته د تلفظ او ادائيګۍ



تربيت وركړۀ، چې مقرره ورځ راغله د سكول مېدان كښې سټېج جوړ شۀ. پنډال تيار شۀ. په تالار كښې اقبال هلكان په ترتيب او نظم و نسق كښېنول.

حضرت مولانا محمد عنايت الله صاحب په ټاكلي وخت په ټانګه كښې راغے. د صدي خېلو طورو رضا محمد ورسره وۀ. دا د تحسين الله ورور وۀ. بې تعليمه زميندار وۀ. كر پوله ئې پېشه وه. د مولانا صاحب په عقيدتمندو كښې وۀ. هېډ ماسټر صاحب او استاذانو د مولانا صاحب استقبال وكړۀ.

جلسه په وخت شروع شوه. محمد اقبال د سټېج سكتر وۀ، هلكانو تلاوت وكړۀ. صدرِ محفل مولانا صاحب وۀ. نعتونه او تقريرونه وشو. د سيرة بيان د معتبرو كتابونو په حواله هلكانو وكړۀ. نعتونه هم ووئيلي شو. اخري خطبه د مولانا صاحب وه.

د هغوي بيان په ساده اسانه روانه پښتو كښې وۀ. هغوي وفرمائيل يو بچي د پاك نبیﷺ د پس مرګي پېدائش او بيا د مور بي بي امنې وفات او بيا د هغوي د نيكۀ حضرت عبدالمطلب د وفات ذكر وكړۀ. د اتو كالو په عمر كښې حضرت محمدﷺ بې پلاره بې موره بې نيكۀ يتيم يسير او بې سرپرسته معصوم پاتې شۀ. معاشره د كفر او شرك وه. بت پرستي وه. بد كارونه به كېدل. منظم ژوند نۀ وۀ. حكومت نۀ وۀ. قبائلي ژوند وۀ. سكول مدرسه نۀ وه. د دې يتيم بچي د تعليم او تربيت په ظاهره څۀ اثار نۀ وو.

مولانا صاحب وفرمائیل ''بچو! په دې کښې یوه نکته ده . الله پاك دنیا ته ښایي چې د ماشوم بچي د ظاهري محرومۍ باوجود الله تعالیٰ د هغهٔ تربیت کوي نو په ماشوم والي کښې ئې خوي خصلت ښکلے وي. نن د نبی علیه السلام د وړوکوالي قیصې د دنیا مختلفو ژبو عالمانو په زرګونو کتابونو کښې لیکلي دي. داسې حیاناك، باادب، مننونکے او سوتره ماشوم د ټولو خلقو د پاره ځلېدونکے مثال دے. هغه د اخلاقو په اعلیٰ مرتبه فائز وهٔ.

مولانا صاحب وفرمائیل د حضرت ابوطالب په کور کښې د هغهٔ دا یتیم یسیر وړوکے د اتو کالو د عمر نه تر ځوانۍ ورسېدهٔ. ترهٔ ئې وهٔ. مینه ئې ورسره کوله کله چې حضرت پاك زلمے شهٔ. ترهٔ ئې عیال دار وهٔ نو حضرت محمد ﷺ به ورسره کومك کولو . مزدوري به ئې کوله. په تودو شګو کښې به ئې ګډې بیزې څرولې. مشقت به ئې کولو . نو بچو! په دې کښې یوه نکته ده چې د چا په سر د الله پاك د رحم او شفقت سېوري وي، هغه وفادار وي . د احسان بدله کښې احسان کوي. الله ورله داسې اخلاق ورکړي وو چې ترهٔ سره ئې په معاشي ژوند کښې امداد کوهٔ. ارام طلب او بې محنته نهٔ وهٔ. حضرت علی رضی الله عنه ئې د ترهٔ زوے وهٔ. هغه وایي؛
لم ارقبله ولا بعده مثله (ما د دوي نه وړاندې یا وروستو د دوي په شان څوك ونهٔ لیدهٔ.)

مولانا صاحب وفرمائیل ستاسو یو ملګري د رسول علیه السلام د ځوانۍ او شباب په ژوند مختصر تقریر وکړهٔ. هغوي ووئیل چې رسول الله ﷺ د نبوت نه مخکښې په ځوانۍ کښې چرې بتانو



لکه د مشرکانو سجدې نهٔ کولې. هغوي چرې جواري نهٔ وه کړې. شراب به خلقو څښل خو پاك نبی ﷺ چرې شرابو ته توجه نهٔ وه کړې. مولانا صاحب وفرمائیل د مکې او ګېر چاپېره علاقه کښې د اخلاقو معیار ډېر غورځېدلے وهٔ خو دا ښکلے ځوان د نورو خلقو نه بل شان وهٔ. د لوبو سندرو او قیصو افسانو د محفلونو نه به لرې وهٔ . دهٔ به دروغ نهٔ وئیل . په صادق او امین یاد شهٔ . د حضرت ﷺ د دې پاکیزه کردار مشرکان، یهودیان او نصاریٰ پخوا هم قائل وو او نن هم. د انصاف خاوندان د دې حقیقت قائل دي. په دې کښې یوه نکته ده چې الله پاك د نبوت نه مخکښې دا ښکلے انسان د یو پاکیزه او بې ازاره بې عېبه شخصیت په صورت کښې په عام او خاص پېژندل غوښتل چې سبا له دے پېغمبر شي نو د دهٔ د تېر ژوند نقشه به د هر چا په نظر کښې بې عېبه او بې داغه وي. دا ځوان په لېن دېن کښې دیانتدار ومنلے شهٔ. شریفانو زلمیو سره ئې صحبت وهٔ.

ابوبکر صدیق، حکیم بن حزام او د ثعلبه زوي ضماد ئې دوستان وو . دا کسان په ټولنه کښې ممتاز وو . د خانه کعبې د بیا تعمیر په موقع د حجرِ اسود د کېښودو په مسئله اختلاف پېدا شهٔ نو فېصله ئې په محمد ﷺ وکړه . مولانا صاحب وفرمائیل چې د امانت او دیانت شهرت ئې خور شهٔ نو بي بي خدیجة الکبریٰ رضی الله عنها ورته د خپل تجارتي مال او قافلې نګراني حواله کړه . هغوي په داسې ایماندارۍ دا کار وکړهٔ چې دې مالداري کونډې خاتون ورته د نکاح پېغام ورکړهٔ . دغه وخت

حضرت ﷺ د پينځۀ ويشت کالو وۀ . هغوي ترۀ حضرت ابوطالب خبر کړۀ او ترۀ ئې دا دعوت قبول کړۀ . د دواړو نکاح حضرت ابوطالب وکړه. تاسو وګورئ دے پاك انسان د خپل مشر په مشوره وادۀ وکړۀ . په دې تاريخي واقعه کښې نکتې دي . يو دا چې هر اهم کار د مشرانو په اجازت کول پکار دي. بل دا چې د ښځې خاوند په عمرونو کښې فرق څۀ عېب نۀ دے چې په ودونو کښې رکاوټ شي.

ګرانو بچو! کوم خلق چې د مشرانو قدر کوي هغوي عزت مند شي . د وادۀ نه پس اسودګي راغله . بچي پېدا شو . نارينه اولاد ئې په وړوکوالي کښې وفات شۀ. څلور لوڼه ئې وپائېدې.

د څلوېښتو کالو په عمر کښې ورته الله تعالىٰ د نبوت او رسالت ذمه واري په غاړه کړه او حکم ورته وشۀ چې پاسه دا خلق د شرك، کفر او بدعملو د انجام نه او د الله د قهر او غضب نه ويره وه.

بت پرست او بد اخلاقه خلق د حضرت ﷺ د توحيد په اعلان خفه شو . هغوي خانه کعبه منله خو د ګټو بُتان ئې خدايان ګڼل. د بتانو خلاف د الله د يو والي په مسئله مخالف شۀ. حبيب پاك ﷺ ورته ووئيل: فقد لبثت فيکم عمراً من قبله ط افلا تعقلون.

مولانا صاحب وفرمائيل د نبي عليه السلام مطلب دا وۀ چې زۀ څلوېښت کاله تاسو سره پاتې شوم زما اخلاق صداقت، ديانت او شرافت تاسو ليدلي دي او دا درته هم معلومه ده چې زۀ امي يم نو تاسو د عقل نه کار واخلئ. زۀ به اوس په دې عمر کښې تاسو



ته غلطه خبره ولې کوم او دا کوم کلام چې تاسو ته وړاندې کوم يو بې تعليمه بنده دا اعلىٰ کلام څنګه جوړولے شي.

محترمو استاذانو صاحبانو او بچو! زمونږ خوږ پېغمبر ﷺ دغه خلقو ته د توحيد او نېکو اعمالو هدايت کولو. عام او خاص خلق بت پرست وو . د ښۀ او بد معيار ئې بدل وۀ نو هغوي د حضرت محمد رسول الله ﷺ مخالف شو او چې څوك به مسلمان شۀ په هغۀ به ئې ظلمونه کول . د نبي عليه السلام د قتل منصوبې ئې جوړولې. ديارلس کاله ئې ورسره بدسلوك وکړۀ نو حضرت مدينې منورې ته هجرت وکړۀ. د مدينې څينې بختور خلق د مخکښې نه مسلمانان شوي وو . هغوي رسول الله ﷺ ته بلنه ورکړه چې مدينې ته راشه . مونږ به دې مدد کوو . ستاسو انصار به يو . د هجرت نه پس دې کفارو سره جنګونه وشول . اخر مکه فتح شوه . اسلام په ټول ملك کښې خور شۀ او قران کريم مکمل شۀ. د اسلام دين کامل مکمل شۀ . نبي عليه السلام ټول مفتوح خلق معاف کړل . د انساني مساواتو اعلان ئې وکړۀ. يو نظامِ مملکت ئې پرېښود او بيا الله پاك ځان ته وبلۀ. انا لله و انا اليه راجعون. زمونږ او د ټولې دنيا خېر په دې کښې دے چې د رسول کريم ﷺ دين ومنو او عملاً د قران او سنت نظام په ملك کښې قائم کړو نو امن او سلامتي به راشي.

په اخر کښې زۀ ستاسو د هېډ ماسټر صاحب، ستاسو د استاذانو او ستاسو شکريه ادا کوم چې تاسو زما خبرو ته غوږ کېښود . الله پاك دې تاسو او مونږ ښاد او اباد لري، والسلام.

دا خاطره ما د ياداشت په زور وليکله. کمې زياتې به په کښې وي خو وروستو استاذانو د دې تقرير ستائينې کولې او جناب رضوان الله صاحب ايم اې بي ټي به بار بار وئيل؛

''مولانا صاحب جيد عالم دين دے''

❁❁❁



## حضرت حسين احمد مدنى رحمة الله عليه امتحان واخست

د طورو نوابزاده نصرالله خان صاحب ما ته په يو ملاقات کښې ووئيل چې حضرت مولانا محمد عنايت الله صاحب وفات شۀ نو د هغوي نه پس بل داسې عالم په طورو کښې پېدا نۀ شۀ چې د هغوي په شان وجاهت او د قام د اصلاح او د دين د خدمت جذبه لري. ما ورته عرض وکړۀ، مولانا صاحب خپل ټول ژوند د قام خدمت او د ديني علومو تدريس ته وقف کړے وۀ. مالي منفعت ئې مقصد نۀ وۀ. اخلاص په کښې وۀ. غريبي فقيري ئې قبوله وه.

هغوي په خپله يوه ډائرئ کښې ليکي چې په هلکوانه کښې چې چچ نه راغلم او پلار محترم رانه امتحان واخست، پاس شوم. دغه ورځو کښې د سوات د والي ميا ګل عبدالودود صاحب خط مې والد صاحب له راغے، ليکلي ئې وو چې تا زما سره وعده کړې وه اوس به وعده پوره کوې، سبدو شريف ته راشه او د راتلو تاريخ وليکه چې د تانړې (سوات) نه دې د سورلئ بندوبست وکړو. مولانا صاحب ليکي، سړک نۀ وۀ د اس يا کچر په ذريعه به تلل کېدل. هغوي والد صاحب د ځان سره سوات ته بوتلو. سوات کښې د مولانا صاحب پلار حضرت مولانا حافظ عبدالجميل صاحب د ولي عهد جهانزېب عبدالحق استاد شۀ درسِ نظامي ئې ورته ښودلو. په سوات کښې مولانا صاحب د خپل پلار نه د درسِ نظامي کتابونه ولوستل.

مولانا قطب الدين صاحب سره د مولانا صاحب تر عمره عمره عقيدت وۀ ـ استاذ صاحب به هم يادولو ـ د مولانا صاحب ځينې شاګردان به چې ته سبق له لاړل نو مولانا قطب الدين صاحب به د نهو مياشتو د دې شاګرد تپوس ضرور کولو ـ روحاني رابطه ئې هم وه ـ په خوب کښې ورله درسي مشکلات هم حل کړي دي ـ د خوبونو د تعبير په معرفت پوهه خلق رايې لري ـ حضرت يوسف عَلَيْهِ السَّلَام خو فرمائي؛ ذالکما مما علمني ربي (سورة يوسف اية 27) دا د هغه علومو نه يو علم دے چې ما ته الله راکړے دے ـ

د مولانا صاحب اراده وه چې د دارالعلوم ديوبند نه سند واخلي ـ حضرت مولانا حسين احمد مدني رَحِمَهُ الله ته ئې خط وليکلو چې ما ټول درسي کتابونه د خپل والدحضرت مولاناحافظ عبدالجميل صاحب نه، د خپل ترۀ حضرت مولانا محمد اسماعيل صاحب او د خپل عم زاد حضرت مولانا حافظ لطف الرحمان صاحب نه درساً لوستي دي ـ د احاديثو کتابونه مې هم لوستي دي ـ په دارالعلوم ديوبند کښې د احاديثو دوره کول غواړم، هغوي وې راشه ـ په 1942ء کښې لاړۀ، څو ورځې د مولانا مدني رَحِمَهُ الله ميلمه وۀ ـ مولانا حافظ عبدالجميل صاحب د علي ګړهـ د علامه لطف الله صاحب فخرِ روزګار شاګرد وۀ ـ د معدن العلوم رام پور، د مدرسه لطيفيه ويلور مدراس او د مدرسه فتح پوري دهلي صدر مدرس پاتې شوے وۀ ـ شيخ الحديث علامه انور شاه کاشميري رَحِمَهُ الله ئې شاګردي کړے وۀ ـ حضرت مولانا رشيد احمد



ګنګوهي به ورسره رابطه ساتله ـ په فتاوىٰ رشيديه کښې د حضرت رَحِمَهُ الله يوه فتوىٰ د ايمان د نقص و زيات والي په حقله درج ده ـ دا ثابته شي چې اکابرو عالمانو پيژندۀ ـ بحر حال د يو جم غفير په موجودګۍ کښې حضرت مدني رَحِمَهُ الله د مولانا صاحب رَحِمَهُ الله نه په درسي کتابونو کښې تفصيلي امتحان واخست ـ د والد محترم په جوابونو مطمئن شۀ ـ هغوي خوشحاله شو ـ د مولانا صاحب والد محترم د طريقۀ تدريس تعريف ئې وکړۀ او خصوصي سند ئې ورکړۀ او دعا ئې ورته وکړه ـ

د شيخ العرب والعجم د عناياتو قدر، هميشه حضرت مولانا صاحب، د علمِ دين د اشاعت او د علمائے دين د احترام په شکل کښې عملاً وکړۀ ـ دا قابلِ صد افرين و تحسين انسان د دين او قام په خدمت چرې هم ستومانه شوے نۀ وۀ ـ زۀ د هغوي د ذاتي او کورني تکليفونو نه بيس په بيس خبر وم ـ قران کريم د رحمة للعلمين سره د قريبي رشته دارو د ازغن سلوك ذکر کړے دے ـ مولانا صاحب د صبر او استقامت غر وۀ ـ د کاڼو ګوزارونه صابر خلق برداشت کوي ـ مولانا صاحب چرې ګيله هم نۀ وه کړې ـ د سزا او جزا ورځ نزدې ده ـ زۀ د عالمانو عنايات د الله انعام ګڼم او دا سوال کوم چې لويه ربه د دين عالمانو له د دين دنيا خوشحالۍ ورکړې، امين ـ

❁❁❁

# اړے ګړے دے

مولانا محمد عنایت الله صاحب په یوه ډائرۍ کښې د 27م اپرېل 1994ء د شورو په ورځ د سحر په پاو باندې یولس بجې لیکلي دي چې:

اړے ګړے دے، بدامني اغواګانې او ناحق قتلونه کېږي؛

دغه دور کښې محترم لغاري صدرِ مملکت وهٔ. بې نظیره بي بي وزیراعظمه وه. مولانا صاحب لیکي: ټماټر د شپاړسو نه تر شلو روپو کلو نرخ لري. په دغه دور کښې د اتلسم ګرېډ د افسر ابتدائي تنخواس5065 روپۍ وه .دې سره به خواوشا 800 روپۍ الاونسونه جمع شو نو 5865 روپۍ به ترې جوړېدې. د ملك ډېر سرکاري نوکران په ښکته ګرېډونو کښې نوکري کوي، په مشکله درې څلور سوه روپۍ د میاشتې معاوضه اخلي. اوس د نورو څیزونو د نرخونو فهرست کهٔ وګورو او بیا د بې روزګارۍ شمار معلوم کړو نو حېران به شو چې د پاکستان عوام ژوند څنګه تېروي.

مولانا صاحب لیکي: د ګرانۍ مرض د عوامو دماغ معطل کړي دي. د سرخ پوشانو نامي ګرامي لیډر غلام احمد بلور صاحب په قیصه خوانۍ کښې بهوك هړتال کړے دے. د حکومت خلق وایي چې دا تکلیف تېرو حکومتونو راوستے دے او په عبدالولي خان او نواز شریف الزام لګوي. حال دا دے چې عبدالولي خان خو وزیر نهٔ وهٔ پاتې شوے.



مولانا صاحب په جون 1995ء کښې د دنیا نه لاړ. هغوي ته څهٔ پته ده چې نن ټماټر250 روپۍ کلو کېږي او اقتدار د تحریك انصاف نومې پارټۍ په لاسو کښې دے. د حکومت د خلقو معلومه پالیسي ده الزام په سابق حکومتونو لګوي. د ووټ حېثیت د ردي کاغذ دے. په لږو پېسو پنډ کاغذونه کېږي. ووټر به ټماټر پسې په سرو سترګو ژاړي او په بندو کمرو کښې به افسران ردي کاغذونه شماري او چې ماښام شي نو د زورزور خان د موټر نه به د ګټات دوپړۍ غړمبېږي. دا سیاسي لوبه ده.

مولانا صاحب د خپل ملك حالات په یو څو جملو کښې تاریخ ته عنایت کړي دي. د مولانا صاحب تبصرې هر څهٔ چې وي مونږ چې د خپل وطن حالاتو ته ګورو او د تاریخ په ائینه کښې د ماضي جائزه اخلو نو وینو ګورو چې په عمومي ډول کشتۍ په ښکته روانه ده.

شخصیتونه اقتدار ته ورسي، یوه پارټي وګټي خو امن او خوشحالي د دې قام خوا له نهٔ راځي. هر لیډر ښهٔ دے خو حالات ښهٔ نهٔ دي. اسلام او مساوات، ازادي او تبدیلي، ډوډۍ او مکان او د کشمیر د جنګ په عنوان د اقبال د شعر الحان، د سیاست نعرې دي. نعرې خوږې دي خو ورځې شپې ډېرې ترخې دي. مونږ اسمان ته سترګې نیولي دي. د الله پاك عنایت ته په انتظار یو چې د ظالمانو زور اوبهٔ کړي.

❀❀❀

# يو معتدل انسان

مولانا صاحب محمد عنايت الله يو معتدل انسان وۀ . د انسان د خېر او مفاد د پاره کوشاں وۀ . د يو نفر ښۀ عمل به ئې نازولو . کۀ هغه نفر به د هر قوم وۀ . يوه پارټي ئې وه خو د بلې پارټۍ د يو فرد ښۀ کار به ئې ستائيلو . د خپل قام مفاد ئې په نظر کښې وۀ خو تعصب په کښې نۀ وۀ نو په حق اقدام به ئې د بلې پارټۍ د رکن هم ستائينه کوله . محترم ميا نواز شريف صاحب يو ځل د طورو مېرې يو کلي شريف اباد ته د وزيراعظم په حېثيت يوې مظلومې بوډۍ ښځې له د تسلۍ د پاره راغلے وۀ چې په کور ئې قاتلانو حمله کړې وه او ماشومان ئې وژلي وو .

ميا محمد نواز شريف صاحب سره محمد اعظم خان هوتے وفاقي وزير او اجمل خټك هم وو . په دې واقعه مولانا صاحب ډېر زيات خوشحاله شوے وۀ . هغوي د نواز شريف ستائينه کړې ده . په ډائرۍ کښې ليکي: ''د نواز شريف دا کردار د فاروقِ اعظم ﷛ د کردار تابعداري ده ''

د مولانا صاحب دا جمله واضحه کړي چې بې کينې خلق د يو مسلمان ښۀ عمل ته ښۀ وايي . مولانا صاحب ليکي؛ پيپلز پارټي وايي چې نواز شريف د ائنده ووټونو د پاره مېدان تياروي . مولانا صاحب زياته کړې ده چې پاکستان کښې داسې وزير اعظم نۀ دے راغلے، نواز شريف د وزارت کچن کښې ډوډۍ نۀ خوري . عمره او حج په ذاتي خرچ کوي . کارخانه دار دے، ډېر دولت مند دے . دولت په کار کسب ، تجارت ګټي . د پلار ئې هم کارخانې دي .



مولانا صاحب د وزير اعظم کردار ته په مثبت انداز ګوري . دا تحرير مونږ له تعليم راکوي چې د يو سړي ظاهري عمل ته په شك نۀ دي کتل پکار . دې کۀ صادق نۀ وي منافقت کوي نو مونږ له پکار دي چې باور پرې وکړو . ورورې او سپېرې په کښې نۀ لټوو . د زړۀ په حال ئې الله پوهېږي . هغه به ورسره حساب کتاب کوي . الله دې مونږ له توفيق راکړي چې مونږ د تعصب او ډله بازو نه بالاتر ژوند تېر کړو ، اٰمين . د مولانا صاحب عنايات بسيار دي . مونږ به د هغوي او د خپلو يادونو په رڼا کښې د دې عناياتو نه فائده اخلو او هغوي ته او د هغوي اولاد ته او ټولو مومنانو او مسلمانانو ته به دعا کوو چې الله تعالٰی ټولو ته د مينې محبت او اکرامِ مومن او اکرام مسلم توفيق ورکړي، اٰمين .

❀❀❀

# مولانا صاحب او موکوليکا بېنرجي

مولانا محمد عنايت الله صاحب په ډائرۍ کښې ليکي چې:

په 25م مارچ 1992ء د نېشنل پارټۍ د ضلع مردان صدر عبدالحميد خان ايډوکيټ طورو ته د راقم الحروف ملاقات له راغے او دا ئې ووئيل چې يوه مېلمنه زنانه د بېګم نسيم په ذريعه د محمد اعظم خان په کور کښې مقيم ده . د پي ايچ ډي ډګري اخستل غواړي . د لندن د اکسفورډ يونيورسټۍ طالب علمه ده . دې زنانه د باچا خان مرحوم په شخصيت د مقالې ليکلو اراده کړې ده . دا د باچا خان تفصيلي تاريخ معلومول غواړي . عبدالحميد خان ووئيل چې زما په خيال کښې راغله چې مولانا صاحب به زمونږ امداد وکړي.

مولانا صاحب عبدالحميد خان سره لاړ . مېلمنې سره ملاقات وشۀ . د باچا خان په حقله دوه ګېنټې خبرې وشوې . مېلمنه ډېره خوشحاله شوه . نوټس ئې واخستل او ډېر په خوشحالۍ ئې مولانا صاحب ته ووئيل چې زما مقصد پوره شۀ . هغې د مولانا صاحب تصويرونه په کېمره واخستل او ځان سره ئې د هغوي پته وليکله.

دا ښځه موکوليکا بېنرجي (Mukulika Baner Jee) وه .
د دې د مقالې عنوان وۀ
"بې وسلې پښتون" The Pathan Unarmed،



دا خاتون په اکسفورډ کښې لکچراره وه او د مزيد تعليم او تحقيق شوق ئې پوره کول غوښتل . زۀ اسرار د طورو د عبدالحميد خان صاحب ايډوکيټ سره په يوه موقع ناست وم نو د دې واقعې ذکر ئې راته کړے وۀ . دا مقاله بيا په اکسفورډ پرېس کښې چاپ شوه . د INFORMANTS په فهرست کښې په نمبر 65 د مولانا صاحب نوم درج دے او په صفحه 127 د هغوي يو قول د باچا خان په حقله ليکلے دے .

مولانا صاحب ليکلي دي چې دې مېلمنې د لر بر پښتنو په مينځ کښې د انګرېزانو د زنځير په حقله څۀ معلومات ذکر کړل، وئيل ئې انګرېز خوږ دشمن وۀ . په ماجبونو ئې قوم د ازادۍ نه غافل کړے وۀ او د يو بل نه ئې جدا کړے وۀ . دا مقاله نګاره افغانستان ته هم تلونکې وه هلته د باچا خان ؒ مزار ته ئې تلل غوښتل . دا يو علمي کار وۀ . مولانا صاحب هغې سره په اخلاص اعانت وکړۀ . دا د رشکۍ د ډاکټر وارث خان صاحب ملاقات له د عبدالحميد خان او مولانا صاحب په ملګرتيا کښې لاړه . د باچا خان خدائي خدمت ګاران مينه ناك خلق وو . دا غېر ملکي خاتون د پښتنو مشرانو په عزتمندانه سلوك ډېره خوشحاله وه . د پښتنو عنايات په تاريخونو کښې رقم دي .

❀ ❀ ❀

# طوروکلے د خانه جنګۍ نه بچ شو

مولانا صاحب محمد عنایت الله صاحب د خان عبدالغفار خان په تحریك کښې د ازادۍ مبارز وۀ. کله چې د ملك د عوامو د جدوجهد په نتیجه کښې انګرېزان د هندوستان نه تلل او د ملك اختیار ئې د وطن د وېش په صورت کښې ال انډیا نېشنل ګانګرېس ته حواله کول غوښتل نو داسې حکمت عملي ئې وکړه چې هندوان او مسلمانان ئې یو بل ته مشتعل کړل او په وطن کښې فسادات شروع شو. هندوانو به مسلمانان وژل او د ملك نه به ئې شړل چې تاسو پاکستان ته لاړ شئ. دا قتل عام او لوټ مار په عروج وۀ. دلته د مسلمانانو په اکثریتي سیمو کښې د رد عمل په طور د هندوانو د وژلو او لوټلو مېدان ګرم شۀ.

د طورو نوابزاده سعدالله خان او یو وکیل صاحب مولانا صاحب ته پېغام راولېږلو چې د عزیز الله خان دېره کښې ما سره ملاقات وکړه. مولانا صاحب په ډائرۍ کښې لیکي:

راقم الحروف په مقرره وخت لاړۀ. خان بهادر صاحب ووئیل چې د هندوانو د قتلونو او د هغوي د دکانونو د لوټولو سلسله شروع شوې ده. زۀ به خپل نوکران او زما د ډلې ځوانان راولم او تۀ سرخ پوشانو ته ووایه چې بازار ته به راوځو او د هندوانو حفاظت به کوو.

مولانا صاحب د دې تجویز په حق کښې نۀ وۀ نو نوابزاده صاحب ته ئې ووئیل:

د طورو هندوان دکان داران دي. ستاسو په دکانونو کښې تجارت کوي. کرایه درکوي او په اختر شوقدر کښې ستاسو



سلام له راځي. تحفې هم راوړي او په دې هندوانو کښې یو هندو هم داسې نشته چې د ازادۍ په تحریك کښې ئې شمولیت کړے وي نو په مونږ د دوي د حفاظت هېڅ ذمه داري نشته. ذمه واري ستاسو ده.

خان بهادر صاحب خاموش وۀ او فوراً د عزیز الله خان د دېرې نه لاړ.

مولانا صاحب سره ویره وه چې کۀ سرخ پوش زما په وېنا راوځي او د نواب زاده صاحب نوکران او د ډلې خلق هم راوځي نو ضرور به ځوك داسې حرکت وکړي چې د کلي ځوانان به یو بل ووهي او د هندوانو په ځائے به مسلمانان پښتانۀ یو بل ووژني نو مولانا صاحب دا تجویز رد کړۀ.

بیا څو ورځې پس یو صاحب د ضلع بهار د هندوانو مظالم د حجرې خلقو ته بیان کړل چې مسلمانان وژني نو د طورو د زېد خېلو یو ځوان او د نودیهه طورو یو ګلاب ګرم شو د مقرر نه ئې تپوس وکړۀ چې کۀ مونږ دلته د هندوانو نه بدل واخلو نو دا به څنګه وي. هغۀ غالباً د ثواب کار ورته ووې نو دغه ځوانانو دا ''جهاد'' وکړۀ یو څو غریبانان ئې قتل کړل. په دغه دوه کسانو کښې یو تن مونږ ته څو کاله پس په یو محفل کښې د دې مهم تفصیل بیان کړۀ خو داسې ښکارېدله چې په دغه اقدام ئې فخر نۀ کولو. د مولانا صاحب په عنایت د خانه جنګۍ نه طورو کلے الله بچ کړۀ.

❁❁❁

# د مولانا نوم

د مولانا محمد عنایت الله والد صاحب رحمه الله د علي ګړهـ د مشهور عالم دین مولانا لطف الله فاروقي ممتاز شاګرد وۀ ۔ مولانا قطب الدین صاحب د چچ ئې هم شاګرد وۀ ۔ دے په عمر کښې د اول الذکر نه کم وۀ ۔ مولانا عبدالجمیل صاحب ډېر قابل او خواري کښ وۀ ۔ نو خاص توجه ورته کېده ۔ د دې شاګرد د خپل استاد سره مینه وه نو د هغوي د زوي محمد عنایت الله نوم ئې زوي له اېښے وۀ ۔ دا زوے ئې لیکي چې باچا خان مرحوم په خپل کتاب ''زما ژوند او جدوجهد'' کښې د خپل حج او د بیت الله شریف د سفر په اخر کښې لیکلي دي چې واپس کراچۍ ته راغلم یو پښتون تاڼه دار مېلمه کړم ۔ په کراچۍ کښې نواب زاده امین الله خان د طورو عرف حاجي خان وۀ، د محکمه رېل وې (Railway) لوے افسر وۀ ۔ هغه خبر شۀ نو خپلې بنګلې ته ئې بوتلم ۔ دوه ورځې د هغۀ مېلمه وم ۔ باچا خان سره په دغه سفر کښې د ترۀ زوے عطا الله خان او د عبدالغني خان مور هم وه ۔ دا بي بي په بېت المقدس کښې وفات شوې وه ۔ دوي د حاجي کېمپ کراچۍ نه د عبدالله هارون صاحب بي بي خپل کور ته بوتلل ۔ د عطا الله خان بېګم د باچا خان خور هم دوي سره حج له تله ۔ جهاز کښې ټولو ته د سمندر د حبس او د هجوم په وجه دربمه درجه کښې ډېر تکلیف وۀ ۔ خور ئې ډېره ناروغه شوه ۔ باچا خان ډرائیور له پېسې ورکړې نو هغۀ ورته د سامان یوه کمره خالي کړه ۔ په اتۀ ورځې کښې جهاز عدن ته ورسېدۀ ۔ دا 1926ء وۀ ۔ دغلته جهاز یو



شواروز ولاړ وۀ ۔ یخني وه ۔ باچا خان انفلوائنزا ګېر کړۀ ۔ د پېسو په برکت دے د فسټ کلاس برانډې ته تلے وۀ ۔ بې ځانه پروت وۀ ۔ یو عرب ولید، خپل فرسټ کلاس ته ئې بوتلو ۔ د باچا خان خدمت ئې وکړۀ ۔ په جده کښې سره ټول یو ځائے شو ۔ سامان، د بي بي جامې چې د سرو زرو تنې په کښې وې، په جهاز کښې پاتې شۀ ۔ د رپورټ نه پس حکومت په معلم زور واچوۀ چې سامان یا تاوان ورکړه ۔ هغۀ دوي له د پېښور یو حاجي جان محمد په جرګه کښې راوست نو دوي معاف کړۀ ۔ ما یو شعر وئیلے دے:

ما ته کۀ څوک وایي پښتون وښایه
زۀ به ورته خان فخرِ افغان وښایم
(اسرار د طورو)

باچا خان د حج په موقع د موتمر عالم اسلام په جرګه کښې شامل شۀ ۔ دا جرګه د سعودي عرب حکومت جوړه کړې وه، دې جرګې ته د دنیا د هر ملك مشران حاجیان بللے شوي وو، د هندوستان نه مولانا محمد علي جوهر، مولانا شوکت علي، مولانا ظفر علي خان، مولانا اسماعیل غزنوي او ځینې نور شخصیات شامل وو ۔ عربو د هندوستان د مسلمانانو نه ګیله وکړه چې د پېرنګې په فوځ کښې دوي په دې مقدسو مقاماتو ډزې کړې وې ۔

د غلام سړي ایمان د بل غلام وي
دا لا بل شانې او بل رقم اسلام وي
(اسرار د طورو)

د موتمر اسلامي نه پس باچا خان او ټبر ئې طائف ته لاړل او عطا الله خان او بېګم ئې مدینې ته لاړل. اتفاقاً په لار ورسره یو پښتون ملګرے شۀ. د هغۀ په طائف کښې ښکلے کور وۀ. طائف ښکلے ځائے دے. دوي دغه پښتون خپل کور ته بوتلل. باچا خان هلته څو ورځې پاتې شۀ. هغه د طائف زیارت په دې غرض کوۀ چې د نبیﷺ د تبلیغ، استقامت، د طائف د خلقو د سلوك، د کاڼو ګوزارونه، د پاك نبیﷺ د ژوبل وجود دردونه، د وینو دارې او د هغوي ﷺ د زغم صبر او معافۍ او بیا هغه ویشتونکیو ته د دعا منظر رایاد کړي. دا تاثرات ما د مولانا صاحب د ګفتګو او د باچا خان د لیك نه اخستي دي. باچا خان د عدم تشدد دا فلسفه د خپل شیرین نبیﷺ نه زده کړې وه. دا متقي مسلمان بې تورې بې ټوپکه مجاهد وۀ. قام له او اولسونو له ئې د طاقتور پېرنګي نه ازادي وګټله. دې کامیاب وۀ خو ناکام حاکمانو لا د کامیابۍ لار نۀ ده اختیار کړې. پرله پسې خوارېږي، خو غفلت نشه کړي دي. په ځان نۀ پوهېږي. دوي کامیابي کرسۍ ته وایي. د قوم هېڅ فکر نۀ کوي. دوه کروړه ماشومان د سکول نه محروم دي، دا غم نشته. د مولانا صاحب عنایات دا دي چې د کردار کامیابي او ناکامي په نښه لار، د



صحیح مقصد د پاره، رسا جدوجهد دے او په غلطه لار، د منافقت په وسیله د اقتدار په ډینګرۍ ختل کامیابي نۀ ګڼي. نن 29-11-2019 دے، خبرونه د هوا په چپو د عزت او ذلت تصویرونه راوړي.

الله پاك دې رښتوني مجاهدینو له دائمي عزت ورکړي. زۀ هم د حج مبرور د ثواب د پاره د سوال کچکول په غاړه ګرځوم. د الله نه د هغۀ د شان مطابق د خېر طمع لرم.

❀❀❀

## د بخښنې اخلاق

### (د عدم تشدد په لار)

مولانا محمد عنایت الله صاحب د باچا خان په کتاب په خپل قلم لیکلي دي چې: په 20م مارچ 1996ء په بېګم نسیم قاتلانه حمله وشوه۔ ډرائیور ئې شهید شهٔ او بېګم نسیم د موټر په شیشو زخمي شوه۔ په بېګم حمله څهٔ د حېرت خبره نهٔ ده۔ په باچا خان رحمه الله قاتلانه حملې څو واره شوې وې۔ په عبدالولي خان قاتلانه حملې شوې دي۔ د عدم تشدد د پېروکارو نه د بدل خطره دشمن ته نهٔ وي ځکه دشمن داسې جرات کوي۔

دا تحریر د کتاب: زما ژوند او جدوجهد، د سرورق په شا ثبت دے، دا د لیکونکي ذاتي کتاب دے نو دغه خبر ئې پرې لیکلے دے۔ مولانا صاحب به وئیل چې د عدم تشدد پالیسي د قامونو او اولسونو د ابادۍ او خوشحالۍ د پاره ضروري ده۔ تشدد فساد پېدا کوي۔ فساد تخریب او وراني ته وایي۔ تخریب د تعمیر په ضد عمل دے۔ د 21م اکتوبر 1939ء د ''پښتون'' مجلې په مخ 26 د فضل رحیم د ساقي نظم ''واقعات'' شعر دے:

همګي خراب تراب په زمکه ښخ شول
چې عمل د چا دنیا کښې د تخریب دے



د عدم تشدد دا پېروکار خان عبدالغفار خان د یکم نومبر 1939ء په پښتون مخ اتم د یکه توت د میا سېد رحمان صاحب د خط په جواب کښې لیکي؛

''زهٔ خو وایم چې هر سړي ته د خپل عمل په طرف توجه پکار ده۔ کهٔ مونږ څهٔ نېکنامي حاصلول غواړو نو پکار ده چې څهٔ ښهٔ کارونه وکړو او کهٔ مونږ بدنامېږو نو په بد عمل بدنامېږو۔ د بل په عمل نکته چیني او سپکه وئیلو د یو سړي نېکنامي هیڅرې نهٔ شي کېدے۔''

دا خبره بابا د نن نه اتیا کاله وړاندې کوي۔ نن هم د دې رویې ضرورت دے۔

باچا خان فرمایي:

تاسو چې څهٔ وخت واپس خپلو خپلو ځایونو ته ورسئ نو خپل تمام وروڼه په دې خبره پوهه کړئ چې زمونږ مخې ته چې کوم واقعات راتلونکي دي، د هغې مقابله به مونږ صرف په صبر سره کوو۔ ولې چې مونږ د عدم تشدد پابند یو او مونږ له د هېڅ قسم بې صبرۍ نه کار اخستل نهٔ دي پکار او څوك چې صبر نهٔ شي کولے نو هغهٔ له پکار دي چې په دې تکلیفونو کښې ځان نهٔ راولي۔

بله خبره باچا خان کارکنانو ته دا وکړه چې ملګریو ته ووایي:

زمونږ ډېر وروڼه چې جېل خانې ته لاړ شي هلته په خپلو کښې ډلې پرې جوړې کړي۔ قسم قسم بداخلاقۍ کوي۔ نشې کوي او د دې خپلو کمزوریو په وجه د جېل خانې د ملازمانو خوشامندې

کوي نو داسې ورونړو له پکار دي چې خپله اصلاح وکړي او هیڅ داسې کار دې نهٔ کوي چې هغه د خدائي خدمت ګار پاك نوم سره نهٔ ښايي.

د صبر او ښکلي اخلاقو دا فلسفه اسلامي قراني فلسفه ده سورة الشوریٰ مکي سورة دے، د دې سورة په ديارلسم ايت کښې وضاحت دے چې ستاسو د دين دا اصول د حضرت نوح عليه السلام، موسیٰ عليه السلام او عيسیٰ عليه السلام ټولو د دين اصول وو، چې دين قائم کړئ ــــ ولا تتفرقوا فيه ــــ تفرقې، ډلې پرې مهٔ جوړوئ. الله پاك په ايت 37م کښې د کبيره ګناهونو او بې حيايۍ نه ځان ساتونکي ستايي او فرمايي؛

واذا ما غضبوا هم يغفرون ــــــ

چې کله غصه ورشي نو بخښنه کوي

عالمان اديبان او ملي شاعران په اولسونو عنايات کوي. مونږ دغه قامي اتلانو ته دعاګانې کوو. الله دې قامونو له د عمل توفيق ورکړي.

دا د بخښنې اخلاق افراد او قومونه قوي کړي او حسن و جمال او کمال په کښې پيدا کړي. په ايت 40م کښې نور وضاحت کوي چې

د بدۍ بدله د هغې په مثل بدي ده.

د قانون او جرګې د فېصلې مطابق بدل اخستل جواز لري خو الله وايي ــــ فمن عفا و اصلح فاجره على الله ــــ پس چا چې معافي وکړه او صلح اصلاح ئې وکړه نو اجر ئې په الله دے. د ظلم بدله



اخستل روا کار دے (ايت 41م، فاولئك ما عليهم من سبيل) دا مسئله صفا کړې ده او په ايت 43م کښې د عدم تشدد د فلسفې روح بيان شوے دے؛

او چا چې صبر وکړهٔ او بخښنه ئې وکړه نو دا د لوے همت کار دے.

اولوالعزم خلق صبر او معافي کوي. باچا خان په خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد کښې په مخ 456 د خپل يو تقرير جملې ليکلي دي، وايي

دا بيل بيلوالے پرېږدئ، يو قوم شئ. کهٔ يو قوم شوئ نو ستاسو دنيا به هم اباده شي او اخرت هم. په مخ 457 ليکي ــــ د يوسفزيو يوې لويې اجتماع ته مې ووئيل؛ زمونږ خدمت به د خدائے د پاره وي. د څهٔ غرض د پاره به نهٔ وي. مونږ له چې څوك څومره تکليف راکوي، زور او زياتے راباندې کوي، مونږ به بدل نهٔ اخلو. مونږ به صبر کوو او د هغه سړي يا حکومت د پوهولو کوشش به کوو.

د عدم تشدد پاليسي د زړونو نه بغض، کينه، تربګني او دښمني لرې کوي. وررولي مينه محبت او اتفاق پېدا کوي او قوم جوړوي. باچا خان به وئيل؛ کهٔ تاسو يو قوم شوئ نو تاسو له خدائے داسې ملك درکړے دے چې د دولتونو او نعمتونو نه ډك دے.

هر پوهه او عادل انسان مونږ ته وايي چې دا نعمتونه ستاسو حق دے. دا تاسو له الله درکړي دي. د بابا دا يقين وهٔ چې دلته به څوك غريب پاتې نهٔ شي. دا خبره به مبالغه معلومېږي خو حقيقت دا دے چې خاوره څربه ده. کانې قيمتي دي. شګې

زرلرې، اوبۀ شته. نمر لګي. هواګانې ګډېږي. معدنيات ډېر دي. ګېس، بجلۍ او لرګي موجود دي او نر ښځې محنتي دي. په ملکونو خوارۀ پښتانۀ مزدورو پسې ځي. نو د محنت او سرمايې صحيح استعمال ثروت راولي. قطر په څلوېښت کاله کښې اسوده شۀ. د تېلو ګټه لږه وه. په لويو ملکونو کښې ئې د ګټې وټې په کارونو کښې حصص واخستل. اوس بې دربغه ګټې وړوکے ملك دے. لږه ابادي ئې ده. د نوي في صده خارجي لاسونو او هنرونو نه کار اخلي. مزدوران هم په مزو او بادران هم په قهقهو دي. د ښۀ انتظام مېوې خوري.

د ملك يو وزير اعظم به د اولس په امداد په ملك دننه د عدل په ذريعه مېنه کړي او د ګاونډې ملکونو سره به د امن او سلامتۍ طويل الميعاد معاهدې کوي. لېن دېن به کوي. يو بل ته به فائده رسوي نو ترقي به کېږي. جنګونه تباهي او زوال راولي. د انسانيت تذليل کوي. تشدد نفرت پېدا کوي. نفرت ملکونه ويران کړي. باچا خان د انجمن اصلاح الافاغنه د تنظيم په مرسته د سکولونو جوړولو په جرم کښې پېرنګي غاصب حکومت په 1921ء کښې قېد کړۀ. په جېلونو کښې ئې درې کاله سزا تېروله چې په 1923ء کښې مور وفات شوه. ''غفارے چرته دے، غني او ولي خوار شو''. دا الفاظ ئې په مرګوني ژبه وو. په 1924ء کښې د جېل نه راغے. په 1926ء کښې حج له لاړۀ. په دغه سفر کښې بابا فلسطين ته هم تلے وۀ. د غني خان او ولي خان دوېمه مور په بيت المقدس کښې د پوړو نه راپرېوته. مړه شوه. مهرتاج او عبدالعلي ماشومان بچي ترې پاتې شو. څلور وارۀ



نمسي ئې، بې موره ورته پاتې شو خو باچا خان د خپل ذاتي دردونو باوجود د قام د غلامۍ درد په مخه اخستے وۀ او د انګرېزانو عالمګير قوت ته په تشو تورو لاسو دا اولوالعزم پښتون د ايمان په طاقت د صبر ډال په لاس ولاړ وۀ. هغۀ غلامي نۀ قبلوله.

کۀ خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
کۀ غلام مړ وم راځئ توکئ پرې لاړې

د عدم تشدد دې پېروکار په اولسونو کښې د ازادۍ د حصول د پاره اتحاد پېدا کول غوښتل او د پېرنګي مفاد د قومونو اولسونو په افتراق کښې وۀ. حکومت طاقتور وۀ. موثر اقدامات ئې کول. د هندوستان يو ښکلي مشر په 27مه جنورۍ 1884ء په ګورداس پور کښې په يو تقرير کښې د هندوستان د هر مذهب صاحب ته يو لفظ ''هندو'' منسوب کړے وۀ. زما نيکۀ حضرت حافظ سيد عبدالجميل رحمہ اللہ په علي ګړه کښې د علم دين سبقونه تکميل ته رسولي وو. په 1308ھ کښې ورله علامه محمد لطف الله علي ګړهي سند ورکړے وۀ. هغوي به وئيل ''سر سيد احمد خان ښکلے سړے دے. نوم ئې په احترام اخلئ''. بيا وروستو دا حضرت د ''دوه قومي نظريې'' باني ياد کړے شۀ. دغه حال د علامه سر محمد اقبال هم وۀ. هغوي ځان ته ''هندي'' وئيل او ''دانۀ تسبيح به زنار کشيدن اموز'' ئې درس وۀ خو بيا ئې مفکوره بدله شوه. جواهر لال نهرو هم خپله نظريه عملاً بدله کړه. د عدم تشدد په لار کۀ هندوستان د تقسيم سکيم تيار

شوے وے نو نۀ به د لکونو خلقو وینې توئېدې، نۀ به بربادي راتله او نۀ به دا بې انتها تاواني دشمني مقدر وه.

کۀ د ملك تقسیم په جغرافیایي پېمانه مناسب وے نو نن به پاکستان ډېر مضبوط ملك وۀ. سابقه نقشه بې استحکامه ثابته شوه. علامه اقبال خپل یو تصور لرلو. علامه اقبال خو په 4م مارچ 1934ء مسټر تامسن ته خط لیکلے وۀ:

Pakistan is not my scheme

نن د پاکستان په څلورو پینځو صوبو مشتمل وفاقي اسلامي جمهوري ریاست دے. د 1973ء ائین شته. د دې ائین په رو اسلام د ریاست سرکاري مذهب دے. اسلام د امن او سلامتۍ دین دے. مسلمان به هرګز ازاري نۀ وي. د ملك دننه ټول قومونه او د هر مذهب پېروکار له ائین تحفظ ورکوي. وژل، سېزل، لوټل د اسلام سبق نۀ دے. د پاکستان ائین د ژوند او ازادۍ حق هر اوسېدونکي له ورکوي. څوك حبس بې جا کښې ساتل یا اغوا کول غېر ائیني غېر قانوني امر دے. ائین هر چا له د وقار او عزت تحفظ ورکوي. د جائز کاروبار او تجارت ازادي ورکوي. د هرې صوبې هر فرد پاکستانے دے.

عدم تشدد د ریاست او عوامو په مینځ کښې د مینې محبت وروروليۍ رشته قائمه ساتي. مونږ مسلمانان یو. زمونږ نبی حضرت محمد ﷺ د مخلوقاتو د پاره رحمت وۀ. ډاکټر شوقي ابوالخلیل په اطلس القران مطبوعه بېروت، کښې په مخونو 208-206 د 27 غزاګانو فهرست ورکړے دے. بیا لیکي "ما بدأ رسول الله صلی الله علیه واله وسلم حرباً قط اذا کان حریصاً أن لا یراق



دم انسانی. فهو نبی المرحمة" رسول الله ﷺ قطعاً د جنګ ابتدا نۀ وه کړې، هغوي دا نۀ غوښتل چې انساني وینه دې توې شي. هغه د رحمت نبی وۀ ــــ اقتصادي جنګ هم مشرکانو شروع کړے وۀ. په شعب ابی طالب کښې ئې پرې اوبۀ دانه بند کړي وو او چې مکه فتح شوه نو نبی علیه السلام د عام معافۍ اعلان وکړۀ. دا د 20م رمضان سن 9 هجري تاریخي فېصله وه.

اذهبو فأنتم الطلقاء

ځئ تاسو ازاد یئ.

دا د یو لوے فاتح د عدم تشدد مظاهره وه.

❁❁❁

## د استاد مینه او توجه

کله چې د یو مسلمان بل مسلمان سره تعلق د الله تعالی د رضا د پاره وي نو دا تعلق په روحاني مینه بدل شي۔ زۀ د پنجاب د دې کال 2019ء د یو مصنف محترم محمد الیاس کھوکر ایډوکیټ صاحب د اردو کتاب ''اقبال کا ایوانِ دل'' په صفحه 3 د انتساب نه رڼا اخلم۔ دا صاحب د مور د مینې تصویر لري او د حضرت مولانا سید ابوالاعلی مودودي رحمة الله علیه په حقله لیکي؛

*سید ابوالاعلیٰ مودودی ؒ کے نام جنھوں نے شاہراہِ علم وفکر پر چلتے ہوئے مرا ہاتھ آج بھی تھام رکھا ہے۔*

مولانا محمد عنایت الله صاحب د طورو، په یوه ډائرۍ کښې لیکي؛

زۀ په عمر کشر طالب وم لیکن حضرت مولانا قطب الدین صاحب رحمه الله هېر کړے نۀ وم۔ طالبان خو همېشه په حرکت کښې وي۔ د طورو نه به چې یو طالب غورغشتو ته لاړ او مولانا صاحب ته به معلومه شوه چې دا طالب د طورو نه راغلے دے نو ضرور به ئې زما تفصیلي تپوس وکړۀ۔

د استاد حېثیت د محسن، د راهنما، د مربي، د پلار او د پیر وي خو دلته استاد او د علم دین په امتیازي حېثیت معروف عالم او مدرس د څوارلس کلن شاګرد سره محبت کوي۔



داسې شاګرد چې صرف نهۀ میاشتې ورته ئې سبق ښودلے دے۔

مولانا صاحب لیکي:

زۀ دارالعلوم دېوبند ته د تللو په شوق کښې وم۔ کتابونه مې وئیلي وو خو دوباره د دوره حدیث خیال پرېشانه کړے وم۔ والد صاحب راته وې هومره مۀ ځه۔ انور شاه کاشمیري لاهور ته راځي، زۀ به خط درکړم، لاهور ته به لاړ شې۔

مولانا صاحب لیکي؛

علامه انورشاه صاحب زما د والد صاحب شاګرد وۀ په فتح پور دهلي کښې پاتې شوے وۀ۔ دا تذکره به حضرت شاه صاحب په خپله کوله۔ مولانا لطف الرحمان صاحب او مولانا محمد امین الحق صاحب به وئیل چې د حضرت شاه صاحب محفل ته به مونږ لاړو نو شاه صاحب به نزدې ځان سره کښېنولو او وئیل به ئې ''په ما ستاسو حق دے، زۀ د حضرت مولانا عبدالجمیل صاحب شاګرد یم ـــــ دے عظیم الشان عالمانو د خپلو استاذانو ډېر قدر کولو۔ مولانا صاحب لیکي؛

زۀ خفه وم، د احادیثو د دورې شوق مې نۀ پوره کېدۀ ـــ لیکي، خوب وینم چې د سریخ جومات کښې د ماسپښین د نمونځ نه فارغ شوم۔ په چوپال کښې مخامخ حضرت مولانا قطب الدین صاحب ناست دے۔ په مېز ورته رجسټر پروت دے، اواز ئې راته وکړۀ؛ راشه پرچه دې واخله۔ پرچه ئې ما له راکړه ـــ مولانا صاحب ته بیا حضرت مولانا حسین احمد مدني ؒ خصوصي سند ورکړے وۀ۔ هغوي ترې نه په دارالعلوم دېوبند کښې امتحان اخستے وۀ۔ زۀ دا وضاحت کوم چې د علوم دین دا نابغه

استاذان متقیان وو او خپلو شاګردانو سره ئې روحاني رابطې ساتلې . د شاګردانو صاحبانو په عالم رویا کښې ملاقاتونه د طمانیت سبب شۀ . محبت او احترام د جنت د شرابِ طهور جام دے چې روحونو ته ارام رسوي . الله دې په مونږ د استاذانو مشرانو او عالمانو عنایات شامدام راوروي.

❁❁❁



## په بابړه ګولۍ نه وروم

مولانا محمد عنایت الله صاحب په یوه ډائرۍ کښې لیکي؛

پاکستان چې معرض وجود کښې راغے باچا خان رحمة الله علیه یو اجلاس په بنو کښې وکړۀ . بل ئې په سردریاب کښې طلب کړۀ . د دې اجلاس نه وړاندې باچا خان ګرفتار کړے شۀ . جناح صاحب وړومبنے ګورنر جنرل وۀ.

عبدالقیوم خان لیګ ته اوړېدلے وۀ . هغۀ له ئې د صوبه سرحد وزارت ورکړۀ . اصل حکومت د خدائي خدمت ګار تحریك وۀ . ډاکټر خان صاحب د صوبې وزیر اعلیٰ وۀ . د اکثریت په بنیاد دا جمهوري حکومت قائم وۀ . مولانا صاحب لیکي:

په خصوصي اختیار ګورنر جنرل اکثریتي حکومت ختم کړۀ ـــ په صوبائي حکومت دا الزام وۀ چې دوي پاکستان نۀ مني، او پښتونستان غواړي . د بنو په اجلاس کښې امیر محمد خان هوتي یو قرداد وړاندې کړے وۀ چې د شمال مغربي سرحدي صوبې نوم نشته، دې له نوم پکار دے . په دستور ساز اسمبلۍ کښې په کراچۍ کښې د وزیراعظیم لیاقت علي خان د سوال په جواب کښې باچا خان وئیلي وو؛ پښتونستان د سندهـ، پنجاب او بلوچستان په شان یو نوم دے چې د صوبې د قام پېژندګلو به پرې کېږي . په دې جواب ذاتي طور جناح صاحب مطمئن شۀ خو وروستو د هغوي اطمینان په غلط فهمۍ کښې بدل کړے شۀ .

عبدالقیوم خان په هر جائزه او ناجائزه لار خپل حکومت قوي کړۀ . د زور او جبر نظریه نفرت پېدا کوي او په صوبه سرحد کښې باچا خان رحمة الله او د هغۀ د پارټۍ خلق قېد او بند او د اذیتونو ښکار شو . په بابړه کښې پاتې خلقو د شریعت د نفاذ او د باچا خان د رهائۍ د پاره احتجاجي جلسه کوله . په دغه جلسه صوبائي حکومت د پولیس په ذریعه ګوله باري وکړه . په 67-1966ء کښې (اسرار د طورو) د پېښور پوهنتون طالب علم وۀ . اسدالله د حافظ محمد ادریس زوے راسره په یو لار ملګرے وۀ . په هوسټل نمبر 6 کښې د والدینو د ورځ په تقریب کښې یو دنګ لوړ سړے په کوټ پتلون کښې ملبوس مونږ ته متوجه شۀ . د دغه هوسټل درک کښې وۀ . مونږ ورته ووئیل مونږ هم هلته روان یو . دغه صاحب په انګرېزۍ کښې ووې . زما زوے د لاء کالج طالب علم دے . په دغه هوسټل کښې اوسي . اسد الله ورسره په انګرېزۍ کښې خبرې کولې . دغه صاحب ووې، زۀ د بنو یم . ایډوکېټ یم . اول په پولیس کښې کپتان وم . نوم ئې زین العابدین یا داسې بل څۀ وۀ . اوس مې هېر دے . د 53 کالو زړه خبره ده . ما د هغوي دا تاثرات په بانګ حرم پښتو حصه کښې د ایوب صابر په وسیله شائع کړې وو خو مونږ غریب خلق خپل اثار جمع کولے نۀ شو . نۀ راکښې شعور وي، نۀ مو کډه په یو ځائے پرته وي او نۀ راسره د حفاظت الماري وي . کۀ په ارکائیو کښې وي نو وي به خو هلته هم رسائي لانجه ده . ما د هغوي نه تپوس وکړۀ چې تاسو د پولیس نوکري ولې پرېښوده . هغوي ووئیل ما ته په 12م اګست 1948ء د بابړې په عامه جلسه د ګوله بارۍ حکم وزیرِ اعلیٰ عبدالقیوم راکړۀ . ما



ورته ووې جلسه به په نورو طریقو خوره کړم، فائر نۀ کوم نو زۀ ئې بدل کړم او بیا ئې زما نه فټ بال جوړ کړۀ . نو وکالت له راغلم د بابړې دا جلسه د رمضان نه پس وه . په رمضان کښې ګرفتارۍ شوې وې . مولانا صاحب رحمة الله وایي ـــــ د عید الفطر نه درې ورځې مخکښې زۀ هم ګرفتار شوم او هري پور جېل کښې د سي کلاس قېدي شوم .

د عبدالقیوم خان تشدد د خپل اقتدار د پاره وۀ چې مړ شۀ نو سیاسي وارثان ئې په اماکما خوارۀ شو . عوامي لیګ، کونسل لیګ، کنونشن لیګ، ن لیګ، ق لیګ، پیپلز پارټي او نور بلا نومونه مخې ته راغلل . تشدد، ائین شکني، دروغ، دوکه، په انتخاباتو کښې هېر پېر جعلي مقدمې، د کفر فتوې لګول، وطن والو ته غلۀ وئیل، قېد، قتل اغوا فساد یو مرض شۀ کۀ دا پالیسي بدله شوه نو پاکستان به یو ترقي پذیر ملك ثابت شي او ډېر زر به ترقي وکړي . ترقي امن اتحاد او محنت غواړي . په کړو بنیادونو مکان کوږ شي .

خشت اول چون نهد معمار کج
تا ثریا مې رود دیوار کج

دا شعر پالیسي جوړونکیو ته وایي چې بنیادي خښته نېغه کړي نو بیا به نوے پاکستان تعمیر کړے شي . د لارښودنې دا هدایات د مشرانو عنایات دي . الله پاك دې د قام مشران او عام اولس په نېغه لار کړي .

## د طورو د ميا په ياد کښې

د طورو د ميا صاحب محمد حسن رحمه الله په ياد کښې د يو تقريب په موقع مولانا محمد عنايت الله صاحب وفرمائيل؛ د قبرونو زيارت او مرده ګانو ته دعا کول جائز دي. سوالونه مونږ مسلمانان د الله پاك نه کوو عاجزان يو محتاج يو او الله تعالى بادشاه دے. د بادشاهانو بادشاه دے. وايي ما نه سوالونه کوه. غواړه زۀ قبلوونکے يم. انسان بې صبره دے. دې وايي چې زۀ خو سوالونه کوم خو ډېر کم قبلېږي. داسې نۀ ده. الله تعالى د دنيا نظام چلوي او په مناسب طريقه هر چا له نعمتونه ورکوي. بل د ځيني سوالونو په عوض کښې ثوابونه ورکوي. دا ثوابونه په عمل نامه کښې درج شي او د محشر په ورځ به د ايمان تله درنه کړي.

هغوي زياته کړه زما ورونړو، قبرونو کښې نېکان، پېغمبران عليهم السلام، اصحاب رضوان الله عليهم اجمعين، اولياء الله رحمهم الله، زاهدان عالمان او ګنهګار ټول ښخ دي. مونږ د پاکو با ايمانه خلقو زيارت له په دې خيال ځو چې عبرت ترې نه واخلو چې دومره مشهور او د عزت خاوند اوس په خاورو کښې پروت دے. دا انجام زمونږ هم دے. بل دا چې د ايمان او نېك عمل په سبب ئې مسلمانان د مرګ نه پس هم عزت کوي نو پکار دي چې مونږ ترې نه عبرت واخلو او ځان د هر قسم ناکاره عمل نۀ وساتو.



مولانا صاحب رحمه الله وفرمائيل کاڼي ښکلول، قبرونو ته سجدې کول، قبرونو ته په چغو ژړل دا د شرك اعمال دي. د حج او عمرې په موقع د خانه کعبې يعنې د بېت الله طواف يا د حج او عمرې نه علاوه د ثواب په خاطر د بېت الله طواف کول عبادت دے. دا د الله تعالى حکم دے او د رسول الله ﷺ او د اصحابو رضوان الله عليهم اجمعين عمل دے، هغوي ټول مسلمانان وو. د الله حکم ئې تسليم کړے وۀ. مونږ چې د هغوي په طريقو عمل وکړو نو کامياب به شو. بل داسې کور، زيارت، محل په دنيا کښې نشته چې د هغې طواف دې مونږ وکړو. په اکوړه خټك کښې زۀ په کال 1953ء کښې په جامعه اسلاميه کښې مدرس او ناظم تعليمات وم، په دغه جامعه کښې د سيد مهربان علي شاه صاحب رحمه الله مزار وۀ. دا صاحب پير وۀ. ډېر مريدان ئې وو. يوه شپه تېر ماسخوتن د پېښور سېټهـ نذير د اوچو مېوو تجار زيارت ته حاضر شۀ نو په زوره زوره ئې ژړل، په قبر ئې سر تندے لګوۀ. زۀ ورغلم د لاسه مې ونيوۀ. رادېخوا مې کړۀ. ما ورته وې صاحبه توبه وباسه، د الله نه معافي وغواړه، دا خو تا ګناه وکړه. د بابا روح به درته ازار وکړي. سړے زر توبه ګار شۀ. مولانا صاحب معافي غواړم مونږ ناپوهه يو. مولانا ورته وې لاړ شه اودس تازه کړه. دوه رکعته نفل وکړه، د الله نه چې څۀ غواړې ترې وغواړه. ځان ته والدېنو ته اولاد ته باباجي ته او مونږ ته دعا وکړه. الله به دې کاروبار کښې برکت واچوي. ډېر طالبان راجمع شوي وو. دغلته د دوي د اوسېدو کمرې وې. اوس هټۍ دي. د سېټهـ سره راغلي ټولو ملګريو نفلونه وکړل او په

طالبانو ئې کشمش او پستې ووېشل. اظهار الله هم جولۍ ډکه کړه. مولانا صاحب په دغه موقع طالبانو ته وفرمائيل؛ تبليغ اثر کوي. د نبی عليه السلام وېښتهٔ مبارك يا پټکے يا چوغه کهٔ يقيناً د هغوي صلی الله عليه واله وسلم وي نو موجب د برکت ده خو اماکما د دنيا د مال او شهرت شوقيان د جعلي او دروغ اثارو نمائش کوي نو ځان له په جهنم کښې ځائے ګوري، تاسو احتياط کوئ.

اصل نکته د شرك نه ځان بچ ساتل دي او د حضرت محمد ﷺ اطاعت کول دي. دا اطاعت د الله اطاعت دے. الله واحد دے، شريك نهٔ لري. د ژوند په هر مېدان کښې د الله تعالیٰ احکام په عمل کښې راوستل اسلام دے.

د عالم دين دا عنايت په لنډو ټکيو کښې د جامعې طالب علمانو ته د اسلام د روح تلقين وهٔ. دا هدايت مونږ او تاسو ټولو ته دے.



# زنانه ستا سو د حيا جامه ده

حضرت مولانا محمد عنايت الله صاحب د طورو يو خدائي خدمت ګار عالم دين وهٔ. هغوي د پښتون قام د ازادۍ او ترقۍ د پاره عملي کار کول په ځان فرض کړي وو. د هغوي دا عقيده وه چې ټول الهامي مذهبونه د انسان عزت او اکرام کوي. نارينه او زنانه دواړو له قران پاك برابر برابر حقونه ورکوي. د نظم او نسق تقاضه ده چې په کور، محله، کلي، تپه او ملك کښې دې يو مشر وي. د کائنات دا عالمګير نظام هم يو واحد لاشريك الله چلوي. الله سره د قدرته فرښتو نه او بنيادمو نه کار اخلي، د هدايت او تعليم د پاره او د بنيادي حقونو د حفاظت د پاره د پېغمبرانو او عالمانو نه کار اخلي. بادشاه او حاکم اعلیٰ خو الله پاك دے. بني ادم ئې خليفه دے. دے چې امير يا حاکم شي نو د الله تعالیٰ د تعليماتو او هداياتو او د الله د نبيانو او د اخري نبي حضرت محمد رسول الله ﷺ د طريقو مطابق به حکومت کوي.

مولانا صاحب په يوه ډائرۍ کښې په تفصيل د زنانوو د پردې احکام په خپله پښتو ژبه ليکلي دي. حضرت مولانا صاحب په جون 1995ء کښې د 85 کالو په عمر کښې وفات شوے وهٔ. دا ډائري غالباً د ستمبر، اکتوبر، نومبر 1976ء د وختونو ده چې په ملك کښې د حقوق نسوان په نوم اوازونه پورته کېدل. د ډائرۍ پاڼې لوندې شوي دي او ځينې جملې ورانې دي.

مولانا صاحب ليکي ـــ هن لباس لکم او انتم لباس لهن (القران) د دې ايت ترجمه هغوي داسې کوي؛ زنانه ستاسو د حيا جامه ده او تاسو د زنانوو د حيا جامه يئ.

هغوي ليکي؛ د اسلامي شريعت په احکامو چې عمل کوي. نارينه او زنانه د رسول الله ﷺ په ښودلې لار چې تګ شروع کړي نو امن محبت او قدر و منزلت به د دوي په ژوند کښې پېدا شي.

مولانا صاحب به فرمائيل چې د اسلام نه اګاهو د زنانه او نارينه مېل ملاپ، بې حيائي عامه کړې وه. ښځو به د خپل سينګار او زينت نمائش کولو. مشرکان د انسانيت د مرتبې نه لرې د بهيميت يعنې د ځناورو مرتبې ته راکوز شوي وو. د نکاح رواج وۀ خو بې نکاح تعلقات هم پټ نۀ وو. زۀ خو يورپ ته نۀ يم تلے، خو د ځينې پېژندګلو خلقو نه اورم چې هلته پرده نشته. د ښځو د لباس نه د هغې د زېب او زينت اندامونه ښکاري. د نفس مطالبې زنانه او نارينه دواړه لري چې په نفساني خواهشاتو پابندي نۀ وي نو بيا بې حيائي عامه شي. نارينه په معاشره کښې غالب جنس دے نو زنانه د دۀ د لوبو ګوډۍ شي. دا جنسي اختلاط د ښځو توهين دے.

د دې غلط اختلاط نه حرام اولاد زېږېږي. د هغوي تربيت په غېر فطري انداز کېږي نو هغوي د مور او خور د تقدس نه هډو خبر نۀ وي.

بل دا اختلاط مرضونه پېدا کوي. د اماکما ښۀ او بد څيزونه خوراك په مړه او نهره بې روك ټوك خوړل د هلاکت باعث شي. دا خو د ازادۍ په نوم د بنی ادمو تذليل دے.

مولانا صاحب ليکي؛ الله حکم کوي. قران کښې وايي چې تاسو پردو کورونو ته بې اجازته مۀ داخلېږئ ــــــ مولانا صاحب د قران د ايت ترجمه او تفسير کښې احاديث بيان کړي دي، مونږ ترې نه دا سبق اخلو چې زنانوو سره خلوت مسئلې



پېدا کوي. د اخلاقو د کربښې نه تېر شي او ارتکاب د ګناه ممکن شي. بل، په کورونو کښې کله کله زنانه د ضرورت له مخه بې حجابه وي نو د غورډبه ننوتو اقدام د دواړو حيا زخمي کوي. اسلام د نکاح نه بغېر جنسي اختلاط غټ جرم ګڼي. مرتکب زنانه او نارينه دواړو له سزا ورکوي نو غواړي چې د ګناه نه لرې اوسئ او حتی الوسع د سزا نه بچ اوسئ. د ګناه په اشاعت هم الله خفه کېږي.

اسلام د ګناه سدِ باب کوي. د فتنې نه ځان ساتل بهتر دي، د دين خدمت زنانه دَ پردې د محافظت سره سره کولے شي. د ضرورت په وخت کښې ښځه تقرير کولے شي. مولانا صاحب ليکي؛ د زنانه او نارينه تر مينځه شريعت يوه لويه پوله قائمه کړې ده ـــــــ دا پوله ماتول د خطرې نه خالي نۀ وي.

د ورزش، تعليم و تدريس، ملازمت ان چې د عبادت په موقع هم د ښځو او سړيو بېل بېل انتظام کېدے شي. کۀ د هائي سکول د تعليم پورې ادارې بېلې وي نو بره هم دا انتظام ممکن دے او کۀ اداره يوه وي نو هم په کلاس کښې د پردې امکان شته، طبعي ميلان په ګډون کښې جوش خوړے شي. مسائل پېدا کېږي. بدنامي او بربادي مقدر کېږي. په دې وجه ستر پړده او احتياط ښۀ دے. د طورو مشران عالمان روشن خيال وو. هغوي هر هغه لباس د نارينه او زنانه د پاره جائز ګڼلو چې په اغوستن ئې د جسم د ستر اندامونه يا د دغه اندامونو يوه حصه بربنډه نۀ پاتې کېده. عورة کۀ د سړي وي کۀ د ښځې پټول ئې ضروري دي.

❁❁❁

# ته نظريه پاکستان نه منې

حضرت مولانا محمد عنايت الله صاحب په يوه ډائرۍ کښې د وقار ابنالوي صاحب دوه شعرونه ليکلي دي او د اشعارو نه لاندې ئې په روزنامه نوائے وقت 3 جنوري 1970ء په مطابق د 23 محرم الحرام 1398 هـ رقم کړے دے. په اشعارو ئې تبصره کړې نۀ ده. اشعار داسې دي:

کھلا دروازہ

ولی خان خوش ہو کے کہتے ہیں آج
سیاست کا در بند تھا کھل گیا
یہ ہے منحصر ان پہ ثابت کریں
کہ جو داغِ الزام تھا دھل گیا

خان عبدالولي خان د باچا خان رحمۃ اللہ علیہ زوے هم وۀ او د هغوي د سياست وارث هم وۀ. باچا خان د پښتنو د سماجي اصلاح، علمي نشوونما او د هندوستان د ازادۍ د پاره ډېرې قربانۍ ورکړې وي.

انګرېزان د مادي او عسکري بالادستۍ په اس سوارۀ وو. شنې سترګې او سرۀ مخونه ئې خشته وو. علم او هنر کښې مخ په



وړاندې وو. د لباس په حواله مهذب ښکارېدل خو د هندوستان د هر نسل خلق ئې غلامان کړي وو. سپك به ئې ورته کتل او د غېر مهذب ځنګلي بنی ادم نه زيات وحشيانه سلوك ئې ورسره کولو. وهلو ټکولو په سخا پمن جېلونو کښې به ئې ترې نه په زور ناجائز مشقتونه اخستل. تذليل به ئې ورله کوۀ. د چينجنو جوارو او غنمو ډوډۍ به ئې ورکوله. لوے لوے خلق د انګرېزانو د بدتهذيبۍ ښکار وو. باچا خان او د هغۀ د تحريك ملګري هر نار وا ظلم ته تېنګ وو. په دې دوران کښې د باچا خان يو وراړۀ عبېد الله خان د سيالکوټ په جېل کښې وۀ، بد سلوك ورسره کېدلو. بيا ئې د ملتان جېل ته بدل کړۀ. د بدسلوکۍ نه تنګ شۀ نو احتجاجاً ئې د ولوږې مانۍ (بھوك هړتال) پېل کړۀ. شپږ هفتې ئې بې افطاره روژه وه. جناب محمد رحيم دهلوي صاحب په خپل يو کتاب کښې (دا کتاب د جواهر لعل نهرو قيصۍ وه) دا کتاب د 38-1937ء يادګار دے (چھ ہفتے کی بھوک ہڑتال کے بعد وہ ہڈیوں کا پنجرہ رہ گئے) (ص 104) خو په 1934ء کښې انګرېزان په دې احتجاج پوهے متوجه نۀ شو. هغۀ روژه وساتله. د سترګو نظر ئې وسوزېده، ډېر کم شۀ. بې هوش شۀ. د هندوستان د هرې طبقې خلقو انګرېز حکومت ته بيا بيا اپيلونه وکړل چې عبېدالله خان ازاد کړي خو مهذب انګرېز بې پروا وۀ. وائس رائے هند ته پنډت مالوي وليکل، هغۀ انکار وکړۀ. د صوبه سرحد حکومت خوشحاله وۀ چې د عبدالغفار خان او ډاکټر خان صاحب يو وارث خو به په مرګ غلے شي اويا ورځې پس د ولوږې تندې دا قېدي مريض حکومت مجبوراً د سيالکوټ جېل ته بدل کړۀ. دا وطن، دغه سرفروشانو ازاد کړے دے. انګرېز د تقسيم په

نقشه هم مسلمانان نقصاني کړل او دا نقصان برابر جاري دے. د تقسيم نقشه صحيح نۀ وه. دوه حصې د يو بل نه زر ميله لرې وې، لار ئې نۀ وه.

د عبېدالله خان د دې ابتلا نه مخکښې د باچا خان د ګرفتارلو عمل خو د 1921ء نه شروع شوے وۀ. هغۀ د 1929ء نه د ازادۍ غورځنګ سره مل وۀ. پښتانۀ ئې بېدارول او منظم کول چې ازادي او خپلواکي وګټي.

د پنجاب او د ټول هندوستان دورې به ئې کولې. د ملك لويو ليډرانو سره ئې ملاقاتونه کول. جرګې او اصلاحي جدوجهد ئې کولو او سياسي ډله ئې جوړوله. "پښتون" رساله ئې جاري کړه. په ټکر کښې د پوليس د ظلم واقعه شوې وه. حکومت هره حربه د خدائی خدمت ګار تحريك خلاف پکاروله. د باچا خان فکر انقلابي وۀ او دا انقلاب د قران او سنت په اصولو مبني وۀ. هغۀ د قران مطالعه کوله. تاريخ ئې کتلو. نور عالمي افکار ئې لوستل، د قوم ازادي او ترقي ئې هدف وۀ. انګرېزانو پرې ظلم کولو. د اتمانزيو کلے په 1930ء کښې انګرېزانو محاصره کړے وۀ. په 1934ء کښې باچا خان هم احتجاجاً روژه نيولې وه. افطاريه ئې په مالګينو اوبو کولو او نور خوراك به ئې نۀ کولو. په دغه کال 1934ء کښې د درې کاله قېد نه رها شۀ خو خپلې صوبې ته نۀ شۀ راتلے. حکومت پرې پابندي لګولې وه. دا د انګرېزانو مهذب حکومت وۀ. نظر بند ئې ساتلو. بيا ئې هم په دغه کال 1934ء کښې قېد کړۀ. دا قېد 1936ء ته ورسېدۀ خو په



1937ء کښې انتخابات وشو نو د باچا خان تحريك اکثريت حاصل کړۀ. عوامو کښې ئې اعتبار وۀ.

ما د وقار انبالوي صاحب اشعار لوستل خو د فکر مارغۀ مې په اماکما والوت. د وېش نه پس هم د حکومتونو پاليسي د قامونو د اتحاد په حقله ناکام ثابته شوه. د قېدوبند او قتل و غارت تجربې وشوې. سېول او فوجي قوتونو دا ملك متحد ونۀ ساتلے شۀ. بنګله دېش جوړ شۀ. پاتې پاکستان کښې هم داغداره فضا جوړه وه. په عبدالولي خان د غدارۍ مقدمه د بهټو صاحب حکومت جوړه کړې وۀ. په 1977ء کښې بيا د بهټو صاحب حکومت نۀ وۀ. د ضياء الحق مارشل لاء حېدر اباد ټرېبونل ختم کړۀ. ولي خان مردان کښې جلسه کوله. زۀ اسرار د طورو ملګريو سره تماشې ته ولاړ وم. ولي خان وئيل :

زۀ افسوس کوم جمهوري حکومت قېد کړے وم. په فوجي حکومت کښې خوشے کړے شوم. عدالت ته راوستے شوم، جج صاحب راته وې؛ په تا الزام دے چې تۀ نظريه پاکستان نۀ منې. ما وې عدالت دې واضحه کړي چې د نظريه پاکستان تعريف څۀ دے نو بيا به زۀ جواب درکړم. فاضل عدالت ووئيل؛ دا خو به استغاثه واضحوي نو تاريخ بدل شۀ. بله پېشۍ کښې غالباً د حکومت چيف سېکرټري يا بل افسر عدالت ته راغلے وۀ. هغۀ د نظريه پاکستان تعريف ونۀ کړے شۀ نو زۀ ازاد شوم.

اصل خبره دا ده چې کۀ حکومت يا مستغېث نظريه پاکستان اسلام ته وايي نو ظاهره ده چې عبدالولي خان

مسلمان وۀ او کۀ نظريه پاکستان، پاکستان ته وايي نو ولي خان د قامي اسمبلۍ ممبر او په قامي اسمبلۍ کښې د حزب اختلاف ليډر وۀ، د اتمانزيو پښتون ولي خان د 1973ء ائين جوړولو کښې اهم ترين کردار ادا کړے وۀ۔ پاکستان د ولي خان ملك وۀ۔ هغۀ مضبوط پاکستان د جمهوريت او قومونو په اتحاد او اختيار مبني ګڼلو۔

❁❁❁



## فقير اپي او جرنيل عبدالرحمان بيټنی

مولانا محمد عنايت الله صاحب د طورو د خدائي خدمت ګارانو په ډله کښې وۀ۔ هغه د 1990ء په ډائرۍ کښې د يولسم دسمبر په صفحه ليکي:

چې الله پاك زما عزم مضبوط کړۀ او د خپل توفيق په رڼا کښې مې کافي جدوجهد وکړۀ الله دې په خپل درګاه کښې قبول کړي۔

هغوي هم په دغه ډائرۍ کښې ديوې پخوانۍ جلسې ذکر کوي چې د مولانا عبدالحکيم صاحب پوپلزي په ذريعه کېده۔ سر صاحب زاده عبدالقيوم هم په دې جلسه کښې د يو خاص مقصد پېش نظر دلچسپي اخستله۔ دا سړے د انګرېزانو معتمد وۀ۔ هغه سرکاري ملازم وۀ۔ مولانا صاحب رحمة الله عليه په دغه ډائرۍ کښې ليکي ''دې جلسه کښې حضرت مولانا حسېن احمد مدني صاحب، مولانا محمد علي جوهر صاحب، مولانا حسرت موهاني صاحب وغېره اکابر شامل وو۔ باچا خان او خادم محمد اکبر دې اجتماع د پاره لوے کار کړے وۀ۔

مقررينو د برټش حکومت خلاف او د ازادۍ په حقله تقريرونه وکړل۔ د 12 دسمبر 1990ء په مخ ليکي: زۀ د دې تحريك حامي شوم۔

د دې تحريك په سلسله کښې ما داسې اقدامات کړي دي کۀ هغه د هاغه وخت پېرنګي حکومت ته معلوم شوي وو نو زما د

پانسی حکم به کېدهٔ. د ازادۍ تحریك د جمیعة العلماء او خدائي خدمتګارانو او آل انډیا نېشنل کانګرېس په اشتراك چلېدهٔ.

مولانا صاحب د شاه اسماعیل شهید مجاهدینو سره په بونېر او د مهمندو په چمرکنډ کښې او په وزیرستان کښې د فقیر اېپي سره په جوړه کښې د انګرېزانو خلاف رابطې کولې. په دغه دور کښې د جمیعة العلماء او د خدائي خدمتګارانو د ازادۍ د ګټلو د پاره اشتراك عمل وهٔ. مولانا صاحب لیکي ــــ

پېرنګیانو د مسلمانانو او د پښتنو کور ورانوهٔ، د پښتنو د ملك نوم ئې وران کړے وهٔ. (دا نوم اوس ائیني طور تسلیم شوے دے)

انګرېزانو د پښتنو سره د ملك د نورو مسلمانانو رابطه نهٔ غوښتله. د پښتنو تهذیب دا وهٔ چې خان به غریبانانو سره په زمکه کښېناستهٔ او جرګې به ئې کولې، په پوره او سپوره به هم سره شریك وو. پېرنګي خوشامندګرو له د خان بهادر، نواب، سر وغېره خطابونه ورکړل ، عام سړے ئې د دغه منظورِ نظر اشخاصو په نظر کښې سپك کړل. عادتونه ئې ورله بدل کړل. پېرنګي به د هندوستان خلقو ته د غلام په نظر کتل. دا سلوك دغه غټانو هم غوره کړهٔ. تر اوسه اکثر مالدار خلق او سرکاري افسران دغه اخلاق لري. مولانا صاحب وایي ــــ په مشترك هندوستان کښې ما جمعیة العلماء سره کار کولو.

د ازادۍ نه پس چې باچا خان د صوبو د حقونو د پاره جدوجهد شروع کړهٔ، مولانا صاحب محسوسه کړه چې باچا خان د قام او اولس د ترقۍ په کار کښې مخلص دے. بل د اسلام په نوم کار کوونکي صاحبان یو بل سره مخالفت کوي،په وړو وړو



مسئلو د یو بل نه لرې لاړ شي. دا افتراق قامي مفاداتو ته فائده نهٔ رسوي. د قامي مشرانو او په اقتدار مئینو پارټو چې د اتحاد لار خپله نهٔ کړه نو مارشل لاء به نافذ شوه، ډېرو سیاسي جماعتونو به د جمهوریت په ځائے امریت له غاړه ورکړه خو باچا خان چرې هم په غېر جمهوري او غېر اخلاقي طریقو ځان له یا خپلې پارټۍ له وزارتونه منظور کړي نهٔ دي نو مولانا صاحب وایي ــــ ځکه زهٔ د باچا خان تحریك سره وابسطه شوم.

د باچا خان ژوند او جدوجهد مولانا صاحب بیا بیا لوستے وهٔ. هغوي په خپله ذاتي نسخه کله کله دوه جملې هم لیکي، په مخ 663 باچا خان د فقیر اېپي، تاج محمد خاموش او د بېټنیو د جرنېل عبدالرحمان ذکر کړے دے. مولانا صاحب په دغه صفحه په خپل قلم لیکي:

فقیر صاحب مجاهد وهٔ. زما رابطه ورسره شوې وه. عبدالرحمان جرنېل د بېټنیو طورو ته راغلے وهٔ ، زما سره ئې شپه کړې وه. واقعي جرنېل وهٔ.

د ازادۍ په تحریك کښې ئې دا رابطې د جمیعة العلماء او خدائي خدمتګارانو د حکمت عملۍ حصه وه. مولانا صاحب د الله د رضا د پاره دا کارونه کول. الله تعالی دې اجر ورکړي. د ازادۍ ونه مېوه راوړي چې قام متحد شي. په نېغه لار شي او په اجتماعي ډول د عزت مقام ته ورسي.

✿✿✿

# د میرټهـ جلسې ته تګ

مولانا محمد عنایت الله صاحب د طورو په خپله یوه ډائرۍ کښې لیکي:

د پارټۍ عوامو په ما اعتماد کړے وۀ او زۀ ئې (د خدائي خدمت ګار په تنظیم کښې) د صوبې د جرګې ممبر کړے وم.

وړاندې لیکي:

په مشترکه هندوستان کښې د آل انډیا نېشنل کانګرېس سالانه جلسه په میرټهـ کښې وه. جلسه کښې د پښتونخوا د صوبائي جرګې د ممبرانو حاضري لازمي وه. سیاست نازکه وظیفه ده. دا د غریبانانو نه جسماني او روحاني قرباني غواړي او د دولت د خاوندانو نه پېسه غواړي.

مولانا صاحب اول الذکر خدمات په اخلاص کول او اخرالذکر خدمت هغه مقروض کړے وۀ. هغوي پینځۀ جریبه زمکه په پینځۀ سوه روپۍ ګانه کړې وه او څۀ زمانه والد محترم په خپله ټول عمر ورځ او شپه د قوم او ملت مفت خدمتونه کول. یوه ورځې د مولانا صاحب زوي ته یوې ژبورې بي بي پېغور ورکړۀ چې ـــ ډېر ئې مال بد ئې حال. نو هغۀ مور ته وژړل ، مور ئې خپل غټ غټ دورونه خرخ کړل، دا ورله خپل پلار د وادۀ په موقع ورکړي وو او په دغه پېسو ئې ګانه زمکه ازاده کړه.

میرټهـ ته یا دغه لرې ځایونو ته تلل عام سړي ته اسان نۀ وي. حج هم په هغه مسلمانانو فرض دے چې د لار استطاعت



لري. پاك پېغمبر ﷺ د استطاعت تفسیر په ـــــ الزادو الراحله ـــــ کړے دے. سورلي او توښه چې میسر وي نو حج فرض وي او عالمان مزید اساني غواړي چې کور او بچو ته د سفر د دوران په کچ توښه هم پرېږدي. د بجلۍ او ګېس بلونه، د سکول مدرسې او مسجد اخراجات د امکاني علاج معالجې اخراجات د کور کرایه غرض ـــــ من استطاع الیه سبیلا ه ـــــ او ـــــ الزاد الراحله ـــــ ډېر وسعت لري. پښتانۀ وایي وادۀ اسان دے خو ټك ټوك ئې ګران دے. ناوې به درته په څلورمه ورځ د تېل مالګې یو لوے فهرست درکړي او ټماټر خو نن 280 روپۍ کلو خرڅېږي. خېر خو سیاسي لوبه د هر ځوان د وس خبره نۀ ده. د ازادۍ او انسان دوستۍ مئینان عموماً په زنځیرونو تړلي شي او په کوړو وهلي شي او اقا پرست غلامان او وطن خرڅي د مالکانو تالي څټي او عېش کوي.

څوك د بورجل او منارو نه طوافونه کوي
څوك د قبرونو د خازو نه طوافونه کوي
څوك د ښکلا د انګازو په تصور عاشقان
د روڼ سبا د موسېدو نه طوافونه کوي
(اسرار د طورو)

دا رڼا ، سبا ، ښکلا ، مُسکا دا بن ادم د ماسېوا د الله نه د هر قسم غلامۍ نه ازادي ده. میرټهـ د طورو نه ډېر لرې وۀ. د مولانا سید محمد عنایت الله صاحب فخرِ روزګار والد صاحب

حضرت مولانا سید محمد عبدالجمیل صاحب د دوه اتیا کالو ضعیف عالم په طورو کښې وۀ. مولانا صاحب لیکي ـــــ میرټهـ ته د تلو اراده مې کړې وه. د اسرار الرحمان والدې راله د لارې د پاره خوراك تیار کړے وۀ. د صوبې دفتر ته زما نوم ما لېږلے وۀ. په کومه ورځ چې به روانېږم، د سحر والد صاحب ته حاضر شوم. هغوي راته د جامو بدلولو ووئیل. پاکې جامې مې ورله برابر کړې. ګرمې جرابې مې ورته واچولې. بیا ترې نه کور ته راغلم. یوه ګېنټه پس مې صندوق د کلپانۍ د غاړې اډې ته ولېږلو، پېښور ته لاړم.

فخر افغان او امیر محمد خان او درې سوه باوردي خدائي خدمت ګاران د پېښور د صدر رېلوے سټېشن ته روان شو. د میرټهـ په صدر سټېشن دا منظم پرامن خلق کوز شو. دغلته هندومسلم فسادات وو. په ښار کښې کرفیو وه. د ښار نه درې میله بهر په صحرا کښې لرې، جلسه ګاه جوړه وه. دا یو سم دم ښار وۀ. د خېمو قطارونه وو. د هندوستان د هرې صوبې بیلې بیلې خېمې وې. د ضلع مردان ځان له احاطه. د ضرورتونو ممکن انتظام شوے وۀ. والنټېر خدمت ته ولاړ وو. د ډوډۍ لنګر وۀ. دا د کانګرېس انتظام وۀ. هندوان او مسلمانان به شریك لنګر ته تلل . د تخت بايۍ مغل خان او د بنو یو صاحب زما ملګري وو. مونږ درې واړه لنګر ته لاړو. ځائے راته والنټېر وښود. مولانا صاحب لیکي؛ خشکه وریژې، پلیټ کښې دال، د تبخي ډوډۍ او یوه پیاله کښې سوچه غوړي وو، تقسیم کننده ګانو په خندا ووئیل ''گھی صرف پٹھانوں کے لیے ہے'' غوښې خرڅېدې خو دا به مېلمنو ځان له



پخولې، لنګر کښې غوښه نۀ وه. اشتهار لګېدلے وۀ چې هندوان دې د غوښو بازار ته نۀ راځي. هندوان د ښاروو غوښې نۀ خوري خو څنګه به ښه وه کۀ د انسانانو نه ئې کرکه هم نۀ کولې.

قیصې خوږه ده خو زۀ په خاطره کښې دومره وئیل غواړم چې د مولانا صاحب په مونږ عنایت دے. د تقسیم نه اګاهو د ازادۍ د پاره د عوامو جدوجهد ښایي او خپل تکلیفونو ته اشاره کوي، لیکي ـــــ جلسه روانه وه، دریمه ورځ وه. زما د مشر ورور تار راغے چې فوراً راشه. زما خیال وۀ چې د هندو مسلم فساداتو په وجه به مې غواړي. په دغه ورځ مونږ واپس راتلو، زۀ چې وزیر اباد ته راورسېدم. دلته زما کشر ورور حافظ محمد امانت الله په ریلوے کښې نوکر وۀ. د مولانا صاحب ورسره ملاقات ونۀ شۀ. د شپې نوښار سټېشن ته راورسېدل. د نوښار جرنېل احمد خان شپې له بوتلو. سبا له هوتي ته ورسېدو. د طورو چوك کښې ماسف (محمد یوسف) ټانګې والا ورمنډه کړه، صندوق ئې واخست او ورته ئې ووئیل ''کاکاجي راځه باباجي وفات شوے دے''.

اسرار الرحمان او د هغۀ خور اسیه بي بي او د ماما لور د ګودر په غاړه د حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب انتظار ته مور لېږلي وو. اسرار الرحمان د شپږو کالو او دغه خوېندې ئې د نهو کالو وې. په کلپانۍ پُل نۀ وۀ. عافیې بي بي چغه کړه هغه دے کاکاجي راغے. دغه وخت مولانا صاحب په توره ږیره د 36 کالو ځوان وۀ. قوله لونګۍ ئې په سر وه. مخ ته ئې څادر نیولے وۀ . پورې په کمر ئې منډه وهله. ماسف ټانګې والا وې د خاوو

مقبرې ته ځئ ـ مونږ دېخوا په منډه شو ـ په خاوو ګودر يو ګوجر په اوږه پورې ابستو ـ مولانا صاحب مخکښې په منډه تلو، مونږ وروستو وو، چې مقبرې ته ورسېدۀ د خان خېلو مشر خان تاج ملوك خان دلسوز اواز ورکړۀ، صبر وکړئ مولانا صاحب راغے ـ د ميرتهـ سفر وهلے، د ازادۍ سپاهي، خپل د علوم اسلامي لوے عالم، د شيخ الحديث سيد انورشاه کاشميري د اکوړي د مولانا عبدالحق د طورو د مولانا عبدالرحمان سمندر، د سوات د والي عبدالحق جهانزېب د حضرت مولانا حافظ لطف الرحمان د طورو او د حافظ محمد ادريس غونډې عالمانو او د هندوستان د اکماکا عالمانو استاذ ئې په مړونې يو نظر وليدۀ ـ هغه تېره د شهير علي ماشوم، نيکۀ محسوسه کړه چې د حضرت مولانا سيد محمد عبدالجميل صاحب کچه قبر د شهير علي پلار سيد حامد علي شاه نوراني ته معلوم نۀ دے نو د پارهوتي شاه ډنډ بابا يو کاريګر ته ئې ووئيل او قبر تازه شۀ ـ م ر شفق ورله کتبه راوړه ـ هلته دا عالم اسوده دے ـ

مولانا صاحب ليکي؛ زما والد مرحوم و مغفور ما په صندوق کښې د قبر په مينځ کښې وليدلو ـــــــ بيا دا شعر ليکي؛

المـوت قـدح کـل نـاس شـاربوها
والقبـر بـاب کـل نـاس داخلوهـا



مـرګ هغـه پيـالۍ ده چې هـر څـوك ئې څښـي
او قبر هغه دروازه ده چې هر څوك به پرې ننوځي

مولانا صاحب ليکي چې ميرتهـ ته د تلو په ورځ زما والد صاحب د حاضرۍ په وخت هغوي کښې د مرض څۀ نخښنه نۀ وه ليدلې ـ مولانا صاحب ته د خدائي خدمت ګارانو د اعتماد سره وفا کوله نو د ميرتهـ حاضري ضروري وه ـ دے مجاهدينو ملك ازاد کړ خو د دوي قدر به الله کوي ـ الله پاك دې د ازادۍ مجاهدينو له جنتونه ورکړي ـ

# بخاري شریف

حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب د طورو د خپلو مصروفیتونو یوه برخه ډېره لږه برخه، د اولاد تعلیم او تربیت ته بخښلې وه. د رواج مطابق مشر زوي ئې ناظره قران شریف سره سره سکول کښې سبق وې. د والد صاحب د منډو ترړو او د کور نه د غېر حاضرۍ په وجه د هلك پوره توجه سبق ته نهٔ وه. کله چې په 52-1951ء کښې مولانا صاحب په جامعه اسلامیه اکوړې کښې د مدرس او ناظم تعلیمات ذمه واري قبوله کړه او په برائے نام معاوضه ئې خدمت شروع کړهٔ نو مشر زوے اسرار الرحمان او وراړهٔ اظهار الله ئې ځان سره بوتلل. په سکول کښې ئې داخل کړل . استوګنه ئې په جامعه اسلامیه کښې وه نو خلاصه، منیا، قدوري او میزانِ صرف سره به ئې لوبې کولې. دغلته ئې د ملك د مشاهیر علمائے دین دیدنونه وکړل . شېخ الحدیث مولانا عبدالرحمان د کېمبلپور، شېخ الحدیث د پېښور مولانا فضل الرحمان، د دارالعلوم حقانیه مهتمم شېخ الحدیث مولانا عبدالحق، شېخ الجامعه حضرت بادشاه ګل، د شاه منصور مولانا عبدالرزاق، د ډاګۍ مولانا امان الله او په اجتماعاتو او عرسونو کښې د غورغشتو مولانا نصیر الدین، د هندوپاك نومړي خطیب حضرت مولانا عطاء الله شاه بخاري، د شجاع اباد پنجاب قاضي احسان احمد او څهٔ زمانه پس د دارالعلوم حقانیه په سټېج ئې دارالعلوم دېوبند سهارنپور مهتمم قاري طیب



صاحب ولیدل او تر خپله فهمه ئې واورېدل، دا ئې هم تجربه او مشاهده وشوه چې د حاجي راحت ګل صاحب په شان بې لوثه خادمان د دیني عالمانو څومره قدر کوي. دا محترم زما او زما د ملګریو محمد انور صاحب، افضل رضا صاحب، امان الله شاهین صاحب، محمود الحق صاحب، نصر من الله صاحب، محمد شفیق صاحب، نواز حسرت صاحب او نورو، یو خواخوږے او مهربان استاد وهٔ. محمد انور قابل ترین طالب علم وهٔ او غریب هلك وهٔ. د حضرت راحت ګل صاحب په امداد د اعلیٰ تعلیم مرتبې ته ورسېدهٔ او د پېښور پوهنتون په زرعي کالج کښې د پروفېسر په عهده فائز شهٔ. د امریکې نه ئې هم سندونه تر لاسه کړل. اسرار چې په 67-1966ء کښې په یونیورسټۍ کښې وهٔ نو محمد انور صاحب سره به ئې ملاقات وهٔ. دې ماحول په اسرارالرحمان کښې ذوق او شوق پېدا کړهٔ. قلم او کتاب سره ئې رابطه شوه. بیا په طورو کښې ئې د مولانا لطف الرحمان، حافظ محمد ادریس، مولانا سید ګل بادشاه، حافظ سید محمد شاه، مولانا عبدالعزیز مظاهري، خپل والد محترم حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب او قاضي سید علي شاه نه وخت په وخت واجبي شان زدکړه وکړه. د قران حدیث او فقه او ادبیاتو دا عالمان ډېر درانهٔ خلق وو. باقاعده تدریس نهٔ وهٔ خو صحبت او سماعت خو وهٔ چې اثر ئې بې بها دے.

کله چې اسرار الرحمان په یوه موقع خشته د ځوانۍ په عمر کښې د ایم اے بي ایډ د پاس کولو نه پس په 1969ء کښې خپل والد صاحب ته بخاري شریف پرانست او درخواست ئې

وکړهٔ چې یو څو احادیث راته عنایت کړه نو هغوي ورته حکم وکړهٔ، لاړ شه وضو تازه کړه. په خپله ئې په مسجد کښې د عصر مونځ کړے وهٔ. زهٔ د مردان د جامع هائي سکول نه راغلے وم. په کور کښې په جنوبي کوټګۍ کښې ناست وم. والد صاحب هم وهٔ، ما ته ئې ووئيل ـــــ وايه، ما کلمه درسته کړه.

باب كيف بدء الوحى الى رسول الله صلى الله عليه واله وسلم و قول الله عزوجل انا اوحينا اليك كما اوحينا الى نوح والنبيين من بعده. حدثنا الحميدي قال حدثنا يحيٰى بن سعيد الانصارى قال اخبرنى محمد بن ابراهيم التيمى انه سمع علقمه ابن وقاص الليثى يقول سمعت عمر بن الخطاب رضى الله عنه على المنبر يقول سمعت رسول الله صلى الله عليه واله وسلم يقول ـــــ انما الاعمال بالنيات و انما لامرئ مانوىٰ فمن كانت هجرته الى دنيا يصيبها او الى امراٰة ينكحها فهجرته الى ما هاجر اليه ـــــ

والد صاحب ما ته وفرمائيل حضرت امام بخاري يعنې حضرت محمد بن اسماعيل يو مالدار سړے وهٔ. سخي وهٔ. کم خوراکه وهٔ. متقي وهٔ. په شوال 194ھ کښې پېدا شوے او د وړوکي اختر په شپه 256ھ د 62 کالو په عمر کښې وفات شوے وهٔ. په خرتُنګ (سمرقند) کښې ئې مزار دے. زوے ئې نهٔ وهٔ. صحيح بخاري دوي په شپاړس کاله کښې د 600000 احاديثو نه چوڼ کړے دے چې د اماکما په ملکونو يو يو راوي پسې لاړ شي او بيا د روايتونو په لحاظ صحيح حديث په دې کتاب کښې وليکي. د مونځونو، حجونو او عبادتونو عاشق وهٔ. په دې کتاب کښې ځينې احاديث بيا بيا په مختلفو بابونو کښې راغلي دي. نو شمار ئې د احاديثو د اووهٔ زرو نه ډېر دے خو چې دا مکرر



ترې لرې شي نو څلور زره احاديث به پاتې شي او جديد تحقيق دا دے چې د متصل سندونو احاديث د دې نه هم لږ دي.

حضرت مولانا صاحب وفرمائيل د رواياتو متعلق عالمانو د اسماء الرجال په عنوان کتابونه ليکلي دي او کهٔ يو روايت کوونکي هېر زړے، يا په حافظه کمزورے يا په دروغو داغي ثابت شي نو د هغهٔ روايت له ترجيح نهٔ ورکوي چې د حضرت امام بخاري يقين به وشهٔ چې دا حديث شريف د راويانو په حواله عالمانو په اتفاق صحيح ګڼلے دے نو په کتاب کښې به ئې د غسل کولو او دوه رکعته نفل مونځ کولو نه پس درج کړهٔ. هغوي زياته کړه؛

وحی قران هم دے او حديث هم. عالمان قران ته ـــ وحی المتلو ـــــ وايي او حديث ته ـــ وحی غير المتلو ـــ وايي. وحی متلو لوستے شي. الله تعالیٰ حکم کړے دے ـــ قران لولئ ـــ او په ترتيل ئې لولئ. واضح واضح ئې لولئ.

امام بخاري د وحي په باره کښې ـــ انا اوحينا ـــ ايت راوړي چې ثابتوي چې وحي په نوح عليه السلام هم راتله، په نورو نبيانو هم راتلله. د دې اولني حديث راوي حميدي، په نامه عبدالله بن زبير متوفي 219ھ دے. بل سفيان بن عينيه تابعي دے. تابعي هغه مسلمان ته وايي چې صحابي ئې ليدلي وي. دے په 198ھ کښې وفات شوے وهٔ. يحيیٰ بن سعيد د قبس نمسے وهٔ. په 120ھ کښې وفات شوے وهٔ او محمد بن عبدالمالک د خلافت په زمانه کښې وفات شوے وهٔ او حضرت عمر ابن

الخطاب ؓ د لويې مرتبې صحابي او مجاهد وۀ او د حضرت ابوبکر صديق ؓ نه پس دوهم خليفه وۀ ـ مولانا صاحب ما ته ووئيل دا چې کوم ټکي تا وليکل يا دې واورېدل په دې غور وکړه نور سبق به سباله ان شاء الله وايو ـ زۀ چې په سبا سبق ته کښېناستم نو هغوي راته ووئيل د امام الهمام ابوعبيدالرحمان بن مخلد په رساله ــ عدد المرويات ــ کښې دي چې د حضرت عمر ؓ نه 537 احاديث مروي دي ـ دا د ــ الاعمال بالنيات ...... الخ، دا روايت په صحيح بخاري کښې شپږ ځله راغلے دے ـ د نورو روايت کوونکيو نه په دې حديث شريف کښې ــ من هاجر الى الله و رسوله فهجرته الى الله ورسوله ــ الفاظ هم دي لکه د ــ الايمان ــ په کتاب کښې چې دي ـ

د حديث شريف مقصد دا دے چې د نيت اخلاص او د ارادې صحت د يو عمل په نتيجه کښې اثر غورځوي ـ رياکاري نېکي بربادوي، حلال او حرام واضح دي، لايعني فضول کارونه پرېښودل مسلماني ده او چې نيت ئې دغه وي نو بيا د نېك او حلال عمل ونه د مېوو نه ډکه ده ـ هجرت د خپل وطن يا ښار يا کلي نه بل خوا تلل هم دي او د يو کار پرېښودل هم مثلاً يو بنده د دنيا مزې او عېش پرېږدي او د الله تعالى رضا پسې کوشان شي ـ د فقيرۍ او سادګۍ لار اختيار کړي ـ شتۀ من وي خو ساده باده ژوند قبول کړي ـ ما اسرار الرحمان ته ياد دي چې زما والد صاحب حضرت مولانا سيد محمد عنايت الله صاحب ما ته ووئيل چې په ظاهر صورت کۀ يو سړے نېك ښکاري نو مونږ به ئې



احترام کوو ـ شرع ظاهر ګوري خو کۀ د هغۀ نيت اراده او عزم ناپاك وي نو دا سړے رياکار دے، د الله تعالى نه خو پټ نه دے نو دۀ له به د ټګۍ برګۍ او منافقت سزا ورکوي ـ

هغوي ما ته وفرمائيل چې زما د والد صاحب مولانا حافظ سيد عبدالجميل صاحب د علم الحديث د استاذانو سلسله د هغوي په سند 1308ھ کښې داسې ده ـ دا سند په علي ګړه کښې علامه لطف الله ورکړے وۀ ـ

قال عبدالجميل السيد الحسنى الطوروي الفشاوري عن محمد لطف الله عن عنايت احمد عن بزرك على عن محمد اسحٰق عن شيخ عبدالعزيز عن عبدالرحيم عن ابوطاهر ابن ابراهيم الکردي المدني عن ابراهيم عن الشيخ احمد قشاشي عن احمد بن عبدالقدوس ابوالمواهب الشتاوي عن شيخ شمس الدين محمد بن احمد بن محمد الرملي عن الشيخ نصر زکريا بن محمد الويحى الانصاري عن الشيخ الحافظ ابي الفضل شهاب الدين احمد بن علي بن حجر العسقلاني عن ابراهيم بن احمد التنوحى عن ابى العباس احمد بن ابى طالب الحجار عن السراج الحسين بن المبارك الزبيدي عن الشيخ ابي الوقت عبدالاول بن عيسىٰ ابن الشعيب السنجري الهروي عن الشيخ ابى الحسن عبدالرحمٰن بن مظفر الاذولى لى عن ابي محمد عبدالله بن احمد السرخسى عن ابى عبدالله محمد بن يوسف بن مطر بن صالح لش الضريري عن مولف اميرالمؤمنين فى الحديث الشيخ ابى عبدالله محمد بن اسمٰعيل بن ابراهيم البخاري رحمة الله تعالىٰ ـــــ

انما الاعمال بالنيات الحديث على صاحبه الصلوٰة والسلام 1308الهجريه

په اووۀ ورځو کښې د دې یو حدیث شریف په درس کښې زما والد صاحب د خپلې حافظې د عمدة القاري او د تذکره جمیل نه کار واخستلو ۔ ما نوټس هم اخستل او بیا بیا مې د دې حدیث شریف مطالعه وکړه کۀ چرې زما نصیب ښۀ وے نو د ملازمت او سائیکل مشقت مې نۀ وے او د انګریزي سبق په ځائے مې عربي اسلامي علوم درساً وئیلي وې نو نن به د جاهلانو په قطار کښې نۀ وم ولاړ ۔ د دین عالمان د محمدي شریعت حفاظت کوي ۔ د دوي د علم سندونه، متصل وي تابعینو او اصحاب کرامو رضوان الله تعالی علیهم اجمعین ته ځي او بیا ورپسې ختم المرسلین صلی الله علیه واله وسلم ته ۔ کله چې د یو شیخ نه شاګرد یو حدیث مبارک طلب وکړي نو دے د خپل دور د ماه و سال نه په شا نظر واچوي ۔ د خپلو استاذانو او ځینې کتابونو ذکر وکړي ۔ مثلاً دا عبدالله بن سالم المکی ثم البصري (1136ھ) دے ۔ دا کتاب ـــ الاصابه فی اسماء الصحابه ـــ دے، دا کتاب ـــ الاتقان فی علوم القران ـــ دے ۔ دا امام ابن الحجر دے ۔ دا کتاب ـــ شرح الاربعین ـــ دے ۔ دا بل کتاب ـــ الجامع الصغیر ـــ دے او دا د انوارو شغلي ځي ځي امام ابی عبدالله محمد بن اسماعیل البخاري رحمه الله ته ورسي ۔ د بنده د علمي تجسس مشام د عطرو په خوشبو مشرف شي او د حضرت حمیدي رحمۃ اللہ، عبدالله بن زبیر رحمۃ اللہ او د حضرت سفیان رحمۃ اللہ علیہ او د حضرت یحییٰ بن سعید الانصاري او د حضرت محمد ابراهیم التیمي نه حضرت علقمه ابن وقاص الیثی نه حضرت عمر



فاروق رضی اللہ عنہ ته او د حضرت عمر فاروق رضی اللہ عنہ نه حضرت محمد رسول الله ﷺ ته ورسي او سالك وایي؛

بمصطفٰی برساں خویش راکه دین همه اوست
اګر به او نه رسیدي تمام بولهبی است

عبدالرحمان بابا زما د یو پخواني نیکۀ حضرت اخوند یوسف په شاګردانو کښې وۀ، هغه وایي؛

کۀ رښا ده پیروي د محمد ده
ګني نشته په جهان بله رښا

د رحمة للعالمین په صفت یاد شوے دا هادي دا معلم، دا نبی دا کامل راهنما ﷺ فرمایي؛

انما الاعمال بالنیات ـــ الحدیث

کۀ نیت صفا وۀ، اراده نېکه وه ۔ عقیده صحیح وه ، ایمان بې داغه او بې عېبه وۀ نو هر عمل، هر اقدام او هر قدم به په نېغه لار وي ۔ دغه نېغه لار به د هغه چا لار وي چې د انعام او اکرام جوګه وي ۔ د قران په احکامو به په راستۍ عمل کوي او د الله پاك د رضا مقام ته به رسي ۔

الله پاك دې زمونږ مشران او د دین دنیا نېك عمله عالمان او استاذان د جنت الفردوس د ګلزارونو او باغونو ابدي سرمدي استوګن کړي او مونږ فقیران دې د پاکانو جنتیانو ملګري او همنشین کړي ۔

آمین، ثم آمین

✿✿✿

# د باچاخان رحمة الله علیه یاد

حضرت مولانا محمد عنایت الله صاحب په یوه ډائرۍ کښې لیکي:
په 12 جولا ئي 1987ء د روزنامه جنګ په حواله د باچا خان د بهارت سابق وزیر اعظم وشواناته پرتاب سنګه سره د ګفتګو خبره کوي۔ دغه وخت باچا خان دهلي په هسپتال کښې د فالج د حملې په وجه داخل وۀ۔ پرتاب سنګه ئې بیمارپرسۍ له تلے وۀ۔ باچا خان ووئیل چې:
چرته د کرسۍ مرض جوړ شي هلته جمهوریت نۀ پاتې کېږي۔
د دولت او کرسۍ هوا په هر ملك کښې خپره شوې ده۔
یو سړے هم د کرسۍ نه د کوزېدو نوم نۀ اخلي۔
هندوستان په جلسو جلوسونو او د انقلاب زنده باد په نعرو نۀ دے ازاد شوے۔

د مشرانو خبرې د کاڼي کرښې وي۔ د کرسۍ مریضان ملك نیم کړي خو په کرسۍ قابض شي، د کرسۍ د پاره خپل سیاسي نقادان قېدوي او عذابوي ئې ان تر دې چې وژني ئې۔
مولانا صاحب لیکي ـــــ باچا خان وئیل؛
مونږ دا کوشش کړے وۀ چې داسې خلق پېدا کړو چې د ملك او قوم خدمت وکړي۔

څوك چې د الله د مخلوق خدمت کوي د هغوي نه الله رضا شي۔ د باچا خان فلسفه د الله د رضا د پاره بغېر د اقتدار او مال



او زر د لالچ او حرص نه د الله د مخلوق خدمت وۀ۔ د باچا خان خواهش وۀ چې زنانه دې هم دا خدمت کوي۔ باچا خان مریض وۀ۔ مولانا صاحب لیکي چې دا ګفتګو د باچا خان اخري ده۔ بیا هغه بې هوشه شۀ۔ په 14 جولائي 1987ء بېګم نسیم ولي خان د پارټۍ دفتر ته ټیلفون کړے وۀ چې باچا خان هغه شان بې هوش دے۔ د بې هوشۍ په حالت کښې بابا د دهلي نه د پېښور لیډي ریډنګ هسپتال ته راوستے شۀ۔ په 20 جنوري 1988ء دا لوے مجاهد وفات شۀ۔ په شېبو باران کښې د باچا خان جنازه په کنګنم پارك کښې لکونو مسلمانانو وکړه۔ د بابا په جنازه کښې د ملکونو بادشاهان هم وو۔ جنازه لکونو خلقو افغانستان ته یوړه۔ په جلال اباد کښې شیشم باغ د باچا خان ذاتي کور کښې دفن شۀ۔ د باچا خان په احترام کښې افغانستان ته جنازې سره تلونکي د پاسپورټ او ویزې نه بې پروا تلي وو۔ دلته د ضیا الحق صاحب حکومت وۀ۔ په هند کښې د جواهر لال نهرو د نمسي اقتدار وۀ۔

باچا خان یو درویش سړے وۀ۔ د پښتنو د اتحاد او ترقۍ د پاره ئې کوشش کولو۔ هغه د هر بنده د حریت او بنیادي حقونو د پاره مسلسل جهاد وکړۀ۔ هغه د صوم او صلوٰة پابند وۀ۔ حج ئې کړے وۀ۔ د انګرېزانو او د خپل ملك د واکدارانو اذیتونه ئې په صبر زغمل۔ کۀ د هغۀ په هدایاتو اوس هم د ملك واکداران عمل وکړي، د اقتدار او مال و زر د حرص نه لاس په سر شي او د پاکستان د عوامو مسئلو ته متوجه شي، د امن په قیام عملي غور وکړي د افرادو د چخني کولو په ځائے د اولسونو د تعمیر په لار روان شي۔ د تعلیم، صحت او روزګار معاملو ته ورلاندې

وځي . ګاونډي ملکونو سره د امن د قيام او د باهمي تجارت طويل الميعاد معاهدې وکړي . معاشي بحران د قوم په مرسته حل کول په ځان لازم کړي نو لږ وخت کښې به ملك په ترقۍ شي .

❁❁❁



## صلح مصالحت

د قران و حديث د تعليماتو په رو د مسلمانانو په مينځ کښې د روغې جوړې او صلح د پاره کوشش د خېر او ثواب کار دے . د طورو مولانا محمد عنايت الله صاحب به دا کار د عبادت په عقيده کولو .

د لوند خوړ د علاقې صحبت خان قتل شوے وۀ . مولانا صاحب په دې سلسله کښې د نثار محمد خان، مهابت خان، حضرت منان، محمد نعيم، محمد سليم، محمد کبير، محمد اسرار او د مقتول د کونډې بي بي سره رابطې کولې . د مقتول خپلوان دړدېدلي وي . په اسانه صلح ته نۀ اماده کېږي . مولانا صاحب په دې خبره فکر اخستے وۀ چې قتل وشي نو د مقتول وارثان د قاتل سره په بې ګناه خلقو دعوې کوي، ګاونډي مسلمان د صلح مصالحت د پاره قدم نه اخلي . واعظان بې مطلبه وعظونه کوي، د دوه تنو روغه نۀ راولي . پوليس مدعي ته بيان وښايي ـــ داسې وايه ـــ داسې وايه، دروغ دعوىٰ، دروغژن ګواهان، فېصله هر څنګه چې وشي دشمني ختمه نۀ شي. د تانو، کچرو غوا لنګه شي . فريقين لوټ تالا شي . د خدائے تعالىٰ مجرمان شي .

په يوه موقع درې متحارب کورنۍ په يو قتل کښې ونښتې. قتل يو کړے وۀ، هغۀ سره نور بې ګناه ملزمان ګډ شول. حضرت مولانا صاحب ليکي؛

د مقتول جنازه ما وکړه. ډېر خلق په جنازه کښې وو. ما خلقو ته اپيل وکړۀ. د خدائے د پاره د دې فريقينو تر مينځه د صلح کوشش وکړئ. کۀ تاسو غفلت کوي نو د محشر په مېدان کښې به الله ستاسو نه بازپرس کوي.

په درېمه ورځ چې مولانا صاحب فاتحه وکړه نو د غم د کور يو صاحب ورته د وعظ ووئيل. مولانا صاحب قران طلب کړۀ، د سورة نساء يو ايت ئې تلاوت کړۀ چې په هغې کښې په عدل د خلقو په مينځ کښې د فېصلو کولو حکم دے، د لوند خوړ هغه کشاله وه، دا خو په طورو کښې دوه خانخېلانو کورونو د خپلو خپلوانو او د يو درېم غريب کور دشمني وه او درې واړه کورنۍ د باچا خان د خدائي خدمت ګار تحريك ملګري پاتې وو. مسئلې پېدا کېږي. پښتنانۀ په لمسه، په غلط فهمۍ، په اَنا يو بل وژني. د اسلام، پښتو، قام ولۍ، وروروليۍ نه تېر شي. صبر ونۀ کړي نو بيا هم دلته تاواني شي او هم هلته بېلات وکړي. مولانا صاحب د سورة النساء ايت 58 پاره پينځمه تلاوت کړۀ. هغوي وفرمائيېل، د الله تعالیٰ او د الله د رسول حضرت محمد ﷺ حکم منل په مونږ ټولو مسلمانانو فرض دي، څوك چې د الله حکم نۀ مني نو هغه به دلته هم په تکليف کښې وي او هلته به هم د دوزخ په سور اور کښې بېګاه سبا سوزي چې يوه څرمن به ئې اور خوړينه کړي بله څرمن به پرې راشي چې سخت عذاب وشکي، دا سزا



به دۀ له الله ورکوي. د الله طاقت ډېر زيات دے او چې کوم مسلمان حکم مني هغه به وبخښي. د جنت په مزو به سر شي. دا مزې به همېشه همېشه وي، د حشر نشر نه پس بيا مرګ نشته. نۀ دوزخ کښې مرګ شته نۀ په جنت کښې مرګ شته. ما چې کوم ايت تلاوت کړۀ دې کښې الله تعالیٰ ما او تاسو ته حکم کوي چې تاسو سره د هر چا څۀ حق وي هغه حق هغوي له ورکړئ. دا امانت دے، امانت کښې خيانت کول د مسلمان کار نۀ دے. دا د الله او د رسول الله ﷺ د باغيانو کار دے او الله حکم کوي چې کله تۀ د خلقو په مينځ کښې فېصله کوې نو د عدل نه کار اخله. بې انصافي مۀ کوه. بل دا ياد لره چې د جرګې، د مشر، د قاضي او د حاکم خبره او فېصله منه. ځان ته غاوره کېږه مه. تۀ انسان يې، انسان الله ضعيف پېدا کړے دے. يو ماشے دې وژلے شي. ګولۍ خو لويه خبره ده. دروغ دعوىٰ ګواهي ګناه ده. د الله د غضب نه وېرېږه. جګړه کۀ د کافر او مسلمان تر مينځه وي نو هم عدل کوه. دا وعظ ما (محمد عنايت الله د يو مشر په حکم وکړۀ) تاسو او هغه بل فريق دواړه زما دوستان يئ. زۀ ستاسو په غم خفه يم نو دا د مصالحت مشوره درکوم.

دا تنازعه د خانانو په مينځ کښې د څو کناله زمکې په بنياد شروع شوې وه. چا دروغژن په کښې د ابليس کار وکړۀ. يو خان ئې ولمسوۀ، دا سړے د جنګ شوقين نۀ وۀ. دوکۀ شۀ. د يو کشر سره په تکرار شۀ او په يو زلمي ئې ډز وکړۀ. د هغۀ ورور دې قتل کړۀ. بيا صلح نۀ کېده.

یو بل فریق سره د قاتل د کورنۍ جګړه شوه ـ په ډزو کښې یو مشر قتل شۀ ـ مقتول جنګ نۀ کولو چغې ئې وهلې ـ هلکانو ډزې مۀ کوئ ـ په دې کښې ولګېدۀ ـ یو نوابزاده په کښې د صلح کار شروع کړۀ خو څو ورځې پس کنځل، سوك څپېړه او بیا مرګ ژوبله وشوه ـ بیا غلطې دعوې وشوې ـ مولانا صاحب د طورو یو خان بیا بیا دوي له ولېږلو او دغه شان نورو کشرانو مشرانو سره خبرې کېدې ـ دوي د مایارو خانان هم جرګه کښې شامل کړل خو کامیابي ونۀ شوه ـ د دواړو ډلو څۀ کسان مفروران وو خو مفروران به کلي کور کښې وو ـ حکومت په خپل غم کښې ډوب وۀ ـ کۀ ضیاء الحق وۀ کۀ بې نظیره وه ـ ورو ورو مفروران ګېرېدل ـ اخر درېم فریق دغه یو کور د خانانو سره د روغې خواهش مولانا صاحب ته ظاهر کړۀ ـ څۀ وخت پس د خانانو یو مشر خپلو کښې د روغې اظهار مولانا صاحب ته وکړۀ ـ لکه الف، ب، ج درې فریقه دي ـ د الف او ب دشمني ده ـ ب ووئیل الف سره روغه کوم، د الف او ج دشمني ده ج ووئیل الف سره روغه کوم ـ دا صورت حال کافي وخت پس راغے ـ الف او ب خانان دي ـ نزدې خپل دي ـ په غلط فهمۍ او لمسون وجنګېدل ـ ب دا بل کور دے ـ هغوي ته هم په هغه کښې پښېنه شوه ـ وخت ئې واخست، د وراثت مسئلې رامخکښې شوې خو عاقبت روغه



وشوه ـ درې قتلونه شوي وو ـ مقدمې، مفرورتیا، جېلونه، خرچونه وشو خو اخر په 1991-2-4 روغه وشوه ـ

دغه شان مولانا صاحب د طورو د بوسي خېلو او موسٰی خېلو د قتلونو روغه کوله ـ د ګړی امازو سفېد خان په کښې منډې ووهلې ـ دا بهادر سړے وۀ ـ اخر د خانانو پښتنو او د خېبر اېجنسۍ د اپرېدو په شمولیت د طورو د میا صاحب په مسجد کښې روغه وشوه ـ یو کشر ناراض دے، هغه به هم راضي شي ـ مولانا صاحب معمر وۀ ـ مات ګوډ وۀ خو د قام خادم او د الله تعالٰی فقیر بنده وۀ ـ هغوي د کشمریانو د امازو ګړی د سفېد خان په مینځ کښې روغه وکړه ـ دا دشمني دولس کاله چلېدلې وه، دیارلس ځوانان په کښې قتل شوي وو ـ کشمیریانو په مختلفو علاقو کښې اوسي ـ اتحاد په کښې دے ـ مولانا صاحب لیکي؛ کشمیریان د یو بل په امداد کښې ناراستي نۀ کوي ـ

سفېد خان به وئیل ـــ هر کشمیرے زما دشمن دے خو زۀ ئې نۀ پېژنم ـــ د سفېد خان ورور شاه جهان خان سره د دوو دوستانو په دې بدۍ کښې قتل شوے وۀ ـ د بټۍ بانډې کشمیریان هم قتلېدل ـ د سواړیانو حاجي شېر عالم بابا د کشمیریانو دوست وۀ ـ دا نرسخي پښتون دے ـ دوستانو سره به ئې د ټوپك کارتوس امداد کولو ـ

د معیارو عبدالغفار خان، د اتمانزیو خسرو خان، د مصري باندې ولي محمد خان، د امازو ګړې یو ریټائرډ پولیس افسر مولانا محمد عنایت الله د طورو او نوابزاده نصرالله خان د طورو د جرګې ملګري وو ۔ د معیارو په جامع مسجد کښې په زرګونو خلق جمع وو ۔ سفېد خان او شېر عالم خان د خپل خپل فریق مشران وو ۔ دوي سره غاړه وتل ۔ مبارکۍ وشوې ۔ مولانا محمد عنایت الله صاحب د خانانو مینځ له خانان راوستل ۔ نوم ناموس ئې نۀ کولو ۔ د الله د رضا د پاره به په اماکما ګرځېدلو ۔ د هوتي د بلند خېلو جانے کاکا د سواړیانو د کمبرخېلو ایوب کاکا، د سواړیانو د حاجي شېرعالم د معیارو د خانانو د طورو د شېر زما خان د نوابزاده جرنېل محمد وصال خان د چارسدې د خانانو د هوتي د نواب غفور خان د رستم بخشالي صوابۍ او د دیر د عالمانو خانانو توجه به ئې د پښتنو د خانداني دشمنیو د هوارولو د پاره دې اهم دیني کار ته راګرځوله ۔ د نارینه زنانه کورني اختلافات به ئې په حکمت او جرګه ختمول ۔

هغوي د قام خېر ترقي او ابدي خوشحالي غوښته ۔ دغه ئې ارمان وۀ او ټول ژوند ئې قام او دیني علمونو او افکارو ترویج او تدریس ته وقف کړے وۀ ۔ ذاتي کورني مسائل ئې الله تعالیٰ ته حواله کړي وو ۔

الله پاك دې د جنت سردار کړي ـــــ اٰمین

❁❁❁



## مسلمانان په خپلو کښې ورونه دي
## نو د وروڼو تر مینځه اصلاح کوئ

علم، ادب او هنر د بنی اٰدم شخصیت له ښائست، قدر او عزت ورکړي . د نسب په امتیاز خبره کېدے شي خو جهالت او بد خوي د عالي نسب په یو نفر د بدنامۍ تور پورې کړي . د مشرانو د نام نسب ذکر د خپل ذات د عېبونو د پټولو په خاطر بې سوده عمل دے . د اعلی علمونو او د بهترینو اعمالو خاوندان کۀ د عبرت په خاطر یاد کړے شي ۔ د نعمت د تشکر په دود ئې تذکره وشي نو دا یو ښۀ عمل .دے شاعران د شعر په برکت او ادیبان د قلم په کرامت د مرګ نه پس هم د ځینې خلقو یادونه او نومونه ژوندي ساتي ۔

قراٰن د الله تعالیٰ کلام دے او الله ئې د حفاظت ذمه اخستې ده نو د قراٰن په متن، عبارت یا الفاظو کښې د زېر او زبر فرق څوك نۀ شي راوستے ۔ د اسلامي دنیا په چاپ خانو کښې بې شماره نسخې مسلمانانو چاپ کړي دي د کتابت اکادکا غلطۍ د ځینې کاتب یا کمپوزر نه کېدے شي خو په اٰیتونو کښې اختلاف او تضاد هېڅ کله نۀ وي ۔ دغه قلمي غلطۍ هر قاري هر حافظ او هر عالم پېژني او چې تلاوت کوي نو تصحیح ئې کوي ۔

په قراٰن کریم کښې د قامونو او افرادو د ښۀ او بد عمل او د صحیح او غلطو عقیدو ذکر دے ۔ دا ذکر د عبرت د پاره

ضروري وي ـ په سورة البقره کښې ابتداءً د مومنانو، کافرانو او منافقانو پېژندګلو په مختصره او جامع طريقه وشي ـ

دا وضاحت الله وکړې چې فساد کوونکي ځان ته مصلحان وايي ـ دا د زړهٔ او نظر مريضان نن عام دي ـ بې ګناه قتلونه کوي او د رفاهِ عام په ادارو د خلقو ذهن د خپل فسادي عملياتو نه بل خوا اړوي ـ په څوکۍ مقرر قوتونه د کور مالکان او د هغوي بچي د حفاظت په عنوان بې دربغه وژني ـ د سورة البقره اٰيتونه نهم، لسم او يولسم د دوي مخونه دنيا ته ښايي او د دوي د پاره د دردناك عذاب خبر ورکوي ـ دا عذاب جسماني، مالي او ذهني باقاعده جاري دے ـ افراد او اقوام ئې په نخښه دي ـ يو ماشے يو جرثومه يو وائرس ملکونه تباه کړي ـ

د حضرت اٰدم عليه السلام د تخليق، علم ، احترام او د نسيان او بيا ترقيامته په زمکه د بنی اٰدمو يو بل سره د عداوت تذکره ده او بيا د بنی اسرائيلو ذکر اٰغاز شي ، الاتقان، جلد دوېم، صفحه 290 (اردو ترجمه) دغه قوم ته ''کند ذهن وايي'' په هسې معجزو هم په نېغه لار نهٔ شو ـ نن هم دنيا کښې د سائنس او هنر په کمال حسي ''معجزات'' ښکاره وي ـ ''سنريهم آياتنا فی الآفاقِ و فی انفسهم ......'' څوارلس نيم سوه کاله اګاهو د دې کارنامو اطلاع ذکر ده ـ

مونږ د تاريخ نه سترګې نهٔ شو پټولې ـ د بادشاهانو د جنګونو او د خونرېزۍ نه کتابونه ډك دي ـ ما دا يو څو خاطرې وليکلې ـ زما والد صاحب مولانا محمد عنايت الله د طورو يو خدائي خدمت ګار عالم وهٔ ـ د انسان خدمت ئې د ژوند مشغله وه ـ



د هغوي خانانو نوابانو سياسي اشخاصو، زميندارو کسانانو غريبانانو اديبانو شاعرانو او عالمانو عابدانو سره تعلق وهٔ ـ د طورو واحد ګل چميار ئې هم دوست وهٔ ـ شاه باچا صاحب د طورو يو شريف تعليم يافته انسان دے ـ په 25مه فروری 2020ء د واحد ګل کاکا زوے مراد علي ناڅاپه وفات شهٔ ـ شاه باچا صاحب د جنازه ګاه نه کټ سره مقبرې ته لاړ هلته د طورو د خانخېلو د مولانا محمد ادريس صاحب زوي محمد الياس خان هم د شېخ ملتون نه راغلے وهٔ ـ د طورو په خان خېلانو کښې حضرت مولانا عبدالرحمان صاحب عرف سمندر خان رحمه الله او حضرت مولانا محمد ايوب خان صاحب رحمه الله نامي ګرامي عالمان وو ـ مولانا سمندر خان حافظ القران وهٔ ـ بحرالعلوم وهٔ ، د استاذِ کل مولانا حافظ سيد محمد عبدالجميل صاحب رحمه الله شاګرد وهٔ او مولانا محمد ايوب خان صاحب رحمه الله په مهمندو کښې د تورنګزو د حاجي صاحب رحمه الله خطيب وهٔ ـ محمد الياس خان ته مولانا محمد عنايت الله صاحب خط ليکلے وهٔ چې دا واحد ګل زما دوست دے ـ دهٔ سره دوستي جوړه کړه ''دا پښتون سړے دے'' ـ زوي سره ئې امداد وکړه ـ هغه مراد علي سره امداد وکړهٔ ـ واحد ګل کاکا په قول د محمد الياس خان او په روايت د شاه باچا صاحب تر مرګه مرګه د محمد الياس خان د احسان مننه کوله ـ ملاقات له به ئې تلو ـ مينه او سود به ئې کولو ـ هر کال به ئې ورله څپلۍ وړلې ـ زوي ته ئې وصيت کړے وهٔ نو هغه (مراد مرحوم) به هم د پلار په شان د محمد الياس خان احترام کولو ـ مينه او سود به ئې پرې کولو ، محمد الياس خان وئيل ماله به ئې

هر کال ښپلې راوړې ، اوس هم زما په ښېنو د هغهٔ راوړې ښپلۍ دي ۔ واحد ګل کاکا د شبقدر يو ملك صاحب له مولانا محمد عنايت الله صاحب سره دوه کاله شبقدر او سخاکوټ وغېره کليو ته تلے وهٔ د اصلاح کوشش ئې کولو ۔ دغه ملك صاحب ما ته وئيلي وو چې دغه دشمنۍ سل جرړې کړې وې ۔ دوه طرفه قتلونه جاري وو ۔ د سخاکوټ خان له مولانا صاحب د لسو عالمانو سپين ږيرو جرګه بوتله ۔ هغه وې دا بنی اٰدم نهٔ وو فرښتې وې ۔ د شبرګړ مهتمم صاحب، د شاه منصور، مردان او امازو ګړۍ عالمان پاکان خلق وو ۔ الله د دوي روغه وکړه ۔ تفصيل ئې ما ته نهٔ دے ياد۔ اشرف علي او سيد باچا صاحب ريټائرډ سېکرټري ته به معلومات وي۔

دا خاطرې زهٔ د عبرت د پاره ليکم ۔ د نېکانو خدائي خدمت ګارانو تذکره اصل تاريخ وي ۔ اقدار بدلېږي ۔ د مولانا صاحب دوست غريب موچي وهٔ خو هغه عملاً پښتون وهٔ ۔ د احسان فراموشۍ د عېب نه د هغهٔ کردار پاك وهٔ ۔ هغهٔ ته مولانا صاحب د قراٰن د سورة الرحمٰن د اٰيت نمبر شپېږم مفهوم رسولے وهٔ (هل جزاء الاحسان الا لاحسان) د احسان بدله احسان ده ۔ د مولانا صاحب مرحوم د درسِ قراٰن يو شاګرد د فرورۍ 2020ء په دويشتم تاريخ د سيد افضل شاه او هلال خان والد دليل خان په موجودګۍ کښې ووئيل چې هغوي به دومره اسانه ترجمه کوله چې تر اوسه ما ته ياده ده ۔ داسې ډېر خلق د هغوي د تعليم تدريس تبليغ او صحبت نه فېض ياب شوي دي ۔ (زهٔ د ډاکټر پروفېسر محمد طهٰ نه په معذرت لوستونکيو ته اپيل کوم چې)



"دعا کرو کہ خدا اس کی مغفرت فرمائے
وہ میرا باپ حقیقت میں باپ سب کا تھا

او پروفيسر مذکور په ژبه وايم چې:

خدا سے موت نہ مانگی وہ زندگی سے لڑا
جوان حوصلہ اس مردِ جاں بلب کا تھا

د 85 کالو په عمر کښې د مرضونو او تکليفونو او ذاتي او قامي غمونو باوجود د اخري سلګۍ پورې هغوي چرې شکايت نهٔ وهٔ کړے او د ځنکدن په وخت کښې ئې هم خلهٔ کنګال کړه، قبلې ته ئې مخ کړهٔ ۔ ما کلمه شهادت وئيلو ، خور مې سورة ياسين تلاوت کولو ۔ د هغوي شونډې په کلمه شهادت رپېدې ۔ په جبين ئې غټه غټه خوله راغله او په ارام شهٔ ۔ زهٔ بيا د ښاغلي پروفېسر محمد طهٰ الفاظ يادوم:

وہ ہار ماننے والا کبھی نہ تھا لیکن
اجل کا آخری حملہ بڑے غضب کا تھا
دعا کرو کہ خدا اس کی مغفرت فرمائے
وہ شہر یار حقیقت میں یار سب کا تھا

مولانا صاحب د 14جنورۍ 1986ء مطابق 2 جمادي الاول 1406ھ په ډائرۍ کښې ليکي:

''د بدقسمتۍ او د اسلامي معاشرې د غفلت په وجه په يو عظيم طوفان کښې مسلمانان او خصوصاً د پاکستان مسلمانان راګېر شوي دي او هېڅ د خلاصي تدبير ئې نشته ۔ د دوه مسلمانانو

دشمني جوړه شي ، دوي سره ګاونډي مسلمان په ارام ناست وي ـ نيمه انچې په مقدار د صلح مصالحت د پاره قدم نۀ اخلي ـ واعظان وعظ کوي ليکن د موقع په لحاظ خبره نۀ کوي بلکې يو سر او بل سر به وهي''.

دا هغه شديد احساس وۀ چې حضرت مولانا محمد عنايت الله به ترې د شپې خوب نۀ شۀ کولے او د واعظانو توجه ئې اصلي مسئلې ته راګرځوله ـ نن خو واعظان په ترنم د عربۍ ، فارسۍ ، اردو او پښتو شعرونه ووايي او د خپل خوږ اواز او د مرۍ په زور د اماکما خبرې په ترنم کښې وکړي ـ ژوبل زړونه ورله موټې ګرم کړي او فريقين په تاڼو کچرو او په مفرورتيا کښېوزي ـ مولانا صاحب ليکي ''په رپورټ کښې بې ګناه بې خبره سړے راګېر کړي''. زۀ اسرار د طورو د يو مرګوني د کټ خوا کښې په تاڼه کښې ولاړ وم ـ د ژمي شپه وه ـ پولس بچې وې ـ مرګوني په تيارۀ کښې چا ويشتلے وۀ ـ ګواه نۀ وۀ ـ دوه مشران مرګوني ته لګيا وو ـ په فلاني دعوىٰ وکړه ـ غرقېږي ـ فلانے کلي کښې نۀ وۀ ، دعوىٰ پرې وشوه ـ اصل قاتل سپين باز شۀ ـ حوالات او جېل د بل په برخه شۀ ـ مولانا صاحب خفه دے ـ يو ځل حمله په 15 مئي شوې ده او دعوىٰ په داسې سړي وشوه چې چې هغه په 2 مئي دوبۍ ته تلے دے ـ د الله ويره نشته ـ د محشر د عدالت عقيده نشته ـ پوليس او وکيل مدعي ته بيان ښايي ـ ګواهان په خپلوۍ ، دوستۍ، په رشوت دروغو ته جوړ کړي ـ دا هغه دوزخي عمل دے چې قومونه تباه کړي ـ



دا صورتِ حال د مولانا محمد عنايت الله صاحب د بې قرارۍ موجب وۀ ـ دِ قتل مقاتلې په يو تعزيت کښې د کور يو مشر مولانا صاحب ته د وعظ ووې ـ دربمه ورځ وه ـ مولانا صاحب قرانٰ پرانست ـ د عدل انصاف په موضوع د ايت په تفسير کښې ئې د ناجائز دعوو او غلطو شهادتونو په ګناه او نقصان تبصره کوله نو هم دغه مشر تنګ شۀ او دائې غوښتل چې دا تراخۀ رښتيا وانۀ وري ـ مولانا صاحب خبره وکړه ـ بيا ئې څۀ موده مختلف خانان او مشران په دې پوهول چې د فريقينو روغه کول ستاسو اخلاقي فرض دے او د ثواب کار دے ، فريقين لا ګرم وو چې د مفرورتيا او کچرو تاڼو چپو د لادو بادو پرېستل نو د مولانا صاحب خبرې ته ئې غاړه کېښودې ده او اخر روغه وشوه ـ مولانا صاحب به د نوابانو خانانو ملکانو او بهادرانو ټوپك مارو توجه د فريقينو اصلاح ته راګرځوله ـ پښتانۀ د جرګو او ننواتو خلق دي ـ دوي چې ځوك په يوه ښه طريقه اماده کړي نو دشمنۍ هوارې شي ـ

مولانا صاحب د 2 جنورۍ 1991ء په ډائرۍ کښې ليکي:

چې په هر قوم قبيله کښې دشمني وي بدامني وي دغه قبيله او قوم ترقي نۀ شي کولے ـ نو هغۀ تجويز ورکوي چې په هر کلي کښې دې پښتانۀ مسلمانان د اصلاح د پاره جرګې جوړې کړي ـ مولانا صاحب د اصلاح دې کار ته جهاد وايي ـ هغوي ليکي:

''کۀ دا جرګې د دشمنيو د ختمولو جدوجهد شروع کړي نو قوم به بچ کړي ، امن به قائم شي ـ د مسلمانانو د عزت حفاظت به وکړي ـ خداے به هم رضا شي او د اخرت نجات به حاصل کړي''.

مولانا صاحب ليکلي دي '' د فريقينو د اصلاح په دوران کښې کۀ

چرې مصلح ته څوك بد رد ووايي ، مصلح دې نهٔ خفه كېږي . برداشت دې وكړي ، الله به كاميابي وركړي . الله به ترې نه خوشحاله شي''.

مونږ ته قران بيا بيا د اصلاح امر كوي . په سورة البقره كښې ايت 224 راغلے دے؛ و تصلحوا بين الناس، په سورة النساء كښې ايت 129 كښې دي؛ وان تصلحوا و تتقوا فان الله كان غفوراً رحيما ، په سورة الحجرات كښې ايت كښې9 دي؛ وان طائفتان من المومنين اقتتلو فأصلحوا بينهما. كهٔ دوه مومنانې ډلې په جنګ شي نو په هغوي كښې صلح وكړئ او صلح په عدل كوئ. مومنان د يو بل ورونړه دي . د خپلو ورونړو په مينځ كښې اصلاح وكړئ. صلح بهترين عمل دے . په صلح مصالحت امن خوشحالي او ترقي ممكن شي . دغه قراني ، اسلامي فريضه د الله تعالىٰ او حضرت محمد رسول الله صلى الله عليه واله وسلم د خوشنودۍ باعث عمل دے. د دې عمل د كوونكي په تذكره كښې د ټولې او د ګرد قام او انسانيت خير دے نو مونږ ئې مكرر ذكر كوو .

الله دې ټول مصلحان جنتيان كړي ، امين ، يا رب العالمين.

او الله زمونږ د ملك ټول قامونه او ټول حاكمان او قوتونه د يو بل دوستان كړي چې امن او امان شي او دا ملك جنت نشان شي .

❀❀❀



ليكونكے: م . ر . شفق

## "داجي ..... په جېل كښې"

مونږ ورونړو خوېندو به مور ته '' ب . ب'' (بې بې) او پلار ته ''داجي'' وئيل . ''ب . ب'' به راته خبره كوله چې وړوكي اختر ته درې ورځې پاتې وې . پېښمني مال پوليس راغے او ستاسو پلار ئې د هري پور (هزاره) جېل ته بوتلو . ورسره د سوارړيانو مولوي صاحب (مولانا سيد ګل بادشاه . امير جميعة العلماء) هم بنديوان كړے شهٔ.

''مشر كاكاجي'' (مولانا محمد لطف الله) به راته وئيل ''زهٔ هم په ښكالو پوهـ شوم . په هيبت ورپاڅېدم، پلار سره دې لاس كښې تماچه وه . هغه مې ترې زر ترلاسه كړه . د كوټې ور وړېږدهٔ . مونږ چې ور خلاص كړهٔ نو پوليس كپتان ښهٔ په عزت احترام، سلام كلام وكړهٔ ـــ چې ''مولانا صاحب، ستاسو د ګرفتارۍ حكم دے .'' پلار دې ورته ښهٔ په حوصله ووې ''ښه ده جي، بس جامې بدلوم او راځم.''

او ـــ بيا د شپې تيارهٔ كښې د پوليس په اردل كښې دواړه عالمان رخصت كړي شو . وروستو پته ولګېده چې زمونږ د چم ''دلېل كاكا'' او دكاندار شريف الله كاكا (د نورالامين عرف باچا خان پلار) پوليس وهلي ټكولي وو . دا دواړه خدائي خدمت

ګاران وو ـ دوي له سزا په دې ورکړې شوه چې د مولانا صاحب کور کوڅه ئې پولیس ته نۀ ښئیله ـ

د ''قیوم خانۍ'' نوې ورځې وې ـ په خدائي خدمت ګارو ئې تړیس مار جوړ کړے وۀ ـ ناروا ظلمونه ئې کول ـ پولیس به بې تپوسه، په کور ورننوتل او د خلقو بې عزتۍ به ئې کولې ـ د الله تعالیٰ فضل او احسان وۀ ـ زمونږ د ''داجي'' ژوند هر څنګه حالاتو کښې، په حیا عزت تېر شوے وۀ ـ

پولیس کپتان د ادینه (اسمبلا) عبدالعزیز خان وۀ ـ پېژندګلو سړے وۀ ـ هغۀ ته چې د مولانا صاحب د ګرفتارولو پته ولګېده نو په خپله ئې دغه ذمه واري واخسته چې څۀ قسمه غلطي ونۀ شي او د کورنۍ د عزت خیال وساتلے شي ـ دغه وجه وه چې کله به د دې واقعې ذکر راغے نو داجي به ئې ډېره مننه کوله ـ (د داجي ډائرۍ کښې مې چرته لوستي دي)

زۀ چې د ''تقویم تاریخي'' (عبدالقدوس هاشمي) تر مخه حساب لګوم نو دا به د ګل یا نهې ورځ وه ـ د کال 1367 هـ وویشتمه روژه او د کال 1948ء درېم اګست وۀ چې زمونږ والد صاحب، مولانا محمد عنایت الله او د جمیعت العلماء صوبائي امیر، مولانا سید ګل بادشاه صاحب ګرفتار کړي شو ـ

دغه وخت ما ته یاد نۀ شي ـ د مور د وېنا تر مخه زما عمر به څۀ درې کاله وۀ او څو کاله پس هم ـــ څۀ ''لل بولا'' غوندې وم ـ د مور د وېنا مطابق څو ورځې پرله پسې به ما ژړل ـ کۀ چا به هر څنګه پخلا کولم زۀ به نۀ قلارېدم ـ اخر ډېرې ورځې پس مې دا یوه خبره وکړې شوه '' هغه سپاهیانو چې بوتلے دے، هغه سړے



دې راشي'' خو هغه سړے څنګه راتلے شۀ .....؟ او دوه دوه نیم کاله پس چې بیا د جېل نه راتلو نو هغه د خوشحالۍ منظر راته لږ لږ یادېږي ـ

د هري پور جېل نه چې داجي کوم ''پوسټ کارډونه'' رالېږلي وو ـ هغو کښې یو څو محفوظ دي ـ اندازه لګي چې زما محترم ورور اسرار د طورو په 1948ء کښې د دوم او 1949ء کښې د درېم جماعت طالب علم وۀ او د والد صاحب عمر به اتۀ دېرش کاله وۀ ـ داجي دا خطونه د هري پور جېل نه د اسرار او خپلو وروڼو په نوم رالېږلي وو ـ

زۀ دلته د دغو پوسټ کارډونو یعنې د جېل نه رالېږلو خطونو ځینې برخې وړاندې کول غواړم چې اتۀ دېرش کلنے دیني عالم ، مدرس، سیاسي کارکن او خدائي خدمت ګار د ''قېد بامشقت'' په حالت کښې خپل اولاد ، د کورنۍ کشرانو مشرانو ، خوېندو مېندو ، دهقانانو ، دوستانو او د وړو د سبق استاذانو په لوري د خپلې مینې، خوږ ترون او د صبر استقامت رویې څرګندونه څنګه کوي ـ په تېره تېره قېدیانو ته به هفته کښې یو پوسټ کارډ ورکولے شۀ یا دوه هفتې پس به د خط لېږلو اجازت ورکولے شۀ نو والد صاحب د لیك په خپل مخصوص طرز کښې، د وړوکي په شان پوسټ کارډ، دواړه مخونه، په ډېر احتیاط څنګه پکارولي دي ـ ټولو عزیزانو ته تسلي او ډاډګېرنه ورکوي او په اختصار کښې د جامعیت نه کار اخلي ـ د امېد اظهار کوي ـ هر څنګه حالاتو کښې حوصله نۀ بائیلي او خپل عالمانه شان ئې، فطري انداز کښې په ځائے ساتلے دے ـ

ورور اسرار الرحمان صاحب د دربم جماعت طالب علم وۀ، ''داجي'' ورته په 4م جون 1949ء د هري پور د جېل نه پوسټ کارډ رالېږلے دے، ليکي:

''زما د سترګو توره! اسرار الرحمان صالح شې!

د ډېرې دعا او ياد نه پس تا ته ليکم چې ستا د ناجوړتيا نه خبر شوم۔ دعا مې د صحت د پاره کوله ـــ او کوم، ستا به ضرور ګيله شوي وي چې ستا د علاج او تپوس ذمه واري ما پوره نۀ کړه۔ لېکن د ځيګر ټوټې! په ژوند کښې داسې حالات او واقعات انسان ته پېښېږي او دې کښې د قدرت حکمت وي او په حقيقت کښې د خدائے د لوري دا يو امتحان وي۔ همېشه سړے په خپل خيال او په خپله خوښه کار نۀ شي کولے بلکې معذور شي ـ زۀ هم معذور وم چې ستا علاج او تپوس مې ونۀ کړې شۀ۔ خدائے پاک شافي دے۔ زما دا امېد دے چې ستا په همت کښې به فرق نۀ وي او نۀ پکار دے چې راشي۔ بلکې همېشه په دنيا کښې لکه د بهادر غوٚندې تکليف سره مقابله کول پکار دي ـ د صبر په نتيجه کښې ډېرې خوشحالۍ ورکولے شي۔''

داجي د پوسټ کارډ په دوېم مخ ليکي:

''ستا د خپل قلم خطونه چې ما ته راغلي وو، زۀ ډېر خوشحاله شوے وم۔ دلته زما نورو دوستانو ته مې ستا خطونه وښول، ټولو تا ته دعا کوله او افرين ئې وئيلو۔ خدائے دې تا زر تر زره جوړ کړي چې بيا بيا په خپله ما ته خط رالېږې۔ ستا خط کښې د ټولو لويو وړو د خېريت حال ليکلے وي۔ د بل چا په خط کښې نۀ وي۔ تا لره ضرور پکار دي چې پرهېز کوې۔



مشتاق الرحمان، سعيده، اٰسيه، صالحه، عاصمه، بابو شاه (سيد اظهار الله)، مهرالنساء، سلامت الله، شرافت الله، د شرافت الله همېشره، باچا (سيد نورالحق) ستا مشر ماما جي (مولانا لطف الرحمان) او کاکاجي (مولانا محمد لطف الله)، عبدالنبی، سميع الحق او ټولو مشرانو او کشرانو ته زما دعا او سلامونه وايه۔ غفور (دهقان۔ بوسي خېل) به امېد دے چې تاسو سره وي۔ هغۀ سره دار و مدار کوئ۔ ستا استاد حافظ سيد محمد (باچا صاحب) ته هم زما سلام وايه۔ د دې خط جواب زر ما له راکړئ۔ مولوي صاحب (مولانا سيد ګل بادشاه) تاسو ته سلام وايي۔ هغه جوړ دے۔ ستاسو ....... محمد عنايت الله

سياسي نظر بند۔ هري پور جېل

په 2م اګست 1949ء کښې يو خط کښې ليکي:

''دې کښې شك نشته چې تاسو ته به تکليف وي لېکن دې تکليف سره به تاسو ته لويه تجربه حاصله شي۔ خدائے دې تا ته حوصله در کړي ـــ مشران کۀ چرې تا سره مينه نۀ کوي ، تا ته ضرور ده چې د خپل مشر ادب تعظيم به کوې۔''

د 18مه مئي 1949ء، يو پوسټ کارډ دے، د اسرارالرحمان په نوم ليکي:

''د خدائے شکر دے چې ستا صحت ښۀ شوے دے۔ زۀ ډېر خوشحال شوم چې تۀ د مدرسې سبق وايې ۔ مګر دا هم ضروري ده چې د قران شريف سبق هم قضا نۀ کړې ـــ ما ته د جامو پارسل راغلے دے۔ مولانا ګل بادشاه صاحب جوړ دے ،

قدرې کمزورے دے ـ او ـــ دلته هر څوك کمزورے وي ځکه چې دا بل قسم ځائے دے.

د منيرې والدې (د حافظ محمد ادريس مور) ته، د خان باچا (عبدالغني) والدې ته او ټولو مشرانو او کشرانو ته، زما سلامونه وايه. د خان باچا والدې ته، د حافظ صاحبزاده مرحوم تعزيت زما د طرف نه وايه. د "غله ډېر ابۍ" ته دې وايه چې دعا کوي. نور زهٔ د خدائے په فضل په خېريت يم. (محمد عنايت الله)

د دې پوسټ کارډ په بل مخ ئې زمونږ مشر ماماجي ته اردو کښې خط ليکلے دے. د تبرك په توګه ئې رانقل کول غواړم:

❁❁❁



محترم جناب اخویصاحب مولانالطف الرحمان مد ظلکم

اسلام علیکم۔ میں نے گزشتہ ہفتے میں خط نہیں لکھا کیونکہ (اس کارڈپر) ایک دوست کو لکھا تھا۔ نور چشم ظہور الحق کی زبانی حالات معلوم ہوئے تھے۔ میں نے بھی ان کو کچھ نہ کچھ بتایا ہے۔ شاید آپ کو بیان کیا ہوگا۔ میرے پیرول کے بارے میں اس نے تذکرہ کیا تھا۔ آپ نے بھی لکھا تھا۔ شاید یہ سلسلہ ابھی ختم نہیں ہوا۔

مولانا صاحب صدر (سید گل بادشاہ) کی پریشانئ مزاج کے متعلق اخبار میں بھی لکھا ہے۔ اس کا مزاج روبصحت ہے۔ ضعف دماغ کا عارضہ تھا۔ جسمانی آرام کی ضرورت تھی۔ ہسپتال میں آرام ہوتا ہے۔ چند ایک درخواستوں کی تجویز فرمائی ہے۔ ان باتوں کا تعلق ملاقات سے ہے۔۔۔۔۔۔ اسرار الرحمٰن کی صحت اور تعلیم کا خیال رکھا کریں۔ آپ خط لکھ دیا کریں۔ اگر پیرول منظور ہوا تو ظہور دستی لاکر داخل کرے۔ وقت ملاقات پر سید یوسف بادشاہ صاحب جمعدار صاحب، اہالیان محلہ محمد اسلم خان صاحب اور دوسرے دوستوں کو، خان لالہ، عبدالنبی، "بازلالہ" کو بھی سلام قبول ہو۔

از طرف محمد عنایت اللہ

18-5-1949

(بازلالہ: ہمارے ماموں حافظ فیض الرحمٰن مرحوم)

يو خط ئې مشر ورور (مولانا محمد لطف الله) ته په 9م اګست 1949ء ليکلے دے. دا هم اردو کښې دے.

محمد عنایت اللہ

از ہری پور جیل

جناب محترمی اخویصاحب دام ظلکم

اسلام علیکم ۔ خیریت دوطرفہ نصیب ہو ۔ آپ کا مورخہ 2 اگست کا لکھا ہوا خط موصول ہوا۔ خداوند کریم کا شکریہ ادا کیا۔آپ نے تحریر فرمایاہے کہ ہر قسم کا اطمینان اور تسلی ہے۔ مجھے بھی تسلی ہوئی۔ کاشتکار اور اجارہ دار لوگ اسی زمانہ میں عموماً بے وفا ہو جاتے ہیں اور معاملات میں بد عہدی کرتے ہیں۔ عبدالحکیم کے بارے میں یہ باتیں لکھ رہا ہوں کہ آپ کو تکلیف ہوئی۔ کسی طریقے سے آہستہ آہستہ وصول کیا کریں۔ بہتر تو یہ ہوتا کہ جس فصل میں بھی ہو جب خرمن تیار ہو جائے زر اجارہ کا مطالبہ کرنا ضروری ہے۔ جنس کی صورت میں جو کچھ آمدنی ہو، علی الحساب وصول کرنی چاہیئے۔ خیر آپ جانتے ہیں اور آپ کا تجربہ بھی ہے، میں یہاں سے کیا رائے دے سکتا ہوں!!

فقط والسلام



يو خط د کشر کاکاجي (حافظ محمد امانت الله) په نوم په 7مه جولائۍ (؟) هري پور سنټرل جېل نه رالېږلے شوے دے.

نور چشم محمد امانت الله طول عمرك

السلام علېکم ....... ستا دواړه خطونه ما ته راغلي دي. د خط په وصولۍ کښې تاخير وشي ځکه چې سنسر کولے شي ..... ستا د يوې عهدې نه بلې عهدې ته تبديل کېدل، د ترقۍ دي ـــ الحمد لله خدائے دې نوره ترقي درکړي او خدائے دې د افتونو نه په امن لره. کله چې د وزير اباد نه پاك پټن ته لاړ شې نو د هغې مقام پته ما ته وليکه. غالباً د چوټۍ منظوري دې هم د تبديلۍ صورت کښې وشي. نو کۀ چرې کلي ته راغلے. هم به خط رالېږې ....... يو بل خط کښې به درته تفصيل وليکم.

په دې کارډ کښې ځائے ختم شۀ.

محمد عنایت الله

په 49-8-3 ئې مشر کاکا جي (مولانا محمد لطف الله صاحب) ته يو اوږد خط په اردو کښې ليکلے دے۔ دې خط کښې ئې د مشر ورور نه (د هغوي د جلالي طبيعت او ساده لوحئ په حواله) څۀ ګيلې شکوې هم کړي دي۔ دې خط کښې ليکي:

از طرف محمد عنايت الله

محترمی جناب اخويصاحب مد ظلکم

"۔۔۔۔۔۔۔۔۔ خط لکھنے میں دیری کی ہے۔ وجہ یہ تھی کہ ہمارے پاس کارڈ نہیں تھا۔ رمضان شریف بخیر وخوبی گزر گیا۔ یہاں بارشیں ہوتی رہتی ہیں۔ لہذا موسم ٹھنڈا ہے۔ خدا کے فضل سے موجودہ حالت میں مجھے مرض کی کوئی شکایت نہیں۔ شغل تدریس کر رہا ہوں۔ فقہ کی چند کتابیں اور ترجمہ قرآن شریف میرے ذمہ ہے۔ مشکوٰۃ شریف، باب الحساب والقصاص، والمیزان تک پڑھایا۔ عنقریب مشکوٰۃ شریف ختم ہونے کو ہے۔ بعض شاگردوں نے "ہدایہ" طلب کیا ہے۔ اگر پہنچا تو ان کو ہدایہ پڑھانا شروع کروں گا۔ یہاں کتابیں علوم دین کی نہیں ہیں جو کچھ بھی میسر آئے۔ ان میں شغل مطالعہ کرتے ہیں۔

آپ کی بعض تکالیف پر مجھے بھی صدمہ پہنچتا ہے لیکن قدرت کے فیصلے کا انتظار کرنا لازمی ہے۔ مقدرات الٰہیہ کے بغیر کچھ بھی نہیں ہو سکتا۔

میں نے سنا ہے کہ ظہور آنے کو ہے، مہربانی کر کے ان کو "تصریح" اور شارح عصمت اللہ دونوں حوالے کریں۔ فرصت کے وقت مطالعہ کیا کروں گا۔ نیز ظہور کے ساتھ تعاون سے گریز نہ کریں۔ آئندہ کسی دوسرے شخص کے قلم پر خط بھی نہ لکھا کریں۔ میں



ضرور یہ توقع رکھوں گا کہ اسرار، مشتاق، سعیدہ، آسیہ، صالحہ اور عاصمہ کے ساتھ پیار محبت کرتے رہیں گے اور دوسروں کے ساتھ بھی مقابلہ کی جگہ مسامحہ اختیار فرماتے رہیں گے۔ دعا کریں، والسلام

کله چې داجي د جېل نه رها شۀ نو کوڅه کښې او بيا کور کښې د هغوي د راتګ تت غوندې منظر اوس هم زما د سترګو وړاندې وګرځي چې ټول بنديان ډېر خوشحاله وو۔ د داجي څېره سوې سوې ښکارېده۔ دا مې هم ياد شي چې دې مهال کښې زمونږ يوه ترور د حافظ محمد ادريس مور (مرحومه بي بي) راغله۔ داجي ئې په تندي ښکل کړۀ او بيا په ژړا شوه۔ د داجي سترګې هم نمژنې شوې۔

ما کړه پښتو چې اسوېلے نۀ شمه
اوښکې شوم اوښکې په شپېو لاړم
(اسرار)

محترم رفعت پروين يو مضمون (پښتون 1995ء) کښې ليکلي وو۔ د پلار (حافظ محمد ادريس) مې دا خيال وۀ چې عنايت الله ماماجي به ځان سره ايبټ اباد ته بوځي۔ يو څو ورځې به هلته تېرې کړي چې صحت ئې بحال شي نو بيا به طورو ته لاړ شي ـــــ خو "بد ماماجي" (مولانا لطف الله) ونۀ منله او کلي ته ئې روان کړۀ۔

مشر کاکا جي راته وئيلي وو، کله چې د سنټرل جېل هري پور نه يوه ټانګه کښې ښار ته روان شو نو پلار (داجي) سره دې لاس کښې څۀ ټوکره وه۔ د جېب نه ئې راووېسته او سامان کښې

ئې کېښودہ ۔ ما وې " دا څۀ دي؟" وئیل ئې دا د هغه ډوډۍ یوه نمونه ده چې مونږ له به ئې جېل کښې راکوله ۔ مشر کاکا جي ترې هغه ټوکړه واخسته، لکه د کاڼي سخته وه ۔ چرته لرې ئې ګوزار کړه ۔

داجي دې الله پاك وبخښي ۔ د جېل د سختیو، تکلیفونو او کړاوونو ذکر ئې نۀ دے کړے ۔ چرته په خال خال موقعو به ئې یوه نیمه خبره وکړه ۔ وئیل به ئې خدائي خدمت ګاران په اراده تکړه پښتانۀ او په عقیده کلك مسلمانان وو ۔ داسې سختۍ ئې زغملي دي چې عام سړے ئې تصور هم نۀ شي کولے ۔ ما خو به درس ورکولو ۔ نو زما د برخې مشقت به هم زما شاګردانو کوۀ ۔ دا خبره د درګۍ چارسدې محمد عمر خان (کاکا) ما ته یو ملاقات کښې اشارتاً کړې وه ۔ مونږ اګر کۀ په "سي" کلاس کښې وو خو مولانا صاحب ته به ملګریو د قدر احترام او محترم استاد په نظر کتل او هېڅ قسمه تکلیف له ئې نۀ ورکولو ۔ د بي کلاس ملګریو په خصوصي توګه میا شاکر الله د ګوجر ګړۍ به تپوس پوښتنه کوله او د څیز وس پېرزوئینه به ئې کوله ۔

کله چې د اجمل خټك صاحب (1967-68) "دا زۀ پاګل وم" چاپ شۀ ۔ یوه شپه مې د داجي په فرمائش هغوي ته دغه کتاب اورولو ۔ یو ځائے کښې مې کتاب ټپ کړۀ ۔ پوښتنه مې وکړه چې خټك صاحب خو سیاسي قېدي وۀ ۔ اخلاقي مجرم نۀ وۀ نو دا دومره ناروا زیاتي ورسره ولې کېدل؟ دا به شاعرانه مبالغه وي ....! داجي راته ټوکنه وکړه او د خپلو سترګو لیدو واقعه ئې راته بیان کړه چې اجمل خټك د خپلې مور د لیدو په بهانه پولیس ته



داده شوے وۀ چې کور کښې مې "څۀ خفیه دستاویزات" شته دے ۔ پولیس تلاشي وکړه ۔ کور ئې ورله لټ په لټ کړۀ خو هېڅ په ګوتو ورنۀ غلل ۔ "خفیه دستاویزات" چرته وو؟ دا خو اجمل خټك صاحب د خپلې خوږمنې مور د لیدو ارمان راوستے وۀ خو ظالمانو پرې دغه ملاقات هم پېرزو نۀ کړۀ او بیا چې هر څومره موده پس خټك صاحب رها شۀ نو مور ئې د تورو خاورو څادر اغوستے وۀ ۔ "داجي" مې وئیل دغه وخت مونږ اکوړي کښې له ورایه تماشه کړې وه ۔ هتکړیو زنځیرونو کښې تړلے ..... دنګ لوړ اجمل خټك، داسې لیدے شۀ لکه د هډوکو پنجره ۔

"داجي" راته ووې ـــــ "بچے! مونږ خدائي خدمت ګارانو څۀ غلا ډاکه او مرګ ژوبله خو نۀ وه کړې ۔ د چا ملاسته غوا مو نۀ وه پاڅولې ۔ د پېرنګي خلاف مو د ازادۍ جنګ ګټلے وۀ ۔ نو په دغه جرم کښې مو سزا خوړله ۔" بیا ئې یوه واقعه بیان کړه چې یوه شپه مې ګېډه کښې ناڅاپه درد شۀ ۔ ناکاره څړیکې پورته شوې ۔ څۀ په کړاو بهر راووتم ۔ څۀ ګورم چې ټول قېدیان په قطارونو کښې ولاړ دي او د درد د لاسه کروکر دي ۔ نورو بارکونو کښې هم دغه حال وۀ ۔ زۀ "مولانا صاحب" وم ۔ نو الله پاك دې ورله اجر ورکړي ۔ خدائي خدمت ګارو راله وړومبے وار راکړۀ ۔ د حاجت رفع کولو ځائے تنګ تروش او حالت ئې د نۀ وئیلو دے ۔ دغه ټوله شپه دغسې تېره شوه ۔ شبېه په شبېه به پاڅېدو او په ډېره سختۍ به فارغېدو ۔ په سبا له مو چې د یو بل مخونو ته کتل نو داسې به محسوسېده له چې د ګور نه راپاڅېدلي زیړ مخ لاشونه دي ۔ دا ګنګوسه هم خوره شوه چې د وزیر اعلی "خان

اعظم" په حکم بندیوان خدائي خدمت ګارو له په خوراك كښې "څۀ" ورکړې شوي وو ۔ په دغه ورځ وزیر اعلی د جېل دوره کړې وه ۔ د "داجي" د خولې نه مې اورېدلي وو چې هري پور جېل کښې د دوي ځینو ملګريو يوه کنده کنستې وه ۔ دې کښې ئې د ضرورت لږ څۀ ځیزونه چې د بهر نه به په څۀ طریقه رارسېدلي وو ، لکه ګوړه چائ ، چیني ، غوړي ـــ دا به ئې په کښې پټ اېښي وو او د پاسه به پرې د ګلونو يوه ګمله پرته وه ۔ اوس پته نۀ لګي چې مخبر جاسوسي کړې وه ۔ یو قهرژن پولیس افسر د بارك سخته تلاشي وکړه ۔ کله چې بهر وتلو نو ډېر غصه کښې ئې دغه ګملې له لته ورکړه ۔ ګمله چې لړه شوه نو زمونږ د ملګريو عاجزانو غلا هم پیازه شوه ۔

په يوه بله موقع چې تلاشي وکړې شوه نو په قبضه شوي ځیزونو کښې د شاد محمد خان مېږي د شعرونو کاپي هم لاړه ۔ داجي وئیل "ما سره ډېر فکر شۀ چې هسې نا "مېږي" له د چکۍ سزا ورکړے شي خو شاد محمد خان مېږي راله تسلي راکړه چې مولانا صاحب غم مۀ کوه ۔ زما په لاس لیکلي شعرونه صرف زۀ او زما پېریان لوستي شي ۔ د دوي هغه کر نیکۀ پرې هم نۀ شي پوهېدلے ۔

د "چکۍ" سزا به دا وه چې قېدي به يوه تنګه تروشه کوټګۍ کښې بند کړے شۀ ۔ ناسته ملاسته او ټول انساني ضرورتونه به په ګرانه دننه پوره کېدل چې لوے عذاب به وۀ ۔ په دې حقله اهمه واقعه هري پور جېل کښې د قائد اعظم محمد علي جناح ګورنر جنرل پاکستان د وفات وه ۔ احمد ګل کاکا خپل



کتاب کښې لږ غوند ذکر کړے دے ۔ فضل رحیم ساقي صاحب او ناظم سرفراز خان هم خپلو لیکونو کښې دغه واقعې ته اشارې کړې دي ۔ زمونږ داجي (مولانا عنایت الله) یو څو ځله د دې تفصیل بیان کړے وۀ ۔ هغه دا چې ـــ د پاکستان باني او ګورنر جنرل قائد اعظم محمد علي جناح صاحب چې وفات شۀ نو د صوبې وزیر اعلی "خان اعظم" هري پور سنټرل جېل ته حکم راولېږۀ چې ټول قېدیان به د جناح صاحب غائبانه جنازه کوي ۔ امیر جمیعة العلماء سرحد مولانا سید ګل بادشاه صاحب اعلان وکړۀ چې

1. زمونږ د حنفي مسلك تر مخه غائبانه جنازه نۀ شي کېدلے
2. جنازه به هله کوو چې د مړي کټ زمونږ په وړاندې پروت وي ۔
3. مونږ مسلمانان یو ۔ د جناح صاحب د ایصال ثواب د پاره دعا کولې شو او د قران پاك ختم هم کولے شو خو غائبانه جنازه نۀ کوو ۔

جېل کښې والد صاحب مولانا محمد عنایت الله ، مولانا امیر محمد ترخوي څو نور عالمانو او ټول خدائي خدمت ګارانو د مولانا سید ګل بادشاه صاحب د اعلان مرسته وکړه خو جېل انتظامیه د حکم پابند وه نو په خپله ئې داسې حالت کښې جنازه وکړه چې ټول سپاهیان په قطار کښې ودرېدل ۔ چا یو خوا کټل او چا بل خوا او "خانه پُري" وشوه ۔

په دغه جمعه ـــ مولانا سيد ګل بادشاه صاحب يوه زوروره خطبه وکړه او د نااهله واکدارانو د غېر شرعي حرکتونو او ظلمونو ئې په سختو ټکيو کښې غندنه وکړه.

په دغه موقع مشهور خدائي خدمت ګار شاعر عبدالمالك فدا يو نظم اورولے وۀ خو افسوس چې دا نظم محترم عبدالمالك فدا په ''ديوان'' کښې نشته. ښکاره ده چې پوليس به ضبط کړے او ضائع کړے وي. ممکن ده چې داجي چرته په يوه ډائرۍ کښې ليکلي وۀ خو د هغوي زيات شمېر کاغذونه او ډائرۍ وخت تېرېدو سره ضائع شوي دي. د مشرانو خوښندو د خلې به مې اورېدل. دوه درې شعرونه په کښې راته ياد پاتې شوي دي:

دشمن لکه ايرې له قهره وويشتم ډېران ته
هوا رانه سم اور په سمه غر ولګوۀ
منم چې تا زما د سرو ګلونو باغ تالا کړۀ
خدائے ستا په شين چمن باندې صرصر ولګوۀ
کۀ زۀ دې خاورې کولمه نو خبر دے خاورې ومه
اے اوره! ولې تا په خاورو سر ولګوۀ

په دې تقرير مولانا سيد ګل بادشاه صاحب او په دغه شعرونو فدا عبدالمالك له د څوارلس څوارلس ورځو چکۍ تېرولو سزاګانې ورکړے شوے وې.

مشهور عوامي شاعر علي حېدر جوشي صاحب د خپل ژوند اخري موده کښې ما ته بيا بيا دا خبره کوله چې ستا والد



صاحب مولانا عنايت الله صاحب او مولانا ګل بادشاه صاحب دواړه ''نذر عالمان'' وو.

مولانا ګل بادشاه صاحب اووۀ کاله قېد تېر کړے وۀ. دې خو د جمعية العلماء هند صوبائي امير او د مولانا حسېن احمد مدنيؒ خاص شاګرد وۀ خو د باچا خان او خدائي خدمت ګارو سره د جخت تړون سزا ورکولے شوه. (خان اعظم ترې په يوه موقع مسجد قاسم علي خان کښې د خپلو انتقامي کارويو معافي هم غوښتې وه) دا هغه ''مولانا'' وۀ چې د هرې پور سخت جېل کښې ورله ''خان اعظم'' خپل استاځے صوبائي وزير ميا جعفر شاه کاکاخېل ورلېږلے وۀ او د قيوم خان له طرفه ئې ورته د وزارت پېش کش کړے وۀ. مولانا ګل بادشاه صاحب ميا جعفر شاه ته په جواب کښې وئيلي وو:

''کۀ دا پېشکش ما ته ستا ''خان اعظم'' په خپله کړے وې نو زۀ به خفه شوے نۀ وم ځکه چې هغۀ ما نۀ پېژني. ستا په خبره مې زړۀ ته ډېره صدمه ورسېده. ځکه چې تا مونږ سره يو ځائے کار کړے دے او ما ښۀ پېژنې ـــ مونږ ظلم جبر ته چرې ټيټ شوي يو ـــ او نۀ ئې خرڅ شوي يو ـــ''

د هرې پور جېل ځينې نور واقعات، په خصوصي توګه د ''باچا خان '' په حقله چې داجي نه وخت په وخت اورېدلي وو او ما خپلو ليکونو کښې د هغو حواله ورکړې وه. وروستو د باچا خان ژوند ليکنه ''زما ژوند او جدوجهد'' کښې وو، پخلے شوے دے. دومره ده چې باچا خان د اختصار نه کار اخستے دے او والد صاحب به ټوله واقعه ټکي په ټکي ښۀ په تفصيل بيانوله. الله پاك ورله د كمال حافظه وركړې وه. په دې حواله د رهبر

تحريك ښاغلي عبدالولي خان يوه خبره زما نهٔ هېرېږي ـ هغه وخت ''رښتيا رښتيا دي'' كتاب چاپ كېدونكے وهٔ ـ زهٔ اتفاقاً د طورو عبدالمجيد خان اېډوكېټ، عبدالحميد خان اېډوكېټ، حضرت بلال باچا اېډوكېټ او پروېز اقبال سره يو ځائے ''ولي باغ'' ته لاړم ـ ما د ولي خان نه د دغه كتاب باره كښې څهٔ پوښتنې كولې ـ هغوي چې ښهٔ په شګفته انداز كښې تفصيل بيان كړهٔ نو احمد كاكا ورسره زما پېژندګلو وكړه چې ''ولي! دا هلك د طورو د مولانا كشر زوے دے ـ'' عبدالولي خان صاحب د خندا نه په شا لاړ او بيا ئې ما ته ووئيل:

''بچے! تا خو ما سره ګوته وكړه ـ هر كله چې تهٔ د مولانا صاحب زوے يې نو زما نه دې دا دومره تپوسونه ولې وكړل ـ دا ټول هر څهٔ خو مولانا صاحب ته معلوم دي كنه .....''

والد صاحب به راته، هري پور جېل كښې د خان عبدالغني خان باره كښې كله كله خبره نيمه كوله ـ وئيل به ئې غني خان له به خپله بېګم ''روشن'' ملاقات له راتله ـ دا ډېره قابله او زړوره مېرمن وه ـ د غني خان يوه دلچسپه واقعه ما د داجي په حواله د غني خان په حقله يو مضمون كښې بيان كړې ده ـ فرمائيل به ئې:

''خدائي خدمتګارانو د ازادۍ او د جمهوريت په خاطر هره سختي په ځان تېروله خو د خپل محبوب رهنما باچا خان جدائي به ئې نهٔ شوه زغملې ـ يو ځل چرته بل جېل ته ولېږلے شهٔ نو خدائي خدمت ګاران ډېر زيات خفه شول ـ ټوله فضا غمژنه شوه ـ غني خان ورله تسلي وركړه ـ دا تاسو خو ډېر ساده خلق يئ ـ



خامخا بابا پسې خفه يئ ـ كهٔ سبا له مې درله رانهٔ وستهٔ نو بل نوم راله كېږدئ ...... په بله ورځ څهٔ ګوري چې غني خان جوړه كړې د باچا خان مُسكې خندنۍ مجسمه وړاندې كړه ـ ''هن واخلئ دا ستاسو باچا خان ــ''

زړهٔ مې راتننګ په خاموشيو كښې شهٔ
څكه اشنا در نه تصوير غوارم
(حمزه شنواري)

❁❁❁

محمد عنايت الله عفي عنه
17م اپرېل 1949ء

۷۸۲

خوږه وروره ! عزت مند شې او نور چشم اسرارالرحمان طولعمره
السلام علېکم،

يو خط وړومبے هم ما درلېږلے دے۔ امېد دے هغه به تاسو ته وصول شوے وي۔ زۀ خبر نۀ شوم چې ستاسو د مقدمې نتيجه څۀ ووتله۔ د سيد محمد خط ما ته راغلے دے او د ظهور دوه خطونه راغلي دي او هر کله چې ئې ليکلي دي لېکن ما ته په دې اپرېل کښې وصول شو۔ اوس به مونږ ته خطونه هفته وار راکولے شي۔ زۀ به هم کوشش کوم چې هفته واري کارډ راکړے شي نو تاسو ته به ليکم ـــــ او تاسو خامخا هفته کښې دوه خطونه د خېريت را استوئ۔ هلته په تاسو د خدائے فضل دے ډېر منشيان دي ............... (دا خط والد محترم په پنسل ليکلے دے۔ له دې کبله يوه کرښه دومره تته شوې ده چې هډو ولاړېږي نه .... شفق)

..... د خط ليکلو باره کښې يا د خرچ او يا د مرض په وجه غفلت مۀ کوئ۔ سلامت الله، اسرار وغېره دې خامخا د خېر خېريت خبر راکوي۔ د مولانا لطف الرحمان خط هم چرې نۀ راځي او صرف يو خط ئې عيدالاضحیٰ کښې راغلے وۀ۔ يا معلومېږي چې خانګي ګړبړ پېدا شودي دي۔ زۀ خو به خامخا د قانون پابندي کوم لېکن په تاسو پابندي نشته۔ هر څومره خطونه

# د جيل نه
# خطونه

رالیږلي شئ ـ زما خیال وۀ چې ستاسو په خیال کښې به هر وخت
..... وي ـ په دې افسوس راځي چې تاسو په ظهور هغه کار ونۀ
کړۀ ، خدائے خبر چې ستاسو څۀ خیال دے؟ زما یو څادر ته
ضرورت دے ـ د اسرار د تعلیم خیال ضروري دے ـ سید محمد
ته زما سلام او د هغه د یادولو به ووایې ـ مولانا لطف الرحمان
صاحب ته دې واضحه وي چې مونږ هر وخت یا ډېر ډېر خطونه
لیکلي نۀ شو ـ ځکه چې نظر بند ته به وړومبے یوه میاشت کښې د
یو خط استولو اجازت نۀ وۀ ـ اوس رعایت دومره وشۀ چې هفته
کښې به یو وار خط مونږ تاسو ته د خېریت لیکلے شو ـ

محمد عنایت الله



نور چشم اسرار الرحمان طولعمره

پس له دعا نه دې واضح وي چې ستا یوه لفافه راغلې وه ـ جواب ما درکړې وۀ او بیا ستا کارډ راغلو ـ د هغه جواب دا لیکم ـ د خدائے پاك شکر دے چې ستا صحت ښۀ شوے دے ـ زۀ ډېر خوشحال شوم چې تۀ د مدرسې سبق وایې ـ مګر دا هم ضروري ده چې د قران شریف سبق هم قضا نۀ کړې ـ ستا په خط زما تسلي وشوه ـ زۀ چې دلته راغلے یم په څو خطونو کښې مې لیکلي وو چې غفور مونږ سره شته او که نه ـ ستا د خط نه اوس معلومه شوه چې غفور شته ـ ظهور الحق چې زما چوټۍ د پاره درخواست کړے دے، زۀ خبر نۀ شوم چې د هغې به څۀ نتیجه ختلې وي ـ په مشتاق الرحمان ډېره مینه کوه چې هغه خفه نۀ وي ـ صالحه او عاصمه سره هم مینه کوه ـ سعیده، آسیه سره جنګونه مۀ کوه ـ د حافظ سید محمد صاحب خط ما ته راغلے وۀ چې اسرارالرحمان د سبق خیال نۀ لري ـ زۀ به ستا نه ډېر خفه یم کۀ چرې په سبق وئیلو کښې غفلت کوې ـ ما ته د جامو پارسل راغلے دے ـ مولانا ګل بادشاه صاحب جوړ دے، قدرې کمزورے دے او دلته هر څوك کمزورے وي ـ ځکه چې دا بل قسم ځائے دے ـ د منیرې والدې، د خان باچا والدې ته او ټولو مشرانو ته او کشرانو ته زما سلامونه وایه ـ د خان باچا والدې ته د حافظ صاحبزاده مرحوم تعزیت زما د طرف نه ووایه ـ د غله ډېر ابۍ ته دې وایه چې دعا کوې ـ نور زۀ د خدائے تعالی په فضل په خېریت یم ـ (محمد عنایت الله)

## د كارډ په بل مخ

محترم اخویصاحب مولانالطف الرحمٰن صاحب، مد ظلکم السلام علیکم

میں نے گزشتہ ہفتے میں خط نہیں لکھا کیونکہ (اس کارڈ پر) ایک دوست کو لکھا تھا۔ نور چشم ظہور الحق کی زبانی حالات معلوم ہوئے تھے۔ میں نے بھی ان کو کچھ نہ کچھ کہا تھا۔ شاید آپ کو بیان کیا ہوگا۔ میرے پیرول کے متعلق اس نے بھی تذکرہ کیا تھااور آپ نے بھی لکھا ہے۔ شاید سلسلہ ابھی ختم نہیں ہوا۔ مولانا صاحب صدر[1] کی پریشانئ مزاج کے متعلق اخبار میں بھی لکھا ہے۔ اس کا مزاج روبصحت ہے۔ ضعف دماغ کا عارضہ تھا۔ جسمانی آرام کی ضرورت تھی۔ ہسپتال میں آرام ہوتا ہے۔ اس نے بھی چند ایک درخواستوں کی تجویز فرمائی ہے۔ ان باتوں کا تعلق ملاقات سے ہے۔ ملاقات کے وقت عرض کروں گا۔ اسرار الرحمٰن کی صحت اور تعلیم کا خیال رکھا کریں۔ آپ خط لکھ دیا کریں۔ اگر پیرول منظور ہوا تو ظہور دستی لا کر داخل کرے۔ وقت ملاقات پر سید یوسف بادشاہ صاحب، جمعدار صاحب، اہلیان محلہ محمد اسلم خان صاحب اور دوسرے دوستوں کو، خان لالا، عبدالنبی، باز لالا کو بھی سلام قبول ہو۔ از طرف :

محمد عنایت اللہ

1949-5-18

[1]: مولانا سید گل بادشاہ صاحب رحمۃ اللہ علیہ



4م جون 1949ء

زما د سترګو توره! اسرار الرحمان

صالح شې!

د ډېرې دعا او ياد نه پس تا ته ليكم چې ستا د ناجوړتيا نه خبر شوم دعا مې ستا د صحت د پاره كوله او كوم. ستا به ضرور ګيله شوي وي چې ستا د علاج او تپوس ذمه واري ما پوره نۀ كړه ليكن د خيګر ټوټې ! په ژوند كښې داسې حالات او واقعات انسان ته پېښېږي او په دې كښې د قدرت حكمت وي او په حقيقت كښې د خدائے د لوري دا يو امتحان وي. همېشه سړے په خپل خيال او په خپله خوښه كار نۀ شي كولے بلكې معذور شي. زۀ هم معذور وم چې ستا علاج او تپوس مې ونۀ كړے شۀ. خدائے پاك شافي دے. زما دا امېد دے چې ستاسو په همت كښې به هېڅ فرق نۀ وي او نۀ پكار دي چې فرق راشي. بلكې همېشه په دنيا كښې لكه د بهادر غوندې تكليف سره مقابله كول پكار دي. د صبر په نتيجه كښې ډېرې خوشحالۍ وركولے شي. خدائے ته چې په هره طريقه يوه معامله كېدل منظور وي هغه معامله هم هغسې كېږي او هېڅ تدبير هغه په بله طريقه نۀ شي كولے.

ستا مشر ماماجي او مشر كاكاجي او نور مشران تا سره دي هغه به ټول ستا د علاج كوشش كوي، خدائے به دې جوړ كړي.

ستا د خپل قلم خطونه چې ما ته راغلي وو، زۀ ډېر خوشحاله شوے وم. دلته زما نورو دوستانو ته مې ستا خطونه

وښودل ۔ ټولو تا ته دعا کوله او آفرین ئې وئیلو ۔ خدائے دې تا زر تر زره جوړ کړي چې بیا بیا په خپله ما ته خط رالیږې ۔ ستا خط کښې د ټولو لویو وړو د خیریت حال لیکلے وي ۔ د بل چا په خط کښې نۀ وي ۔ تا لره ضرور پکار دي چې پرهېز کوې ۔ مشتاق الرحمان، سعیده، آسیه، صالحه، عاصمه، بابوشا، مهرالنسا، سلامت الله، شرافت الله، د شرافت الله همشیره، باچا او ستا مشر مامامي او کاکاجي او کشر ماماجي، عبدالنبي، سمیع الحق او ټولو مشرانو او کشرانو ته زما دعا او سلامونه وایه ۔ غفور به امېد دے چې تاسو سره وي ۔ هغۀ سره دار مدار کوئ ۔ ستا استاد حافظ سید محمد ته هم زما سلام وایه ۔ د دې خط جواب زر ما له راکوئ ۔ مولوي صاحب[1] تاسو ته سلام وایي ۔ هغه جوړ دے.

[1]: مولانا سید گل بادشاه صاحب د طورو

نورِ چشم اسرار الرحمٰن
طالب علم جماعت سوم



از هري پور سنټرل جېل
هزاره
7مه جولائی 1949

نورچشم محمد امانت الله طول عمره

السلام علیکم: د خدائے په فضل ما ته خیریت دے ۔ ظهور تعمیل کړے وۀ مطمئن اوسه ۔ ستا دواړه خطونه ما ته راغلي دي ۔ البته د خط په وصولۍ کښې تاخیر وشي ۔ ځکه چې سنسر کولے شي ۔ ستا د یوې عهدې نه بلې عهدې ته تبدیل کېدل د ترقۍ خبره ده ۔ الحمد لله ۔ خدائے دې ترقي درکړي او خدائے دې د افتونو نه په امن لره ۔ کله چې د وزیر اباد نه پاك پټن ته لاړ شې نو د هغې مقام پته ما ته ولیکه ۔ غالباً چې د چوټۍ منظوري دې هم د تبدیلۍ صورت کښې وشي ۔ نو کۀ چرې کلي ته راغلے نو هم به خط راولیږې ۔ اخویصاحب ته خط استوه او هغۀ ته تحریر کړه چې ظهور په واقع کښې زمونږ دے ۔ هغۀ ته کار حواله کول د احسان او منت نۀ دي ۔ ما ته دا معلومه شوه چې ظهور په تدبیر زما امداد وکړي ۔ مګر اخویصاحب هغۀ ته تکلیف ورکوي ۔ زۀ په دې پوهېدلم کله چې زۀ قید شوم نو زما خیال وۀ چې هر څۀ چې دي صرف اخویصاحب ته به لیکم ۔ ډېره موده مونږ خط کتابت قانوناً نۀ شۀ کولے او چې خط به راکړے شۀ نو اخویصاحب ته به مې لیکلو لېکن د اخویصاحب مزاج خو عجیبه دے ۔ د تریاق از عراق ...... مسئله ترې نه هر وخت جوړېدله ۔ بیا مې سلامت ته په تاکید تاکید ولیکل ۔ هغۀ هم د پلار نه دوه قدمه وړاندې دے ۔ مولانا لطف الرحمان صاحب ته زما خوښه نۀ وه ځکه چې وخت نازك وۀ ۔

ظهور هر چې تدبير کړے دے کامياب شوے دے ـ يو بل خط کښې به درته تفصيل وليکم ـ په دې کارډ کښې ځائے ختم شۀ ـ

محمد عنايت الله

حافظ محمد امانت الله ټکټ کلکټر

وزير اباد ريلوے اسټيشن

✿✿✿



۷۸۲

جناب مولانا لطف الرحمان صاحب و نورچشم اسرارالرحمٰن

دعاـــ ستا خط راغلو ـ شکر دے ، خدائے د مرض نه جوړ کړے ـ پرهېز کوه ـ حافظ جسيم الدين صاحب او امير محمد د هوتي رها شوي دي ـ تاسو سره به ئې ملاقات کړے وي ـ حال احوال به ئې تاسو ته وئيلي وي ـ امېد کوم چې حافظ صاحب به ستا د علاج، کۀ چرې ضرورت وي امداد وکړي ـ دلته په رمضان شريف کښې ډېره ګرمي شروع شوې ده ـ مونږ د سه شنبې په ورځ روژې نيولي دي ـ مشتاق او عاصمه پېښمني ته پاڅوه او قهر غصه ورته مۀ کوه ـ تا ليکلي دي چې د بيمارۍ په وجه مې تعليم قضا شۀ ـ خدائے دې صحت درکړي چې جوړ شې نو بيا به سبق وايې ـ ډېره ګرمي ده ـ صالحه دې په لارو کوڅو کښې نۀ ګرځي چې د مدرسې نه کور ته راشي نو کور کښې دې وي ـ په جوابي خط کښې ما ته وليکه چې حافظ صاحب طورو ته درغلے وۀ او که نه ـ دا هم وليکه چې د خټکو باغونه ستاسو وو او کۀ نۀ وو ـ د قاسم اجاره وصول شوې ده او کۀ نه ـ ما ته معلومه شوې ده چې دېره هر وخت خرابه وي ـ ستا د کشر کاکاجي خط ما ته راغلے وۀ، هغۀ ليکلي دي چې د وزير اباد نه پاك پټن ته ئې تبديلي وشوه او د ټي ټي په عهده مقرر شۀ ـ يعنې ترقي ئې وکړه ـ خدائے دې ورله نوره ترقي هم ورکړي ـ اٰمين ـ په وړومبني خط کښې چې مې د چا نومونه ليکلي وو هغو ټولو ته زما دعا او سلامونه وايه ـ سعيده

ته ووایه چې ښکلې جامې راته جوړې کړي ۔ اٰسیه، صالحه، مشتاق، عاصمه ټول دې ما ته دعا کوي او زهٔ تاسو ته دعا کوم ۔

ستا محمد عنایت الله غفي عنه

49-7-12

✿✿✿

(د کارډ په بل مخ)

زما عزت منده مشره !

السلام علیکم

یوه هفته وشوه چې د ظهور خط هم نهٔ دے راغلے او ستاسو هم نهٔ دے راغلے ۔ د اسرارالرحمان هم نهٔ دے راغلے ۔ موانع دې په خیر وي ۔ مونږ ته دا کارډ په دریمه هفته صرف یو راکړے شهٔ ۔ د حاجي محمد اسلم خان صاحب خط ما ته راغلے دے ۔ مګر دلته د کارډونو قحط دے ۔ په موقع به هغهٔ ته هم جواب ورکړم ۔ زهٔ په عجیبه تفکر کښې ګرفتار شوے یم ۔ زما د مشر لالا یو خط راغلے وهٔ په هغه خط کښې مضمون وهٔ ۔ پوره دوه هفتې به هغه خط ما کتلو ۔ بیا د اسرار یو خط راغے ۔ ما ته معلومه شوه چې نن داسې وخت راغلے دے چې د علمي خاندان او د بې علمه خاندان هېڅ فرق په طرز معاشرت کښې نشته او د تجربه کار او بې تجربې سړي هم د زندګۍ معیار په پورته کېدلو شروع دے ۔ د امداد باهمي جذبه تلونکې ده ۔ دا یو حقیقت دے چې حلیم طبع سره هر څوک ګزاره کولے شي ۔ کامیابي هغه ده چې سخت طبع سړي سره ناکام وکړے شي ۔ زما طمع وه چې ظهور به



د عیدالفطر نه وړومبے یا عیدالفطر سره راشي ۔ زهٔ ورته ډېر په انتظار وم ۔ د امانت الله تبدیلي شوې ده ۔ مګر ما ته معلومه نهٔ ده چې د وزیر اباد نه تللے دے که نه ۔ په هره شنبه او سه شنبه مونږ ته ستاسو راغلے ډاك راکولے شي ۔ تاسو خامخا په داسې تاریخ خط لیکئ چې په دې تاریخ مونږ ته رسي ۔ رمضان شریف تېر شهٔ ۔ د خدائے په فضل زما صحت ښهٔ دے ۔ بارانونه ورېږي ۔ موسم خوشګوار دے او دلته اختر د جمعرات په ورځ وهٔ ۔ یار محمد ته هم ما خط لیږلے وهٔ ۔ ظهور ته فهمائش وکړئ چې هغه زما کار وکړي ۔ ټولو دوستانو ته زما سلام وایئ ۔

محمد عنایت الله

12-7-1949

محمد عنایت اللہ غفی عنہ

از ہری پور

49-7-13

محترمی اخویصاحب مدظلہ

بعد از طریقہ مسنونہ واضح ہو کہ آپ کا خط عرصہ کے بعد آیا۔ آپ نے ارضیات کی کمی اور پولہ شگنی کے متعلق جو تحریر فرمایا ہے، یہ واقعات جائداد کے سلسلے میں ہمیشہ پیش آتے رہتے ہیں اور صاحب جائداد اچھے طریقے سے معاملہ انجام کو پہنچاتے ہیں۔ خانگی طور پر اور اگر نہ ہو سکے تو مقدمہ دائر کر کے اپنے حق کا تحفظ کرتے ہیں۔ اگر عبدالحکیم اجارہ دار، اجارہ دینے سے انکاری ہے تو اس کے ساتھ بھی کچھ فیصلہ کرنا ہے۔ یہ معاملات مجھ پر موقوف نہیں ہیں۔ باقاعدہ نوٹس دے کر اپنا حق محفوظ کر لیں۔ میں بھی ان شاء اللہ جلد آنے والا ہوں۔ آپ قبلہ گاہ صاحب مرحوم کی جگہ پر میرے حق اور میری اولاد کے حق میں ہیں۔

سوچنے کی بات ہے، ہمارے اکابر نے ہمیشہ عزت کی زندگی بسر کی ہے۔ ہمیں ان کے نقش قدم پر چلنا ضروری ہے۔ اسرار کو میرا یہ خط دے دیں کہ وہ پڑھ لیویں۔ اسرار کے لئے حافظ جسیم الدین نے دوائی تجویز کی ہے؟

❀❀❀



د کارډ بل مخ

چونکې مونږ پابند یو ، له دې وجې نه تاسو لره مناسب نهٔ دي چې مونږ سره ضد وکړئ ۔ بعضې ضروریات یواځې په خط موقوف نهٔ دي ۔ دا خط زما ټولو مشرانو او کشرانو ته دے ۔ زهٔ چې درشم چې کله خدائے ته منظوره شي نو هر صاحب به وایي چې زما ډېر یاد وے مګر خدائے ته هغه صاحب معلومېدے شي۔

زهٔ په خېریت یم ۔ درس ورکوم ۔ د قران ترجمه، مشکوٰۃ، تفسیر، شرحه وقایه زما درس کښې شامل دي۔

په صالحې، مشتاق، عاصمه خصوصي نظر کوه ۔ سعیده، اٰسیه دې د مور اطاعت کوي ۔ د امانت الله خط راغلے دے۔ روغ جوړ دے۔ والسلام

اخویصاحب مولانا محمد لطف الله صاحب

نورچشم اسرارالرحمان

❀❀❀

زما عزیزه اسرار الرحمانَ عمر دې ډېر شه!

دعا ـــــ ستا خطونه راغلي وو. مونږ سره کارډونه نۀ وو. ځکه په جواب کښې تاخیر وشۀ. ستا چې هر څۀ مراد وۀ، ما ته هغه معلوم شۀ. دې کښې شك نشته چې تاسو ته به تکلیف وي لېکن دې تکلیف سره به تاسو ته لویه تجربه هم حاصله شي. خدائے دې تا ته حوصله درکړي. مشران کۀ چرته تا سره مینه نۀ کوي مګر تا ته ضروري ده چې د خپل مشر ادب تعظیم به کوې نو خدائے به ستا امداد کوي. په ژوند کښې نرمې ګرمې راځي. د زړۀ غم مۀ کوه. حوصله بلنده لره. په مناسب خپل تعلیم قضا نۀ کړې. امېد دے چې حافظ صاحب به تا سره ملاقات کړے وي. سید محمد ته زما د طرف نه مبارکباد ووایه. مشر کاکاجي او باز ماماجي او ستا همشیرګانو ته زما سلامونه وایه. خط رالېږه او حالات لیکه. دعا کوئ. زۀ به هم دعا کوم. د امانت الله کاکاجي پته ولیکه.

فقط والسلام

ستا

محمد عنایت الله

2-8-49

❀❀❀



۷۸۶

از طرف محمد عنایت اللہ

3-8-49

محترمی جناب اخویصاحب مدظلہ

بعد از طریقہ مسنونہ عرض ہے۔ غالباً چند دنوں سے میں نے خط لکھنے میں دیر کی ہے۔ وجہ یہ تھی کہ ہمارے پاس کارڈ نہ تھا۔ رمضان شریف بخیر و خوبی گزر گیا۔ یہاں بارشیں نہیں ہے۔ موسم ٹھنڈا ہے۔ خدا کے فضل سے موجودہ حالت میں مجھے مرض کی کوئی شکایت نہیں ہے۔ شغل تدریس کر رہا ہوں۔ فقہ کی چند کتابیں اور ترجمہ قرآن شریف میرے ذمے ہے۔ مشکوٰۃ شریف باب الحساب والقصاص والمیزان تک پڑھایا۔ عنقریب مشکوٰۃ شریف ختم ہونے کو ہے۔ بعض شاگردوں نے ہدایہ طلب کیا ہے۔ اگر پونچا تو ان کو ہدایہ پڑھانا شروع کروں گا۔ یہاں کتابیں علوم دین کی نہیں ہیں جو کچھ بھی میسر آئے ان میں شغل مطالعہ کرتے ہیں۔ آپ کی بعض تکالیف پر مجھے بھی صدمہ پہنچا ہے، لیکن قدرت کے فیصلے کا انتظار کرنا لازمی ہے۔ مقدرات الٰہیہ کے بغیر کچھ بھی نہیں ہو سکتا۔ میں نے ایک خط میں آپ کو معاملات کے متعلق عرض کیا ہے۔ نیز محمد اسلم خان صاحب کو بھی ایک خط لکھا تھا۔ آپ نے محمد اسلم خان صاحب کو جو کچھ بھی فرمایا ہے، آپ کو وہی مناسب معلوم ہوا ہو گا۔ میں کیا کچھ کر سکتا ہوں۔ آپ کی طبعیت میں جس قدر بھی ناراضگی قہر یا غصہ ہے۔ میرا کوئی قصور نہیں۔ خدانخواستہ مجھ سے قصور سرزد ہو جائے تو پھر بھی آپ بڑے ہیں۔ آپ پر

لازم اور واجب ہے کہ بچوں کے ساتھ محبت اور پیار کریں۔ اگر آپ کنارہ کشی کریں گے تو یہ امر پسندیدہ نہیں ہے۔ عنداللہ اور عندالناس یہ رویہ باعثِ مواخذہ ہوگا۔ ہر ایک خاندان اور افراد میں ایسی کشمکش ہمیشہ سے پیدا ہوتی رہی ہے لیکن بُغض اور نفرت پر قائم رہنا اہل علم کے لئے شائستہ عمل نہیں ہے۔

میں نے سنا ہے کہ ظہور آنے کو ہے۔ مہربانی کرکے ان کو تصریح اور شارح عصمت اللہ دونوں حوالے کریں۔ فرصت کے وقت مطالعہ کیا کروں گا۔ نیز ظہور کے ساتھ تعاون سے گریز نہ کریں۔ آئندہ کسی دوسرے شخص کے قلم پر خط بھی نہ لکھا کریں۔ میں ضرور یہ توقع رکھوں گا کہ اسرار، مشتاق، سعیدہ، آسیہ، صالحہ اور عاصمہ کے ساتھ پیار محبت کرتے رہیں گے اور دوسروں کے ساتھ بھی مقابلہ کی جگہ مسامحہ اختیار فرماتے رہیں گے۔ دعا کریں۔ والسلام

محترم جناب اخویصاحب مولانا محمد لطف اللہ صاحب

ونور چشم اسرار الرحمٰن

❁❁❁



نورچشم اسرار الرحمان طولعمره

ستا خط ورومبے راغلے وۀ . د اختر ، او د اختر نه وروستو ستا خط نۀ دے راغلے. ما سره عيدکارډ نۀ وۀ مگر تا هم عيد کارډ راونۀ لېږلو او دا هم وليکه چې سيد محمد نکاح د چا په کور کښې وکړه چې هغۀ ته ومبارکي ولېږم. تۀ ورته ووايه.

د سبق حال هم راته ليکه. خفګان مۀ کوه. زر به خدائے خېر کړي. د مشرانو ادب کوه. مشتاق، صالحه، عاصمه سره مينه کوه. جنګونه مۀ کوه. عبث مۀ ګرځه.

ظهور ته ووايه چې تا ليکلي وو نو ملاقات له لاړ شه. کشر کاکاجي ته دې هم خط کله کله لېږه. صالحه په کوم کلاس کښې سبق وايي. خط ليکلے شي او که نه.

**يادګيرنه:** والد صاحب دا خط په اتم اګست 49ء ليکلے دے خو د ډاك خانې مهر پرې د 25م اګست لګېدلے دے.

❁❁❁

49-8-9

محمد عنایت اللہ

از ہری پور جیل

جناب محترمی اخو یصاحب مدظلہ

السلام علیکم۔ خیریت دو طرفہ نصیب ہو۔ آپ کا مورخہ 2 اگست کا لکھا ہوا خط مجھے موصول ہوا۔ خداوند کریم کا شکریہ ادا کیا کہ آپ نے تحریر فرمایا ہے کہ ہر قسم کا اطمینان اور تسلی ہے، مجھے بھی تسلی ہوئی۔ کاشتکار اور اجارہ دار لوگ اسی زمانہ میں عموماً بے وفا ہوتے ہیں اور معاملات میں بدعہدی کرتے ہیں۔ عبدالحکیم کے بارے میں یہ باتیں لکھ رہا ہوں کہ آپ کو تکلیف ہوئی۔ کسی طریقہ سے آہستہ آہستہ وصول کیا کریں۔ بہتر تو یہ ہوتا کہ جس فصل میں بھی ہو جب خرمن تیار ہو جاوے زرِ اجارہ کا مطالبہ کرنا ضروری ہے۔ جنس کی صورت میں جو کچھ آمدنی ہو علی الحساب وصول کرنی چاہیئے۔ اگر یکمشت ممکن نہ ہو سکے تو قسط وار وصول کرنی چاہیئے۔ خیر، آپ جانتے ہیں اور آپ کا تجربہ بھی ہے۔ میں یہاں سے کیا رائے دے سکتا ہوں۔

امانت اللہ کا کوئی خط ماہ رمضان سے ابھی تک مجھے نہیں ملا، اس کا پتہ مجھے تحریر کریں۔ میرا انتظار تھا کہ ظہور الحق ملاقات کے لئے آئے گا۔ آج سہ شنبہ ہے۔ امید تو ہے اگر نہیں آیا ہو تو اس کو توجہ دلاویں۔ یہاں سے ایک آدمی تو اب کشمیری سکنہ معیار کا رہا ہوا ہے۔ اس کو میں نے خیریت کا حال کہا ہے۔ وہ بھی آپ کو ملے گا۔ ان شاءاللہ۔ آپ کے کاندھوں پر ذمہ داری ہے۔ چھوٹوں اور ناتجربہ کاروں سے آپ ناراض نہ ہوا کریں۔ اگر آپ کو اندرون خانہ معاملات میں تکلیف نہ ہو تو میں انشاءاللہ مطمئن ہوں گا۔ بچوں اور دوسروں کی تربیت



کے آپ ذمہ دار ہیں۔ چاہیئے کہ وہ خوش ہوں۔ آپ خط ہفتہ میں لکھ دیا کریں۔ میں نے چند خطوط آپ کے نام بھیجے ہیں مگر جواب ایک کا بھی نہیں آیا۔ صرف موضع نودہ علاقہ رجڑ والے آدمی کی زبانی سوال جواب آپ نے تحریر فرمایا ہے۔

فقط والسلام



رئيس الحفاظ علامه حافظ محمد عبدالجميل صاحب 1864-1946



هُد هُد سلیمانی، مولانا حافظ لُطف الرحمٰن صاحب 1901-1965





مولانا حافظ محمد امین الحق صاحب 1904 -1981



مولانا لُطف الله صاحب 1905 -1986



محمد امین خوګیاني صاحب (تصویر 1940) کابل



حافظ محمد ادریس صاحب
1910-1965



حافظ امانت الله صاحب
1915 -1979





خزینة الادب، محمد ظهور الحق صاحب 1924-1995



مولانا عنایت الله د طورو، د خپلو نمسو سره